# د تاریخ د پرش برخې:

## د هغو خلکو کیسې چې کډوالۍ ته اړ یستل شول

امتیاز: پرسش څېړنیزه او مطالعاتي موسسه

تدوین: علي شبر شهیر

Porsesh Research & Studies Organization



# د تاریخ دېرش برخي:

## د هغو خلکو کیسې چې کډوالۍ ته أړیستل شول

تدوین: علي شبېر شهیر

امتیاز: پرسش څېړنیزه او مطالعاتي موسسه

Porsesh
Research &
Studies
Organization

# د تاریخ دېرش برخې:
## د هغو خلکو کیسې چې کډوالۍ ته اړیستل شول


خپرندوی: پرسش څېړنیزه او مطالعاتي موسسه
تدوین: علي‌شېر شهیر
د کتاب او پښتۍ ډیزاین: حمید فیدل
انګلیسي ژباړه: بسم‌الله علي‌زاده
پښتو ژباړه: نصرت‌الله الهام



**د چاپ حق له خپرندوی سره خوندي دی**

د افغانستان هغو غیر مسلمو لږکیو ته چې د پیړیو په اوږدو کې نسل په نسل ټکول شوي او په چوپتیا یې په دې هیواد کې ژوند تجربه کړی.

# لیکلړ


منته .................................................................................. ۹

سریزه ................................................................................ ۱۳

دویمه درجه ژوند؛ له خپل هیواده په زوره شړل شوی ....................... ۱۷

د دیني زده‌کړو په ساعتونو کې یې پر مورږ فشار راووړ چې مسلمانان شو ........ ۲۰

«خدای هر انسان، انسان پیدا کړی، خو مورږ پر هندو او مسلمان سره وېشلي» ............. ۲۳

د ښوونځي اداري زما شکایت ته پاملرنه و نه کړه، ځکه چې زه هندو وم.......... ۲۷

«مورږ هیڅکله تسلیم نشو» ............................................................ ۲۹

په سخته مو کولی شول ساه واخلو.................................................. ۳۹

«زمورږ مخامخ ژوندي وسوځېدل».................................................... ۴۳

په کابل کې د هندوانو او سیکانو لپاره د یواځني ښوونځي دروازه هم وتړل شوه .......... ۴۷

کله چې یې زما ورور وواژه، قاتل وویل: «څه یو هندو، څه یوه مرغۍ».............. ۴۹

زمورږ بې کسي د هغوی د باج اخستلو لپاره یو فرصت و............................ ۵۳

پوهیږي چې زه څوک نه لرم، خپل قرض څلور برابره غواړي .......................... ۵۷

«عادي ژوند درلودل مورږ لپاره یو ارمان دی» ............................................. ۶۱

زه یې په هماغه ورځ وژلی یم .......................................................... ۶۳

اووه کاله یواځیتوب ........................................................................ ۶۷

په یوې نوړۍ ډوډۍ مو قناعت درلود، هغه هم پاتې نشوه........................................۶۹
«له درده ډک ژوند»........................................................................۷۳
مرکه کول مې وضعیت لا خرابوي..............................................................۷۷
مونږ تبعیض سره بیل کړو....................................................................۷۹
یوازې د تیږو ویشتل په ځورونې بدل شوي.........................................................۸۳
«هیڅ وخت مې ځان د وطن پرېښودو لپاره دومره مجبور نه و احساس کړی»..............۸۷
په زوره یې رانه ګوتې ولګولې او زما کور غصب شو..............................................۸۹
په تېرو لسو کلونو کې مو حتا یو تن هندو یا سیک د پوهنتون سند نه دی ترلاسه کړی......۹۳
فتوا یې ورکړې وه چې پر کافرانو تېری روا دی......................................................۹۷
په خپل هیواد کې پردي یوو.....................................................................۱۰۱
موږ اړیستل شو چې لس کاله ګناه وکړو...........................................................۱۰۳
کاش موږ هم کولای شوای لویې هیلې ولرو.......................................................۱۰۷
فتوا یې ورکړه؛ مسجد سره نږدې د هر هندو کور باید وسوځول شي.............................۱۱۱
«د طالبانو تر شکنجې لاندې مې مرګ حس کړ».................................................۱۱۵
هرچا ته خپل وطن کشمیر دی..................................................................۱۱۷
د عمر تر پایه به د ډاکټر کېدو ارمان کوم.........................................................۱۱۹



## مننه

دا کتاب د یو متعهد ټیم د هڅو او کړاوونو پایله ده چې په ډېرو سختو شرایطو کې یې ډېر سخت مسوولیت ومانه، او او د څو ځیرېنیزو - فرهنګي کارونولپاره یې انرژي ولګوله او وخت یې مصرف کړ. دې ټول ځیرېنیز کار چې په پنځو برخو ویشل شوی، دوه کاله وخت یې ونیو، او د دې پروژې وروستۍ برخه کې د طالبانو په لاس د کابل دردوونکی سقوط رامنځته شو؛ هغه پېښه چې دغه فرهنګي کار یې جدي اغېزمن کړ، او ډېری همکاران د خپل کار له پایلې نهیلي شوي ؤ.

په دې کتاب کې د افغانستان د هندوانو او سیکانو د ژوند دېرش کیسې په واقعیت کې د دې قومي– مذهبي اقلیت شفاهي تاریخ دی، چې کلونه یې د تبعیض درد لیدلی او د تحقیر داغ یې پر تندِه لګېدلی. دا دېرش داستانونه د کندهار، ننګرهار، غزني، کندز، هلمند، پکتیا، پروان او لغمان په ګډون د افغانستان په لسو ولایتونو کې او په هغو هیوادونو کې چې دوی پکې په وروستیو کلونو کې مهاجر شوي دي، لکه هند، کاناډا، بریتانیا او استرالیا کې له دې قومي اقلیتونو سره حضوري مرکې دي.

له ټولو مرکو څخه چې د دې کتاب په دې کاري موده کې ترسره شوې دي، دا دېرش داستانونه د کتاب د حجم له امله چې په درې ژبو؛ فارسي، پښتو او انګلیسي لیکل شوي دي، انتخاب شوې دي؛ د هغو مرکو شمېر چې په دې موده کې ترسره شوې دي، ممکن

۱۰۰ مرکې وي.

دا کتاب او په ټوله کې د دې څېړنیز کار پینځه برخې چې په دې کې د افغانستان د هندو او سیک لړه کیو د ژوند مستند هم راځي د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ له پرځیدو د اشرف غني د واک تر پایه د افغانستان د دې اوسیدونکو د ټکولو او اجباري کډوالۍ په اړه یوه ستره څیړنه ده، چې د افغانستان د هندوانو او سیکانو د پټو او ښکاره ګوټونو داستان بیانوي، او د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ له نسکوریدو د اشرف غني د واک تر پایه د مهمو پیښو، اغیزناکنو بدولونو، امنیتي پیښو او حقوقو او قانوني اقداماتو څخه تر سلو زیات انځورونه او د معلوماتو ډیټابیس یا بانک لري. دا ډول د هغو همکارانو او عزیزانو د هڅو پایله ده چې دلته مناسبه ده د پرسش څېړنیزې او مطالعاتي موسسې په استازولۍ له ټولو یو په یو د دې انساني-فرهنګي کار مننه وکړم.

د پرسش څیړنیزې موسسې له رئیس ښاغلي احسان شایګان څخه له زړه مننه چې د دې پینځو څیړنیزو کارونو په سر کې و، او په تدبیر سره یې د هرې برخې د تنظیم او همغږۍ مسوولیت پر اوږو واخیست او مدیریت یې کړ.

په دې موسسه کې له ټولو ډېرو ښو همکارانو مننه چې حتا د طالبانو په لاس د کابل له سقوط وروسته یې هم هیله و نه بايلله؛ له کابل او د نړۍ له نورو برخو څخه چې دوی پکې کډوال شوي ؤ، همت یې وکړ او دا څیړنیز کار یې بشپړ کړ.

د افغانستان د اطلاعات و فرهنګ پخواني وزارت، د قومونو او قبايلو وزارت، د افغانستان د هندو او سیک ټولنې د استازو، نرندر سینګ خالصه، انارکلي هنريار او د جمهور رئیس پخواني مشاور سدپال سینګ خالصه څخه مننه. د مېرمن کلثوم رضايي هم مننه چې له هیواده بهر مرکې یې تنظیم کړې.

له ښاغلو بسم الله علیزاده او نصرت الله الهام څخه هم د زړه له تله مننه چې دا داستانونه یې په انګلیسي او پښتو ژبو وژباړل او د امانتدارۍ او د ژباړې د مسلکي صلو په رعایت کې یې زیار وویست، دا چې د دې کتاب محتوا په لویه بڼه د ډېرو خلکو لپاره په کور دننه او بهر د پوهې او درک وړ ده، په دې کې د دې دوو ښه فکره انسانانو منندوی یوو.

له لیکوالې او د ښځو د حقونو فعالې مېرمن حمیرا قادري څخه په حساسو، له اندېښنو او بوختیاوو ډکو وختونو کې د دې کتاب د مقدمې لیکلو او یو نظر کتلو خورا مننندوی یوو، چې د اګست په میاشت کې د طالبانو په لاس د افغانستان له سقوط سره هممهاله د هغې په څېر د هرې فعالې ښځې لپاره له خطره خالي نه ؤ.

د جلد ښکلا او په کتاب کې د متن د غوراوي لپاره د کتابونو، مجلو او چاپي متونو د نوموتي ډیزاینر ښاغلي حمدید فیدل د سترو پوروړي یوو. زموږ دې ښه دوست ته په مینه او درناوي.

او په پای کې د دې څېړنیزې پروژې د مالي تمویل، په ځانګړي ډول د دې کتاب د چاپ د بوجې تمویل لپاره د جامعه باز بنسټ څخه مننندوی یوو.

په درناوي

علي شبر شهیر، د کتاب لیکوال



## سریزه

زه په جلال آباد کې زېږېدلی یم. جلال آباد کې لوی شوی یم. زما د زېږېدو ځای او زما ټاټوبی زما د وجود نه بېلېدونکې برخه ده. بل هیڅ ځای ما ته له خپل هیواد څخه ګران نه دی. که څه هم زه ترې لرې اوسېږم خو زما زړه لا هم د خپل هیواد لپاره درزیږي.

ځوان ګوردیپ سینګ په خلوص د هغې سیمې کیسه کوي چې مینه او خواخوږي ترې تروړل شوي - خو خپل نوم نه اخلي. په دې کیسو کې ډېری نومونه مستعار دي. دا یو دردوونکی پیغام لیږدوي او هغه دا چې د خپل نوم ښودلو او ښکاره کېدو څخه وېره لا هم شته.

د دې ټولګې له لوستلو وړاندې ما ګومان کاوه چې ما په کور دننه او بهر ټولې هغه بدبختۍ تجربه کړي چې یو انسان ترې تیریږي؛ جګړه، غربت، جنسیتي او قومي تبعیض، ناغوښتل شوې او نه ختمېدونکې کډوالي. خو د دې ټولګې په کرښو کې چې کوم درد پروت دی زما سترګې یې پرانستې چې جګړه نورې ډېرې بدبختۍ هم لري، چې انسانان ورسره مخامخ کیږي.

افغانستان د کیسو او دردونو وطن دی. زمونږ د هغو عزیزانو وطن دی چې اوس موږ سره نشته، د هغو لارو وطن دی چې د انسانانو په جسدونو پایي. دا د تشو کورونو، لویو هدیرو، نه ختمیدونکو غمونو، او تل منتظرو سترګو وطن دی.

زه څه نشم کولی خو اعتراف کوم چې د دې ټولګې د هرې پاڼې په لوستو عصباني شوم. په دې ټولګه کې د انسانانو پېښې او ښکاره بدبختۍ زه داسې تر اغېز لاندې راوستم لکه د لويو دېرو له سیلاب سره چې مخامخ یم. په دې ټولګه کې توري ساده ښکاري، خو د تورو کندو په څېر دي چې د جهل په ځنځیرونو کې د خواخوږۍ له مرګ وروسته د یو پرېښودل شوي لوري کیسه کوي. څوک دومره ظالم کیدلی شي چې په مینې او خواخوږۍ پسې بېلچې راواخلي او تبرونو ته لاس کړي چې یوه نه ختمېدونکې توره کنده وکني؟

کرنجي ګپا هغه شپه یادوي چې طالبانو پر کافرانو جنسي تیري ته اجازه ورکړه. هغه وايي چې نیکه يې هڅه وکړه په تش لاس د کورنۍ د نجونو عزت خوندي کړي. کرنجي اوس ځوان دی او د دې پېښې له ځایه ډېر لرې اوسیږي، خو هغه درد او غم یې لا هم ځوروي او د هغو غمونکو شپېو د یادولو پر مهال هیجاني کیږي.

ستنام سینګ هڅه کوي په مهربانۍ او ورین تندي د خپل چاپېریال د خلکو نامهرباني له نظره وغورځوي. خو درد او غم په خپله د هغه له خولې راوځي: «دوی ما ته (هندو کچالو) غږ کوي، او کاڼي راولي.» ستنام سینګ له ۱۲۰ کورنیو څخه پاتې یواځنی تن دی چې په هلمند کې مېشته وې. په هر حال، هغه لا هم په ښار کې له ترل شوي درمسال څخه په هیواد کې د سولې لپاره دعا کوي.

درشان سینګ له کامرې داسې وېرېږي لکه له ټوپکه چې ویرېږي، ځکه مخکې يې خبرې کړې وې او له هغې ورته جنجال جوړ شوی و. هغه هڅه کوي چې کامرې ته د مخامخېدو پر مهال له کامرې څخه د مخ په پټولو خپل ژوند او خپل ملکیت وژغوري.

هغوی غوښتل چې جګتار سینګ لغماني ووژني، ځکه چې مسلمان نه دی. پر مرۍ یې چاقو ږدي او ورته وايي چې د شهادت کلمه وواېه.

هغه یواځیتوب او بې وسي چې توتي سینګ ورسره مخ و، د دې لامل شو چې د مسلمانو ځوانانو د ډلې یو غړی چې پکول او پلنګي پتلون یې پر تن دي، په شور بازار کې د ده له دوکان څخه په جبر پیسې واخلي.

د انجان سینګ د ورور د وژنې کیسه دردوونکې هم ور ها خوا ده. اتار سینګ په خپلو وینو

کې لت پت پروت دی، خو په ولاړو خلکو کې هیڅوک یې مرستې ته نه ور نږدې کیږي، ځکه باید څوک له کافر سره لاس و نه لګوي. کله چې څو مخور کسان ورځي او له قاتله پوښتي چې ولې یې اتار سینګ وواژه، ورته ویل کیږي چې د هندو مرګ دومره ساده دی لکه د یو چرګ مرګ.

مروان سینګ ملوترا د خپل ماشومتوب کیسه کوي چې استاد یې د ټولګیوالو له خوا د ده د ځورولو شکایت د ده د عقیدې او قومیت له امله بابیزه وګاڼه، او ده ته د ښوونځي له پرېښودو پرته بله لاره پاتې نه شوه.

دا کیسه ناویل شوي او نااوربدل شوي توري دي چې ژر تر ژره باید چاپ او خپاره شي. مورږ باید دېر مخکې د دې ټولګې پاڼې اړولې وی او پرله پسې مو د دې زغم او خواخوږۍ د نشتوالي په اړه فکر کړی وی.

خاطرې د خوند او درد د شېبو تلپاتې کول دي. د خاطرو په اړه خبرې کول هم زړه سپکولی شي، په ځانګړي ډول هغه مهال چې خلک د نورو د نامهربانۍ او ظلم په اړه دېرې خبرې ولري.

مورږ له دې پرته بله چاره نه لور چې دغه زخم وسپړو، مهمه نه ده چې دا ټپ څومره ژور دی، خو باید د رغولو پر لارو یې فکر وکړو. فرهنګي خنډونو کلونه خلک له دې منعه کړي چې د خپل ځان او خپلو غمیزو په اړه خبرې وکړي. چوپتیا او بې تفاوتۍ تاوتریخوالي او بې عدالتۍ ته لاره ورکړې چې لا پراخ او هر اړخیز شي.

ظلم سره له مخامخ کېدو پرته د ظلم د له منځه وړلو بله لار نشته. دا زمونږ ټولو فریضه ده. که په مورږ کې یو تن هم داسې نه وي چې په جدي توګه ځان د دې کیسو مخاطب وګڼي، نو څنګه مورږ کولی شو چې په یوه ګډه هڅه کې سره یو ځای شو او دغه ټپونه ورغوو؟ دا د دې غمونو او دردونو په اړه د لیکلو له لارې کولی شو چې پر دې هر څه د بریالي کېدو لپاره یوه هیله راژوندۍ کړو. راځئ چې د ښو ورځو په هیله او د دې پرله پسې بدبختیو د ختمېدو په پار یو بل سره مرسته وکړو او د خپل چال چلند دغه تاریخ مستند کړو.

زه د دې مرکو د ترسره کوونکو او رپوټرانو د هڅو او زحمت ستاینه کوم چې د دې نسل

لپاره یې د دوی د بدبختیو یوه برخه مستنده کړه، چې پر دې مظلومې ټولنې تپل شوې دي.

د درد او درمان په برخه کې دا ټولګه یوه نوې او تلپاتې بنه لري. دا د هغو اشخاصو لپاره یو پلیټفارم ورکوي چې د خپل خوندیتوب لپاره او یا هم د خپلو له خجالتۍ ډکو تجربو له امله غلي پاتې شوي. د کیسو راویان د دوی کیسو او د لحن سره صمیمانه دي. دوی د نورو خلکو لپاره دا ممکنه کړې ده چې د دې دردونو او کړاوونو په اړه پوه شي، او دا د پخلاینې او درملنې لپاره زمونږ هیله راژوندۍ کوي. دا باارزښته ټولګه موږ ټولو ته یوه خبرتیا او یادونه ده چې دغه انسانان د دوی له غم او درد څخه ډېر لوی دي.

ډاکټر حمیرا قادري

کابل، ۲۰۲۱ اګست

## دویمه درجه ژوند؛ له خپل هیواده په زوره شړل شوی

۱۹۹۲ کال و، افغان سینګ (مستعار نوم) له خپلو نورو قومیانو سره د کابل په کارته پروان کې ارامه ژوند او ښه کاروبار درلود. هغه مهال د سیکهـ ټولنې د منځنۍ کچې غړیو مالي شرایط داسې ؤ چې هرې کورنۍ دوه تر درې عرادې موټر په واک کې درلودل. دوی هیڅ وخت فکر نه کاوه چې ناڅابه به شرایط داسې بدل شي چې دوی به خپله ټوله شتمني له لاسه ورکړي، او د خپل ځان او سر د سلامتیا په فکر کې به شي. «د مجاهدینو د دورې درې څلور میاشتې نه وې تېرې چې په زور نیول او چور شروع شو.» افغان سینګ پېښې داسې بیانوي. «هغوی د خلکو په کورونو ورننوتل او په کلاشینکوف یې هغوی وېرول. هدف یې معلوم و؛ زور چلول او باج اخستل. هغوی به خلک په زوره له کورونو بیول او د هغوی د پرېښودو لپاره به یې سل، دوه سوه یا پینځه سوه افغانۍ غوښتلې، دا زور چلوونکي له نیمایي زیات د یو ولایت ؤ او د انور ډنګر په ګډون دېرش–څلوېښت فیصده نور د شمالي خلک ؤ.»

د افغان سینګ دوه شخصي موټرونه چې بینز او ټویټا موټرونه ؤ، له دوی څخه په زور واخستل شول. خو زور چلول او په زوره نیول یوازې د مالونو او جایدادونو په غصب نه تمامېدل؛ د ده په وینا دې بې غرضه اقلیت کم تر کمه نهه ځوانان له لاسه ورکړل. په دوی کې یو ځوان د افغان سینګ د تره زوی و؛ هغه یې د شوربازار تر شا سیمو

ته بوتلو او او په سینه کې یې برچه ور منډلې وه. نور څو ځوانان یې په کارته پروان سیمه کې د پاکستان سفارت مخې ته ویشتي ؤ، حتا څو نور ځوانان یې له موټرو ښکته کړي ؤ او په ګولیو یې ویشتي ؤ. افغان سینګ د دې وضعیت کیسه کوي وایي چې ټول پوهیږي هغه مهال د کارته پروان په سیمه کې د چا امر چلېده.

افغان سینګ او نورو افغان سیکهانو او هندوانو د نورې قربانۍ زغم نه درلود چې پاتې شي. د تلفاتو له زیاتېدو سره د دې ټولنې زغم پای ته ورسېد او پر داسې انتخابونو یې فکر پیل کړ چې مخکې یې هیڅ فکر نه و پرې کړی. «د کابل په پرېښودلو راسره یو وېروونکی احساس ملګری و» افغان سینګ بیانوي چې څنګه هندوانو او سیکهانو له کډوالۍ مخکې د خپلو سامانونو او شتمنیو پلورل پیل کړل چې له نیکونو ورپاتې ؤ، او نیکونو یې له پیړیو په افغانستان کې ژوند کړی و. «هغه ورځ چې په یوې لارۍ کې مو کابل پرېښودو، د وروستي ځل لپاره مې هر څه ته په دقت سره کتل. لارۍ چې له پل‌خشتي تېره شوه حرکت یې ورو شو. خپلو لباسونو ته مې وکتل چې کهنه‌فروشانو په دویم لاس توکو کې لیلام کړي ؤ. زموږ دې لباسونو او سامانونو په افغانستان کې زموږ ژوند تصویراوه، (دویمه درجه ټولنه).»

افغان سینګ له خپلې کورنۍ او خپلوانو سره د پاکستان له لارې هند ته کډوال شو. وایي، په هند کې کوڅه په کوڅه او درمسال په درمسال وګرځېدل چې د پناه ځای پیدا کړي. بالاخره یې یوه سرپناه په کرایه پیدا کړه، خو په وینا یې هلته هم دویمه درجه اوسیدونکي ؤ، هغوی ورته ویل: «تاسو افغانان یاست، موږ خپلو هیوادوالو ته د کار کافي فرصتونه نه لرو، تاسو سره څنګه مرسته وکړو.»

افغان سینګ چې شرایط سخت ولیدل د روسیې، قزاقستان او تاشکند بازارونو ته یې د اقتصادي کډوال په توګه مخه کړه. افغان سینګ له ۲۰۰۲ کال څخه په قزاقستان کې په یو وړوکي دوکان کې خپل وړوکی کاروبار پیل کړ، خو هیله بښوونکی نه و. «هلته هم روزګار ښه نه شو» . افغان سینګ وایي هلته هم په کاروباري ویزه اوسېده. « دافغان پاسپورټونو لپاره د ویزې شرایط ورځ په ورځ سخت شول. قزاقستان نورو افغانانو ته «ریفوجي» ورکړه، خو موږ یې ترې مستثنی کړو.» د هغه په وینا یو افغان ترجمان

قزاقانو ته ويلي ؤ، چې دوی هنديان دي او بايد هند ورته پناه ورکړي. افغان سينګ له نورو دولس سيک او هندو کورنيو سره چې څومره هڅه وکړه، قزاقانو ورته ويزه او پناه ور نه کړه.

په قزاقستان کې له دولس کاله سخت ژوند وروسته دوی بېرته هند ته ستانه شول او خپل ځان ته يې په قرض پيسو د هند جعلي پاسپورټونه جوړ کړل. په دې پاسپورټونو يې ځان اروپا ته ورساوه او په کمپ کې له دوه پنځوس ورځو تېرولو وروسته په لندن کې مېشت شول.

افغان سينګ اوس نولس کاله کيږي چې له خپلې کورنۍ سره په لندن کې اوسيږي. «زه او زامن مې اوس کاروبار کوو» افغان سينګ چې اوس د انګلستان تابعيت لري خپل کاروبار داسې بيانوي. « شکر دی اوس څلور دوکانونه لرو او ډېر زحمت باسو. په افغانستان کې مو هم کار کاوه، او زحمت مو ويست، ماليه مو ورکوله، د ګمرک پيسې مو ورکولې، خو و نه توانيدو چې زموږ پر وړاندې د ظلم او ستم دايره ماته کړو.» افغان سينګ وايي چې په افغانستان کې هندوان او سيکان تر ټولو ارامه ټولنه ده، چې خپل کار سره کار لري. د هغه په وينا داسې ورځ نه ده راغلې چې دې مذهبي اقليت د افغانستان په نه ختميدونکې جګړه کې د چا پر وړاندې وسله پورته کړې وي.

افغان سينګ سره له دې چې په لندن کې يې د خپل ځان او کورنۍ لپاره هوسا ژوند جوړ کړی، خو وايي چې هيڅ ځای د ده وطن نه شي کيدای او اوس هم په دې درديږي چې له خپل هيواده په زوره ويستل شوی. «په ۱۹۹۲ کال کې کله چې د ډاکټر نجيب الله حکومت سقوط وکړ، موږ د اطلاعات و فرهنګ وزارت مخامخ په زېرزميني کې دوکان درلود. هلته څو تنو د بوټانو پلورنځی درلود او د پنجشير ؤ، موږ يې تل ځورولو او ويل يې چې تاسو يوه ورځ له افغانستانه شړو- او همداسې شول. کله چې مجاهدين قدرت ته ورسېدل، اول کار يې همدا و چې موږ يې له افغانستانه وشړلو. که موږ دويمه درجه هيوادوال نه وای، چا کولی شول چې موږ له خپل هيواده وشړي؟»

## د دیني زده‌کړو په ساعتونو کې یې پر موږ فشار راووړ چې مسلمانان شو

د ژمي د وروستیو ورځو په یو یخ سهار کې یې جارو په ښي لاس کې کلکه نیولې وه. په عمر پنځوس کلن و، خو داسې ښکارېده لکه له خپل عمر نه زیات یې د درمسال/ګردوارې خدمت کړی دی. چې خبرې مو ورسره پیل کړې د هغو ورځو کیسه یې کوله چې ګڼ هندو او سیک هیوادوال د خپلو مذهبي مناسکو ترسره کولو لپاره درمسال/ګردوارې ته راتلل. خو اوس له بده مرغه درمسال/ګوردواره تشه ده او عبادت‌کوونکي د ګوتو په شمار. وایي، له ځانګړې مناسبت پرته اوس پکې ډېر کم خلک لیدل کیږي.

له هغه مو د هغه کس د کور پته واخسته چې د سیکانو یوه پاتې کورنۍ پکې اوسېده. د کابل ښار په کوڅو کې یو کوچني کور ته ننوتو؛ داسې کور چې په کم مساحت کې یې شپږ غړي لرونکې کورنۍ ته ځای ورکړی و. زموږ د تصور برعکس، د کورنۍ فضا آرامه



ښکارېده. له یوې پیالې چای څښلو وروسته، مورږ د کور له فضا سره لا نور اشنا شولو، په کور کې یو څه کم ښکارېدل، بیانول یې سخت دي، شاید ذهني آرامتیا.

د کورنۍ ښځه ډېرش کلنه وه؛ خو د څېرې ګونځې او په ویښتو کې سپینو ډکو یې هغه له خپل عمر څخه ډېره زړه ښکاروله. په داسې حال کې چې خپل ماشوم یې په غېږ کې نیولی و، د هغې تر ټولو ترخې ورځې کیسه یې کوله، چې دوی پکې د خپلې ټولنې شپږویشت غړي د کابل په شور بازار کې له
لاسه ورکړل. له هغې ورځې نهه
میاشتې تیرېږي خو غم یې
داسې تازه ښکاري لکه
همدا پرون چې
پېښه



شوې وي. د شوربازار پېښه د دې او د دوی د ټولنې لپاره برخلیک ټاکونکې وه. «هغوی زموږ زړونه داغ داغ کړل. ټول مات مات شول. ټولنه خوره وره شوه. دلته هیڅوک نه دي پاتې. زموږ عزیزان ووژل شول، او هغوی چې ژوندي پاتې شول نورو هیوادونو ته لاړل،» هغې وویل. په دې پېښه کې یې ورور او وراره له لاسه ورکړل، داسې یوه تراژیدي وه چې د دوی له ټولنې یې هیله، آرامتیا، او د وطندوستۍ او خوندیتوب حس واخیست.

اجی، د کورنۍ دولس کلن ماشوم په سختۍ حاضرېږي چې موږ سره خبرې وکړي. په مبهمو کتلو او یو څه تردید سره خپل سر د تایید په توګه ښوروي، چې حاضر دی خبرې وکړي. د هغه د ښوونځي د ترخو خبرو او تجربو له اورېدو وروسته، موږ درک کړه چې ولې له موږ سره په خبرو کې زړه نا زړه دی. هغه تاوتریخوالی چې هغه په کم عمر کې تجربه کړی، حتا زموږ مهرباني ورته پردۍ ښکاري، چې باور پرې وکړي که نه. «موږ ته یې مکتب کې ویل؛ لېونی هندو، کافر هندو. له ویښتو یې کشولو. څکه خو څو کاله کېږي چې نور مکتب ته نه ځم، یوائې په درمسال/ګوردواره کې درس وایم.»

سورپال سینګ (مستعار نوم) د کورنۍ مشر هلک چې پینځه ویشت کاله عمر لري، وایي چې خپل هیواد سره مینه لري، خو په داسې شرایطو کې غواړي په داسې ځای کې اوسي چې د کورنۍ د بل غړي د لاسه ورکولو وېره و نه لري. «وطن د سړي مور وي او د هیچا نه خوښېږي د مور له غېږې جدا شي؛ خو حالاتو موږ ته بل انتخاب نه دی پرېښی» سورپال وایي، هیله لري په داسې هیواد کې ژوند وکړي چې انسانیت پکې له قومیت نه ډېر مهم وي. «که له افغانستانه لاړ شوو، تر هغه وخته نه راګرځو چې د اقلیتونو حقونه مراعت نشي او احترام ورته و نه شي.»

له سورپال نه مو د هغه د ښوونځي د ورځو په اړه و پوښتل. له څو شېبو ځنډ وروسته یې پورته وکتل، لکه د هغو ورځو خاطرې چې یې په ذهن کې تیرېږي، چې په درسي صنف کې و، په غمجن غږ وایي: «کله چې موږ ښوونځي ته تلو موږ ته یې کافر ویل. د دینې زده‌کړو په ساعتونو کې یې پر موږ فشار راووست چې مسلمانان شو.»

## «خدای هر انسان، انسان پیدا کړی، خو مور پر هندو او مسلمان سره وېشلي»

خپلې خبرې په دې جملې پیلوي. «د عدالت او برابرۍ د خدای په نوم». هغه جمله چې له امله يې يو ځل پرې د سخت دريځو ملايانو له خوا فتوا صادره شوه. دې دا جمله يې افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د پخوانۍ رئیسې شهرزاد اکبر له خولې اورېدلې وه، هغه وخت چې مېرمن هنریار د کمیسیون غړیتوب درلود.

یوه ورځ، د یو تلویزیون په یوې ژوندۍ خپرونه کې، هغې خپلې خبرې په همدې جملې پیل کړې. خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ، خو وېې لیدل چې شور جوړ شو او ځینو کسانو اعتراض وکړ، پوهه نه شوه چې اعتراض د څه له امله و. خبرې چې يې ختمې شوې، يو سړی پورته شو او و يې ويل. «ته حق نه لرې ووايې دا جمله ووايې، ځکه ته مسلمانه نه يې او هغه خدای چې ته يې په دې اوصافو يادوې، يواځې د مسلمانانو خدای دی.

انارکلي هنریار له خپلو افغان هیوادوالو څخه په داسې حال کې دا ډول تبعیض ويني چې هغه د دې هیواد په مشرانو جرګه کې د خپلې ټولنې استازې ده. د هنریار اوښکې هغه مهال تم نه شوې چې د «ابن سینا» د سولې د بین المللي جایزې د ترلاسه کولو پر مهال يې خبرې کولې، دا جایزه په کابل کې هر کال اغېزناکو او الهام‌بښوونکو

شخصیتونو ته ورکول کیږي چې د سوله ییز افغانستان په جوړولو کې یې هڅې کړې وي. هغې د خپل او د خپلې ټولنې د نورو نجونو د ژوند له سختیو پرده پورته کړه، چې د کور له انګړه بهر یې د وتلو اجازه نه درلوده. «زه په داسې کورنۍ کې وزیږېدم چې هیڅ یوې نجلۍ پکې ښوونځي ته د تللو حق نه درلود. نه یې شول کولی چې زدکړې او کار وکړي،» هغې په داسې حال کې چې اوښکې یې پر مخ بهېدې وویل. « د دې له امله نه چې د کورنۍ له خوا یې مخه نیول کېده؛ بلکې له دې امله چې ټولنې داسې څه نه منل. حتا ډېر هندو او سیک هلکان ښوونځي ته نشول تللای؛ خو نجونې د هغوی په نسبت ډېرې زیانمنېدونکې وې.»

د انارکلي پلار له ښوونځي څخه د خپلو زامنو او لوڼو د نه محرومیدو په موخه خپله دنده له کابل څخه یو ولایت ته تبدیلوي، او داسې ځای کې استوګنه غوره کوي چې څوک فکر و نه کړي دوی هندوان دي. د انارکلي کورنۍ حتا د مسلمانانو په دیني-مذهبي مراسمو کې ګډون کاوه. «مور د محرم میاشتې له لومړۍ د عاشورا تر لسمې پورې تکیه خانو ته تللو. زه وړه وم، خو په یاد مې دي، چې مور به مې د عزادارۍ په مراسمو کې ژړل، ما به هم د هغې د اوښکو په لیدو ژړل. په کابل کې زموږ د قومیانو تر منځ اوازې خپرې شوې چې دوی ټول مسلمانان شوي دي. همداسې زموږ ژوند له خپلو قومیانو او خپلوانو لرې تېر شو.» د انارکلي په وینا له هغې ورځې چې کور یې د کابل ښار مکرویانو ته راغلی، ماشومان د دوی د کور کړکۍ په خټو او کاڼو ولي او هندو انارکلي کافر انارکلي غږونه کوي. هغه په داسې ټولنه کې د ژوند د سختۍ په اړه خبرې کوي چې د خپلو مسلمانو هیوادوالو له خوا ورته د خور او ورور ویل جرم ګڼل کیږي. د هغې په وینا، یوې محصلې چې د افغانستان په یو پوهنتون کې یې د خپل منوګراف په یوه برخه کې هندوانو او سیکانو ته «هندو او سیک وروڼه او خویندې» ویلي ؤ، په دې جرم یې د منوګراف څو نمرې کمې کړې.

انارکلي له درده په ډک زړه او په غریو نیولې ستوني وایي: «سره له دې چې زه دلته زېږېدلې او لویه شوې یم، خو لا مې هم وطن معلوم نه دی. ګاونډي مې لا هم کله چې غواړي زموږ ښه یاد کړي، وایي د هند خلک مې ډېر خوښیږي. کله چې حتا له

خپلو نږدې دوستانو سره ناسته ولاړه کوم، هغوی د هند هیواد او خلکو د مهربانۍ کیسې راته کوي، په داسې حال کې چې زه هیڅ وخت په هند کې نه وم، او یوائې یو رسمي سفر مې هلته درلود. څنګه هغوی وپوهوم چې زه یوه افغانه یم.» هنریار اوس مسلمان ترونه، عمه‌ګانې او خاله‌ګانې لري. دې خپلوانو یې نه لوړې زدکړې درلودې، نه د اسلام مطالعه او نه د لیکلو او لوستلو سواد. خو کوم څه چې هغوی مسلمانان کړي دي، د هغو شرایطو له منځه وړل ؤ، چې دوی پکې ژوند کاوه.

یوه ورځ د انارکلي د ماشومتوب د وخت یو ګاونډی - چې دې ته یې خاله ویل - د دوی کور ته راغلی و، د وتلو په وخت ترې ګاونډیانو پوښتنه کړې وه چې انارکلي سره څه تړاو لري، ورته ویلي یې ؤ چې خاله یې ده. دا مساله د ګاونډیانو لپاره د تعجب وړ وه: «دا هندوه دې خاله ده!؟؟» انارکلي عقیده لري چې ټولنې ته لا هم ډېره لاره پاتې، او دوی به هیڅکله نهیلي نشي. هیڅکله زموږ د اوښکو تویېدل، زموږ کمزوري نه ده؛ دا هغه درد دی چې هرڅومره وغواړو نه یې شو هیرولی.»

انارکلي خپلې خبرې په خاورو لړلی ګل (Dhool ke Phool-۱۹۵۳) فلم څخه د محمد رفیع مرحوم په غږ کې سندرې باندې پای ته رسوي چې د ساحر لودیانوي شعر دی:

تو ہندو بنے گا نہ مسلمان بنے گا

ته به نه هندو جوړ شې نه مسلمان

انسان کی اولاد ہے انسان بنے گا

ته د انسان اولاد یې انسان به جوړ شې

مالک نے ہر انسان کو انسان بنایا

ہم نے اسے ہندو یا مسلمان بنایا

قدرت نے تو بخشی تھی ہمیں ایک ہی دھرتی

ہم نے کہیں بھارت کہیں ایران بنایا



## د ښوونځي اداري زما شکایت ته پاملرنه و نه کړه، ځکه چې زه هندو وم

«افغانستان له کنټروله وتلی، یوازې خدای کولی شي جوړ یې کړي.» دا د مروان سینګ ملهوترا وینا ده. هغه اووه ویشت کاله په هیواد کې ژوند وکړ، یوازې یو انتخاب یې درلود چې هند ته مهاجر شي. او هغه اته ویشت کلن دی او درې اولادونه لري. مروان د ماشومتوب او ځوانۍ وخت په کابل کې تېر کړ؛ خو د کابل په شور بازار کې له مرګوني برید وروسته یې کابل ښار پرېښود.

د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۲۵ مه، د کابل په شور بازار کې د سیکانو پر درمساله/ګوردواره په داسې حال کې ځانمرګی برید وشو چې مذهبي مراسم لمانځل کېدل. په دې برید کې پینځه ویشت تنه هندو او سیکهـ هیوادوال ووژل شول او شپږ تنه ټپیان شول. مروان سینګ چې کله هغه پېښه یادوي، نشي کولای کلمات په سمه توګه ادا کړي. غریو یې نیسي او ماتې ماتې خبرې کوي. هغه اوس په هندوستان کې ژوند کوي؛ خو تر اوسه د ناامنۍ له هغو پېښو اغېزمن دی چې دی او نورو سیکانو په کابل کې ورسره مخ شوي دي. «له دې برید وروسته مو له دې پرته بله چاره نه وه، چې کابل د تل لپاره پرېږدو.» مروان وایي چې په دې برید کې یې تره او څو ملګري له لاسه ورکړي دي.

د مروان سینګ په وینا په داسې عقیدې ژوند کول چې د ټولنې ډېری خلک ورسره

اشنا نه وي، سخت کار دی، خو په افغانستان کې له هر ځای سخت دی: «که یو څوک په کابل کې په داسې دین باور ولري چې د عامو خلکو د باورونو خلاف وي، له مرګ سره مخامخېږي. موږ هره ورځ دا تجربه کوله.»

کله چې له دولسمه فارغ شو د تبعیض له امله و نه توانېد چې پوهنتون ته لاړه و مومي؛ خو د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون هغه د کارمند په توګه استخدام کړ. مروان سینګ، په دې کمیسیون کې کار په کابل کې د خپل ژوند ښې ورځې ګڼي. وايي: «ډېر ښه چلند راسره کېده، څومره ښه و چې همالته مو د خپل وطن لپاره کار کولی؛ خو و نه شوه او حالاتو پرېنښودو.»

مروان سینګ، له خپلې کورنۍ سره د دوی پر عبادت‌ځای د مارچ د ۲۵ مې له برید وروسته هندوستان ته مهاجر شول. «موږ چاره نه درلوده، امنیت نه و. په هغه ورځ چې غوښتل مو د پینځه ویشت جنازو لپاره د سوځولو مراسم و نیسو، زموږ د لارې په اوږدو کې یې ماین ایښی و. نو په دې وضعیت کې به څنګه کابل کې پاتې کېدی؟». اوس هغه افغانستان ته اندېښمن دی. په نهیلۍ سره یې وویل «یواځې خدای کولی شي افغانستان ته نجات ورکړي.»

په کابل کې د مروان سینګ د ژوند په اړه پوښتم. په ځواب کې تر ټولو ترخې کیسې لري. هغه وايي؛ کله چې د ښوونځي په شپږم ټولګي کې و، یوه ورځ څو تنه ټولګیوال ترې چاپېره شول، هغه یې په چاقو تهدید کړ او ویل یې که خپل ژوند ژغورل غواړې نو زر افغانۍ دې ورکړي. مروان سینګ له ناچارۍ د ښوونځي ادارې ته شکایت کوي؛ خو ټولګیوال یې د ښوونځي سر معلم ته وايي چې هغه له اسلام پرته بل دین لري؛ هغه هندو دی. د مروان سینګ پلرنی دین او مذهب د دې باعث کېږي چې د ښوونځي د ادارې له خوا یې شکایت ته رسیدګي و نه شي، مروان سینګ له ناچارۍ ښوونځی پرېږدي؛ خو له اووه کالو وروسته، په ۲۰۱۳ کې بیا له شپږم ټولګي بېرته ښوونځی پیلوي. «ملګري مې د هغه متل ښه مثالونه و چې وايي د لستوڼي ماران؛ داسې یې ښودله چې زما نږدې ملګري دي، خو کله چې یې فرصت پیدا کاوه، توهین او سپکاوی یې شروع کاوه.» مروان سینګ ملهوترا وايي. «په شپږم ټولګي کې د پیسو له امله نه تهدیدیدم، بلکې زما د دین له امله تهدیدیدم».

## «مور، هیڅکله تسلیم نشو»

هیڅ تخت له ټپیانو خالي نه دی؛ هیلې هغو چپن‌پوشانو ته دي چې په بیړه له یو بستر څخه بل ته منډې وهي. د ګروپونو رڼا د هغوی پر سپینو چپنو هغوی د نجات د فرشتو په څېر ښکاروي، چې په ټول توان سره د لسګونو انسانانو د ژغورلو لپاره وزرې وهي. د امبولانسونو غږونه چې پر له پسې یې مړه او ټپیان راوړل، د قربانیانو د خپلوانو سلګۍ، د ټپیانو زړېږوي او د روغتون پر ځمکه پرتې وینې؛ د هغه وحشتناک برید پایله ده چې څو دقیقې وړاندې یې د افغانستان د یوې زیامنېدونکې ټولنې یوه برخه په ښنبه کړې ده.

د ټولو تختونو ټپیان له یو بل سره تړلي دي، د هغې مذهبي کورنۍ غړي دي چې ټول پر سر پټکي تړي. د هر یو وضعیت تر بل بد دی؛ یو بې هوښه، بل نیمه په هوښ او بل له مرګ سره په جګړه. نرندر سینګ چې خپلې سترګې غړوي، د دا ډول صحنې لیدل او د دا ډول غږونو اورېدل ورته ګران تمامېږي. خپلې سترګې بېرته پټوي چې بیا فکر وکړي؛ شاید هغه څه چې دا یې ویني او اوري حقیقي نه وي. کله چې ځان ته ټکان ورکوي او خپل سر له بالښته پورته کوي، نور نو د تو پان ژوروالی درک کوي چې پر ده، پر کورنۍ او قومیانو یې څه راغلي. نرندر ژر د سیروم ستنه له لاسه وباسي او له بستره کوزېږي. د ډاکټرانو ممانعت ګټه نه لري، هغه باید خپل پلار لیدلی وای. د وروستي ځل لپاره چې یې خپل پلار ولید یواځې یو «آه» یې ترې واورېد. په منډه د دروازې پر لور ځي چې مدیر دلاور او ولي ماما

چې نږدې دوستان یې ؤ دواړه پښې ابلې مخې ته ورځي. غوښتل یې نرندر په خپلو خبرو بوخت کړي. و یې ویل «نرندر! ته ژوندی یې، موږ ته لټولې. نوم دې د وژل شویو په لیست کې دی». خو د نرندر همدا یوه خبره پر خوله ده؛ پلار مې؟

ولي ماما خپل ځان ته جرات ورکوي او وايي چې «پلار دې روغ دی». خو مدیر دلاور د ولي ماما په دې جملې، خپل مخ له نرندر وګرځاوه او خپل ځان یې کنټرول نشو کړای، ستونی یې ډک شو او غږ یې په زوره له مرۍ راووت. حتا د دې صحنې کیسه کول هم د نرندر لپاره اسانه کار نه دی. د دې صحنې کیسه کول له بې اختیارو اوښکو سره یوځای دي، چې له سترګو یې بهیږي، خو په وینا یې دا په افغانسان کې د ده او د ده د کورنۍ د سخت ژوند یوه وړه برخه ده. دوی څو ځل خپل ژوند له صفر څخه پیل کړی دی.

نرندر سینګ په ۱۳۶۳ کال کې د پکتیا په ګردېز ښار کې زېږېدلی. له زېږېدو وړاندې یې یو تره «د یو تور له امله چې پرې پورې شوی و» ووژل شو. د نرندر د تره پینځه لونې یې نورې د هغه د خویندو پر ځای وې او یو ځای یې ژوند کاوه. نرندر چې هر څومره لوییده، د ډېرو خویندو په لرلو یې د نېکمرغۍ احساس کاوه. ټول پرې مهربانه ؤ او نه یې پرېښود چې کمی احساس کړي. کله چې څلور کلن شوی و، له هر وخته ډېر خوږ ښکارېده. یوه ورځ د نورو عادي ورځو په څېر د نرندر خویندې ترې شاوخوا راټولې شوې وې او د کور په یو کونج کې له یو بل سره بوخت ول چې یو تېز او دروند غږ یې واورېد. د سترګو په رپ کې د کور فضا ګډه وډه شوه او چت د سترګو په رپ کې ولوېد. د نرندر پینځه خویندې د تره له یوې لور سره یوځای پکې ووژل شوې. د کورنۍ نور غړي هم په نیم ژوندي حالت کې د یو بل د ژغورلو هڅه کوي. کور په بل مخ اوښتی دی او د کنډوالې په څېر ښکاري.

د نرندر کورنۍ د ګردېز له نوي ښار څخه په زاړه ښار کې د خپلو نیکونو زوړ کور ته وکوچېده او هلته یې ژوند بېرته له صفره پیل کړ. پلار یې د نجیب الله د حکومت د اردو «منصبدار» و. پلار یې یواځنی د کورنۍ نفقه برابروونکی و او ژوند یې له هغه شغل سره چې پلار یې درلود، ورو ورو عادي حالت ته تلو. نرندر چې نور اووه کلن و، د دوی کور ته د حکومتي چارواکو او د اردو د منصبدارانو له تګ راتګ څخه نور پوهېده چې پلار یې څوک دی او د اردو منصبدار یعنې څه. هغه د خپل پلار په ښایسته لباسونو او رنګ شویو

بوټونو ویاړ کاوه او غوښتل یې چې یوه ورځ دغه لباس واغوندي. یو سهار د نورو سهارونو په څېر چې پلار یې خپل ښکلی نظامي لباس پر تن کړی و او عسکري بوټونه یې چې د نرندر یوې خور ورته رنګ کړي ؤ، پر پښو ؤ، په موسکا یې له کورنۍ سره خدای پاماني وکړه. خو د هغې ورځې په ماښام چې کور ته راستون شو، نور یې نه پر شونډو مسکا وه او نه یې ښکلی نظامي لباس پر تن و. ګردېز مجاهدینو نیولی و؛ حقاني، د مجاهدینو یو تن د هغه له پلار څخه د وسلې او یونیفورم په اخستلو ویلي ؤ، چې نور د دوی حکومت پای ته رسېدلی.

د نرندر د کورنۍ ژوند د کورنۍ د یوا ځني نفقه راوړونکي د دندې له لاسه په ورکولو صفر شوی و. خو تسلیم نشول، هغوی بیا راپورته شول او دا ځل د نرندر پلار د «ګیس» (د رڼا لپاره یو ډول پخواني څراغونه) د ترمیم غرفه جوړه کړه. پلار نور یوا ځې و، نرندر په کم عمر کې له پلار سره اوږه پر اوږه کار کاوه: «اول مو فراشوتي غرفه درلوده. کار ډېر سخت و. د ګیس د نلونو په پاکولو مې لاسونه چاودول. تر دې بدتر دا چې باد به لګېده، ډېر تاواني کېدلو؛ هرې جالۍ ۲ تر ۵ افغانۍ قیمت درلود.»

د سړکونو پر غاړو د ګرځندو سماوارونو په راتګ سره، د نرندر او پلار کاروبار ښه شو او دوی د دوکان خاوندان شول. له پاکستانه د افغان مهاجرینو راتګ ګردیزیان په سماوار کې د اوبو له جوشولو سره بلد کړل: «د ګیس نلونه مې په سماوار کې اچول چې توروالی یې وسوځي او پاک شي؛ په دې ډول زموږ کار اسانه شو او کولای مو شول د ورځې ۲۰۰ تر ۳۰۰ ګیسونه ترمیم کړو.»

د کورنۍ مالي وضعیت په ښه کېدو و. د پلار او زوی ګټه دومره شوې وه چې د کورنۍ لګښت پرې وشي. یوه شپه چې پلار او زوی له کاره راغلي ؤ او بي بي سي ته یې غوږ نیولی و، بیړنی خبر خپور شو. د شپې اته بجې وې او بي بي سي اعلان وکړ چې د هندوانو و سیکانو پر عبادت‌خونو د کابل او غزني په ګډون په ځینو ولایتونو کې بریدونه شوي دي. دلیل یې هم په هند کې د هندوانو له خوا د «بابري مسجد» په نوم د مسلمانانو د یو مسجد سوځول وښودل شول. په داسې حال کې چې افغان هندوان او سیکان د افغانستان ؤ، او په هند پورې یې هیڅ اړه نه درلوده.

دا خبر د نرندر د پلار لپاره دومره لړزوونکی و چې له وارخطايي يې نشول کولای څه وکړي. هغه پوهېده چې د دې خبر په خپرېدو، مسلمانان د ګردېز پر عبادتخونې - چې دیوال يې د دوی له کور سره نښتی و - هم برید کوي. په هغه شېبه کې چې پلار يې په ذهن کې له توپان سره د مقابلې لپاره تیاری نیوه، د کور دروازه وټکېده؛ د نرندر یو کاکا و. هغه هم په هماغې کوڅه کې کور درلود. کاکا يې وویل چې برید يې وکړ، ښځې او ماشومان ژر تر ژره زیر زمیني ته ولیږدوئ.

پلار چې عزت، دین او حیثیت يې په خطر کې ولید، د خپلې عسکرۍ د وخت وسلې يې له خاورو راوويستې. پر دیوال شریک درمسال برید وشو. د نرندر پلار او تره يې دفاع شروع کړه. جنګ دومره سخت شو چې ګویا مرمۍ د آسمان سینه سورۍ سورۍ کوي. جګړه هغې مرحلې ته ورسېده چې وسلې راکټ، پیکا او ګرنیټونو ته ورسېدې. د جګړې شپې ساعته تېر شوي ؤ، خو جګړه شېبه په شېبه سختېده. د دواړو خواوو مړګ ژوبله چې زیاته شوه، منځګړي د اوربند لپاره راوړاندې شول. د قاري په نوم د کلي یو ملک د دواړو خواوو د اعتماد وړ سړی و. په لاسپیکر کې يې د نرندر تره مخاطب کړ: «انوپ سینګ، تاسو جنګ مه کوئ، موږ دې طرف ته هم قناعت ورکوو. یواځې له درمسال نه مو بیرغ ښکته کړئ او له قالینو او نورو شیانو سره يې وسوځوئ، چې جنګ ختم شي.»

د نرندر کاکا په اعتراض سره وویل چې ولې دوی باید دا کار وکړي، په داسې حال کې چې دوی افغانان دي، په همدې خاوره کې لوی شوي او د هند په هندوانو پورې هیڅ اړه نه لري. هغه چې کله «قاري» ته دروازه پرانسته، نور يې نو ژوند په خپله د داسې کسانو په لاس کې ورکړ چې په بل هیواد کې د یو پېښ شوي جنجال لپاره، د خپلو هیوادوالو د وینو تږي شوي ؤ. د سترګو په رپ کې انوپ سنګ په وینو کې ډوب شو او په ځمکه ولوېد؛ سینه يې په ګولیو سورۍ سورۍ شوې وه. یو، دوه، درې، څلور، نهه اصلاً د شمېرلو وړ نه وې. اته تر نهو پورې مرمۍ يې د هغه په سینه کې خالي کړې وې. هغوی د نرندر سینګ د کاکا په وژلو بسنه و نه کړه، درمسال ته يې لاسي بمونه وغورځول.

د نرندر پلار، څنګه چې د سهار سپیدو د ګردېز اسمان روښانه کړ، پښې ابله له زوړ ښار څخه تر ګردېز پورې حقاني - د مجاهدینو د حکومت استازي - ته په شکایت ورغلو.

هغه څه چې د شپې په تیاره کې په هغه او قومیانو یې تېر شوي ؤ، حقاني ته یې وویل، او دا یې هم وویل چې هغه هم یو افغان دی او په دې وطن کې یې عسکري کړې ده. د مجاهدینو د حکومت استازي د شکایت له اورېدو وروسته، د نرندر پلار ته نه ور وکتل او نه یې ورته کومه خبره درلوده. یواځې یې خپلو کسانو ته وویل: «هغه د «بلډوزر» ټانکس ته غږ کړئ. لاړ شئ د دې سړي کور، درمسال او څه چې لري ونړوئ. خپله دی هم پرې نږدئ چې ژوندی ووځي.» د نرندر پلار چې د حکومت له استازي نهیلی کېږي، بېرته راستنیږي. یو تن له شا ورپسې راځي، شاید د وطنداري حق یا د انسانیت حس، هر حس چې و، خو د دې سبب شو چې د نرندر پر کورنۍ زړه وسوځوي. وایي: «سیاسرې مو بچ کړئ، نور په څه پسې مه ګرځئ. زه دوه بسونه درلېږم.»

کورنۍ، مقدس کتابونه، مړي او ټپیان، ټول یې په دوه ښاري بسونو کې ځای پر ځای کړل او له ګردېزه په پټه ووتل، خو هغه څوک چې و نشول تښتېدلی د نرندر پلار، کاکا یې او د کاکا زامن یې ؤ. «هغوی یې پرې نښودل، تر هغه وخته یې له ګردېزه د وتلو اجازه ور نه کړه چې تر څو یې ټول کور، د کور سامان او درمسال ته اور ورته نه کړ. کله چې هر څه ایرې شول، عام خلک راپورته شول؛ زما پلار، کاکا مې او زامن یې له هغوی وژغورل او څو قومي سپین ږیرو هغوی تر غزني پورې بدرګه کړل، چې ظالمان ورته لاره و نه نیسي.»

نرندر او کورنۍ یې یو ځل بیا په غزني کې ژوند له صفر څخه پیل کړ. پلار معلم شو او هندو او سیک ماشومانو ته یې زدکړه ورکوله او نرندر د غزني په بزارۍ کې د یو ټوکر پلورونکي د دوکان شاګرد شو. نرندر خپله اجوره د هرې ورځې په پای کې ترلاسه کوله او د هرې میاشتې په پای کې د پلار د معاش تر لاتلو پورې یې د کور واړه لګښتونه ورکول.

ژوند په سختۍ تېرېده، نرندر د خپل شته مالي وضعیت له امله نه توانېده چې ښوونځي ته لاړ شي. هغه معاش چې هره ورځ یې د دوکان له مالک څخه ترلاسه کاوه، یواځې یې کولای شول د شپې لپاره خواړه پرې واخلي. خو دا کافي نه ؤ، هغه تل په زړه کې وېره درلوده چې خدای مه کړه یوه ورځ یې د کورنۍ کوم غړي سره څه پېښ شي او هغه د پیسو لپاره چا ته لاس ونیسي. یوه ورځ چې نرندر د هرې ورځې په څېر خپل ورځنۍ مزد ترلاسه کاوه، د دوکان خاوند ورته وویل چې نن ورځ کارونه کم ؤ او یوه برخه مزد یې بله ورځ ورکوي.

نرندر هغه ورځ د خپلو پیسو په اندازه کمه سودا واخسته او له دوکانه تر کوره یې همدا په فکر کې ګرځېدل چې ډېرې پیسې پکار نه شي. هغه پوهېده چې کور ته د یو کارګر خالي لاس تلل او هغه هم چې په کور کې یواځنی کارګر وي، ځومره سخته ده.

همدا چې کور ته رسیږي، پام یې کیږي چې پلار یې د ناروغۍ په بستر پروت دی او وضعیت یې ښه نه دی. د پلار له تسلیت وروسته یې جیبونه ولټول، لږې پیسې یې چې درلودې سره یوځای یې کړې، خو د درملو پیسې نه برابرېدې. بهر وځي چې وکولای شي د خپل پلار د روغتیا لپاره یوه چاره وکړي، هره میوه چې ګوري، له هغو پیسو سره چې په جیب کې یې لرې ډېر تفاوت لري. «اړ شوم چې یوه هندوانه چې غوره ګڼېدلې او ماته شوې وه، هغه راواخلم، خرابې برخې یې لرې کړم او خپل ناروغ پلار ته یې یوسم.»

په همدې ورځو کې د نرندر یوه ترور له کابله غزني ته راځي، کله چې د هغوی د روزګار وضعیت ته ګوري، وراندیز ورته کوي چې کابل ته راشئ، هلته شاید ښه کاروبار پیدا کړئ. د نرندر کورنۍ د هغه د ترور په وړاندیز د هندوانو او سیکانو په یو پاټې شوي کور کې چې دروازې او کړکۍ یې نه درلودې، په کابل ښار کې ځای پر ځای کیږي. نرندر همدا چې د ترور د زامنو په مرسته کور یو څه سره جوړوي، خپل ځان ته د کابل د منډوي په یو دوکان کې؛ د غزني په څېر یو کار جوړوي. ځومره معاش چې په غزني کې یې ترلاسه کاوه، دلته یې هم تر هغې زیات و نه موند. خپل معاش چې یې هر ماښام ترلاسه کاوه، له منډوي تر ده افغانانو پلی راتلو، له هغې ځایه په ملي بس موټرو کې - چې یو دوه تمځایه یې پیسې نه اخستې - تر قوای مرکز پورې تللو او په دهن باغ کې د سودا لپاره پلی کېده.

«خدای دې وبښي یو کس چې موږ ورته حاجي ویل، اوس یې هم زامن په پروان دوم کې دوکان لري، سودا مې د هغه له دوکانه اخستله. ډېر ښه سړی و؛ غوړي، وریجې، هګۍ او هره سودا مې چې اخستله، ویل یې خیر دی بچیه پیسې یې بیا بله ورځ راوړه. داسې مې کولی شول چې هم لږې لږې د هغه پیسې ورکړم، هم مې په ځنګ کې کولای شول یو اندازه سکاره د کور د تودولو لپاره واخلم.»

د نرندر ورونه او خویندې ټول تر هغه واړه ؤ او د کابل د ژمي یخنۍ ډېره بې رحمه وه. ورځ یې یخه تېروله او د شپې د سکرو په تمه ؤ، چې مشر ورور به راوړل. مور سکاره په

صندلۍ کې اېښودل او ټول ترې چاپېره کېناستل. د نرندر پلار چې تر دې زیات یې د ژوند سختۍ نشوې زغملی، لستوڼي بډوهل او یو ځل بیا یې د معلمۍ لپاره همت وکړ؛ نرندر ته یې ویلي ؤ چې «د دوکان په شاګردۍ روزګار نه جوړیږي، باید خپله یو دوکان پرانیزې.»

پلار یې چې لږ معاش درلود او هغه قرض چې له دوستانو او خپلوانو یې واخیست، د نرندر لپاره یې د کابل په ده‌افغانانو کې یو دوکان جوړ کړ. هغه چې د دوکان په پرانستلو د خپلو هیلو یوې برخې ته رسېدلی و، یوناني طبابت یې پیل کړ.

د نرندر کاروبار په ښه کېدو و، حتا د طالبانو حاکمیت د هغه د عطارۍ د کاروبار لپاره خنډ نه و، نرندر نور کولی شول د خپلې کورنۍ لګښتونه په ښه توګه له دې دوکان څخه ترلاسه کړي. «طالبانو مونږ سره کار نه درلود، یوازې یو ځل یې د لمانځه پر وخت د دوکان د نه تړلو له امله په دُره وهلی یم.»

د طالبانو د حکومت ډېر وخت نه و وتلی چې د هندوانو او سیکانو د کورونو په عصبولو یې پیل وکړ، د نرندر په وینا طالبانو د دې مذهبي اقلیت کورونه تخلیه کول او خپل جنګیالي یې پکې ځای پر ځای کول. د نرندر پلار چې د هندو او سیک ماشومانو معلم و، پورته شو او د دې مذهبي اقلیت د ځمکو د غصبولو پر وړاندې په جرات سره ودرېد. هغه په منطق سره طالبانو سره خبرې وکړې او د دین له لارې چې طالبانو پرې باور درلود، مخکې ولاړ. د نرندر د پلار ودرېدل د دې سبب شول چې طالبان د دوی د ځمکو له غصب څخه لاس واخلي. خلکو چې د خپلو ارزښتونو د دفاع لپاره د نرندر د پلار جرات ولید، هغه یې په کابل کې د درمسال مشر وټاکه.

پلار یې د درمسال د مشرۍ تر څنګ بیا هم هندو او سیک هلکانو او نجونو ته درس ورکاوه. د درمسال کار چې زیات شو، نرندر هم د پلار تر څنګ مرستې ته راغلو. د نرندر د پلار مدیریت او رېښتینولي سبب شوه چې خلک هغه د افغانستان د سیکانو او هندوانو د سراسري شورا د رئیس په توګه وټاکي. هره دوره چې انتخابات کېدل تر ټولو ډېرې رایې د نرندر سینګ د پلار اوتار سینګ خالصه وې؛ هغه د ۱۷ کلونو لپاره د دې شورا ریاست پر غاړه درلود.

په ۲۰۰۱ ال کې یو شمېر هندوانو او سیکانو په کابل کې په یوه خبري ناسته کې له حکومته وغوښتل چې په مشرانو جرګه کې د چوکۍ تر څنګ باید په ولسي جرګه (پارلمان) کې هم یوه چوکۍ ولري. اوتارسینګ خالصه په دې ناسته کې وویل چې د بېچاره او مظلومو هیوادوالو د حقونو د دفاع لپاره اړینه ده چې د سیکانو او هندوانو یو استازی په ولسي جرګه کې هم حضور ولري.

د افغانستان په ولسي جرګه کې د دې مذهبي اقلیت لپاره په چوکۍ ځانګړې کولو سره، د ۱۳۹۷ لمریز کال په پارلماني ټاکنو کې، د افغانستان هندو او سیک هیوادوالو په داخلي ټاکنو کې د نرندر پلار اوتارسینګ خالصه د افغانستان په پارلمان کې د یواځني استازي په توګه ونوماوه.

یوه ورځ چې د نرندر پلار د ټاکنیزو مبارزو لپاره خپل پروګرامونه سمول، له جلال آباد نه اړیکه نیول کیږي او نږدې کسان یې له هغه غواړي چې له غرمې وروسته تر څلور بجو جلال آباد ته ورشي. د زوی او ټاکنیز ټیم ممانعت هیڅ ګټه نه درلوده، او بس هغه باید لاړ شي. هغوی د نرندر او موټر چلوونکي مصطفی په ګډون څلور تنه د ننګرهار پر لور حرکت کوي او له وعدې سره سم پوره څلور بجې خپل ځان جلال آباد ښار ته رسوي.

د جلال آباد ښار په درمسال کې ډېر شمېر هندوان او سیکان راټول شوي، اوتارسینګ چې رسیږي، وایي چې جمهور رئیس غني جلال آباد ته راغلی او دوی ته یې د ملاقات وخت ورکړی. سپین ږیري او یو شمېر هندو او سیک هیوادوال په څلورو موټرو کې ځای پر ځای کیږي او د ننګرهار ولایت مقام خوا ته د جمهور رئیس د لیدلو لپاره حرکت کوي.

په لومړي موټر کې اوتارسینګ خالصه د دې مذهبي اقلیت یواځنی استازی، په دویم موټر کې یې زوی نرندر سینګ خالصه او ملګري یې او په درېیم او څلورم موټر کې ټول قومي مشران ؤ. له لومړي او دویم کمربند نه تیریږي، خو درېیم کمربند ته چې رسیږي څو دقیقې ودرول کیږي چې د ننوتلو لپاره یې مخابره وشي. هغوی د مخابرې د غږ په انتظار ؤ چې یو ځل یو لوی غږ دوی له زمکې پورته کوي او بېرته پر ځمکه لویږي. د نرندر غوږونه د دې غږ په اورېدو بند شوي ؤ، یواځنی شیز چې یې ولید د خاورو بې غږه تصویر و چې هر څه یې رانغاړلي ؤ.

نرندر چې سترګې غړوي، هیڅ هم پر خپل ځای نه دي، ملګري یې چې په وروستۍ چوکۍ کې یې تر څنګ ناست و، لاندې لوېدلی و. مصطفی - مسلمان موټر چلوونکی یې - له هغو وینو سره چې له سره یې روانې وې، په چوکۍ کې آرام پروت و. د نرندر بله خوا درېیم تن هم په وروسته چوکۍ کې خپل سر شیشې ته تکیه کړی و او ساه یې نه اخستله. هر یو چې ښوروي او په نوم غږ ورته کوي، غږ یې نه اورېدل کیږي. هغه له مصطفی څخه هیله کوله، خو چې ښوروي یې هغه هم د نورو غوندې ځواب نه ورکوي؛ کرخت او بې غږه دی. ور غږ یې کړ: «مصطفی، مصطفی، مصطفی جان»، خو مصطفی نور د ځواب لپاره سا نه لري.

په منډه له موټره ښکته کیږي او د پلار د موټر په خوا ورځي، همدا چې ویني ملا یې له موټره روغ ښکته کیږي، زړه یې ښه کیږي او خپل ځان سره وایي، د خدای شکر چې ټول ښه دي. خو موټر ته چې نږدې کیږي، د خپل پلار سر ښکته ویني، ژر یې له موټره ښکته کوي او چې هر څومره یې ښوروي، له «آه» پرته یې بل غږ نه اوري.

«هر څومره چې غږ کوم، د مرستې لپاره څوک نشته. څلور خواوو ته د دړزو غږونه دي، پولیس دي او پي پي ایس. یو ټرافیک راغی او له موټره ښکته شو او زما پلار یې په خپلو زنګنو واچاوه او هغه امبولانس ته یې یوړ چې همدا اوس رارسېدلی و. اوس زه پوه شوم چې زه هم ټپي شوی یم، نور پوه نه شوم چې څه وشول او بې هوښه شوم.»

د پلار، کاکا او نږدې دوستانو په ګډون د ۱۹ تنو قومیانو مرګ د نرندر لپاره اسانه نه و، خو هغه بیا راپورته شو او تسلیم نشو. د قوم مشرانو هغه د پلار پر ځای خپل یوائځنی نوماند وټاکه چې وکولای شي د دې اقلیت له حقونو دفاع وکړي.

«زموږ مبارزه د وطن لپاره ده. له خپل خدای سره مې وعده وکړه چې خپل هیواد پرې نږدم. که د کورنۍ بل غړی هم له لاسه ورکړم، بیا هم خپل هیواد نه پرېږدم. مبارزه کوو چې وطن مو، وطن شي.»



## په سخته مو کولی شول ساه واخلو

د ۲۰۲۱ کال په فبرورۍ میاشت کې، د کابل ښار د لومړۍ ناحیې د باغ قاضي پر سړک یو ځانمرګی برید وشو. په دې پېښه کې شېر تنه د افغانستان د درې سیکانو هیوادوالو په ګډون ټپیان شول او د دې مذهبي اقلیت یو تن ساه ورکړه. شېر سینګ او ورور یې د هغې پېښې د ټپیانو له جملې څخه ؤ. شېر، سهار نهه بجې له خپل ورور سره د خپل خوراکه پلورنځي دوکان پرانیزي. شېر سینګ جارو راخلي او له خپل ورور سره د خرڅلاو لپاره د خوراکي موادو پر ځای پر ځای کولو بوختیږي. په دې وخت کې، یو ځل بوږنوونکی غږ له نږدې پورته کیږي، شېر سینګ او نور خلک چې شاوخوا یې ولاړ ؤ، هوا ته پورته کیږي او په ځمکه لوېږي. په دې برید کې شېر سنګ او ورور یې ټپیان کیږي او د سترګو رپ سره یې ټوله شتمني چې په دوکان کې وه، له خوراړونو خارو لاندې کیږي؛ خو له خراړونو خاورو دروند غم د شېر سینګ او کورنۍ د ژوند پر سر لوېږي؛ هغه خپل وراره چې شني نومېده له لاسه ورکوي.

شېرسینګ مې د کابل ښار په شوربازار کې وموند او کیسو ته یې کېناستم. شېر، په افغانستان کې د سیکانو د ژوند د اتیا کلونو ژوندی تاریخ دی. هغه د هغه رنځ او ستونزو له ژورو څخه کیسه کوي، چې د افغانستان پر خلکو او په ځانګړي ډول پر سیکانو باندې تیر شوي. هغه پر خپلو دوکانونو له ځانمرګي برید څخه خبرې پیلوي.

د شیر سینګ کیسې په یو محور څرخي؛ د ځاني او مالي امنیت نشتوالی. داسې ښکاري، په افغانستان کې د ژوند ګردونه او بادونه د ده او نورو سیکانو لپاره یواځې همدا لري. هغه، د هغو سختو ورځو کیسه کوي چې په کابل یې تیروي. د هغو ځورونو چې هر سهار او ماښام یې د سیمې له اوسیدونکو وینې. د خبرو په جریان کې شاو خوا ګوري هسې نه د سیمې اوسیدونکي یې شکایتونه او ګیلې واوري. هغه اوښکې چې د خبرو پر مهال یې د سترګو په کونجونو کې تاویږي، انسان د مذهبي اقلیتونو په ځانګړې ډول د سیکانو د محرومیت ژورو ته بیایي.

کله چې ترې د خصوصي ژوند پوښتنه کوم، وایي چې په ژوند کې څه نه لري. دکان یې کرایي دی. کور نه لري او هغه ځمکه چې له نیکونو ورته په میراث پاتې وه، د یو شمېر زورواکانو له خوا غصب شوې ده.

وروسته له دې چې د شېر سینګ دوکان د چاودنې له امله نړیږي، په سختۍ یو ځل بیا بل دوکان جوړوي؛ خو په اسانۍ نشي کولای د خپل ژوند لومړني مخارج له دې دوکان څخه وباسي.

شیر سینګ سره له دې چې د خپل ژوند زیاته برخه یې په افغانستان کې تېره کړې، او په افغانستان کې یې د سیاسي نظام لپاره قرباني هم ورکړې، خو وایي چې په دې ورځو کې یې په ژوند کې ډېر فشارونه دي. هغه فشارونه چې په ژوند کې ډېر کم ورسره مخ و. هغه د خپلې عسکرۍ د وخت کیسه کوي او وایي چې د داوودخان په وخت کې یې پینځه کاله عسکري کړې ده او دوه کاله یې په خپله خوښه په داوطلب ډول د داوود خان نظام ته خدمت کړی.

«د داوود خان په وخت کې مو امنیت درلود، چا پوښتنه نه کوله چې د کوم ځای یې او ولې کابل ته راغلی یې. چا نه ویل چې هندو هندوستان ته لاړ شه». د هغه په وینا د داوود خان له جمهوریت وروسته یې په ژوند کې سختي راغلې ده. شېر سینګ وایي چې د ژوند تر ټولو بد دوران یې هغه و چې د ډاکټر نجیب الله حکومت د مجاهدینو له خوا سقوط کېده. «په هغه وخت کې له هرې خوا راکټونه راتلل، نږدې سل تنه (سیکان) ووژل شو او هره خوا مو چې لیدل د انسانانو غوښې وې.»

شېر سینګ چې عمر یې د کابل په کوڅو کې تېر کړی، اوس په کابل کې د سیکانو په یو درمسال کې ژوند کوي. وایي د خلکو د ځورونو له امله او د اولادونو د ژوند د ښه کېدو لپاره حاضر دی افغانستان پرېږدي، خو پیسې نه لري. «یو ګاونډی راځي او وهي مو او د دلیل پوښتنه هم نشې کولای چې ولې یې ووهلې».

هغه وایي، حکومت له هغه وضعیت څخه چې پر دوی تیرېږي خبر نه دی: «لور مې له کوره نشي وتلی، خلک یې ځوروي. هندو ورته وایي او هر یو ځان ته جرات ورکوي چې خبرې ورپسې وکړي. شرایط موږ ته داسې تنګ شوي چې نور مو ساه بنده شوې او په سختۍ سره ساه اخلو».


ਸਤਿਨਾਮੁ
ਵਾਹਿਗੁਰੂ
ਵਾਹਿਗੁਰੂ ਜੀ ਕਾ ਖਾਲਸਾ
ਵਾਹਿਗੁਰੂ ਜੀ ਕੀ ਫਤਹਿ
ਸਤਿਨਾਮੁ
ਵਾਹਿਗੁਰੂ

## «زموږ مخامخ ژوندي وسوځېدل»

د حکیم اجیت سینګ ورور چې نوي یې درسونه په آریانا پوهنتون کې د درمل جوړونې (فارمسي) په برخه کې پای ته رسولي ؤ، درملتون یې جوړ کړی و. د دوکان پر دړه یې لیکلي ؤ: «سرخرود درملتون». د دې درملتون څو ورځې نه تیرېږي چې ننګرهار ولایت ته د جمهور رئیس اشرف غني د سفر زمزمه اورېدل کیږي. ټاکل شوې چې جمهور رئیس په دې سفر کې د دې ولایت یو شمېر سیکان او هندوان هم خپل حضور ته ومني او ورسره وګوري.

د جمهوري ریاست د ګارد ځانګړي ځواکونه د جمهور رئیس له سفره څلور ورځې وړاندې د جلال‌آباد ښار په ځانګړو ځایونو کې ځای پرځای شوي. د امنیت لپاره محدودیتونه له څلورو ورځو وړاندې پیلیږي. جمهور رئیس رارسیږي او د سیکانو او هندوانو له مشرانو سره یې لیدنه له غرمې وروسته درې بجې ټاکل شوې ده. له غرمې وروسته درې نیمې بجې، د افغانستان ۱۶ تنه هندوان او سیکان هیوادوال چې په منځ کې یې یو مسلمان هم و، له لومړي امنیتي خط څخه تیر شول. په دویم امنیتي خط کې چې د جمهوري ریاست د ساتونکو ځانګړو ځواکونو له خوا اچول شوی، سیکان او هندوان له امنیتي ځواکونو غواړي چې د دوی یو موټر ته له امنیتي خط څخه د تېرېدو اجازه ورکړل شي. ځکه چې ځینې هندو او سیک مشرانو د عمر د ډېروالي له امله، په سمه توګه نشول

کولای پلي لاړ شي. له همدې امله باید د دوی یو موټر له امنیتي کربنې تېر شوی وای. د جمهوري ریاست د ساتونکو ځانګړي ځواکونه له دوی غواړي، چې یوه شېبه هماغلته منتظر پاتې شي چې له دننه څخه یو موټر ته د تېرېدو اجازه واخلي. لس دقیقې نه وې تېرې چې د چاودنې یو ویروونکی غږ په جلال آباد ښار کې خپور شو او له مخابراتو څلورلاري څخه یو تور دود اسمان ته پورته شو. هغه څه چې له دې بوږنوونکي غږ وروسته پېښ شول د اجیت سنګ لپاره یې بیانول سخت دي. هغه په داسې حال کې چې په جلال آباد ښار کې د عطارۍ د دوکان د مېز تر شا ما ته مخامخ ناست دی، ما نه سترګې اړوي؛ ستونی یې ډک شوی و؛ نور یې نه غوښتل خبرو ته دوام ورکړي. هغه پر حقه و؛ د غږ له لحن څخه یې د هغه غم لویوالی لمس کیدای شو، چې پر اوږو یې پورت دی.

اجیت سینګ ۳۶ کاله وړاندې په ننګرهار کې زېږېدلی او تر اوسه د دې ولایت په مرکز کې ژوند کوي. په افغانستان کې یې د کورنۍ څوک نشته. یوازې اجیت سینګ دی چې هره ورځ د لمر په راختو سره له درمساله د دوکان په لور ځي او په هغو درملو بوختیږي چې په خپل لاس یې اماده کړي دي. د اجیت سینګ د کورنۍ غړي له هغې وروسته چې د امنیتي وضعیت خرابوالی ورباندې کړی تنګوي، په ۲۰۱۲ کال کې افغانستان پرېږدي او کورنۍ یې هند ته کډوالیږي. له ۲۰۱۲ وروسته هغه له خپل ورور انوپ سینګ سره چې په زدکړه او تحصیل بوخت دی په افغانستان کې پاتې کیږي. د اجیت سینګ او رور ژوند یې کلونه له کورنۍ پرته تېربده. هغوی د خپل هیواد راتلونکي ته خوشبین ؤ؛ هیله مند ؤ چې یوه ورځ یې هیواد آرام شي او د کورنۍ غړي یې له هندوستانه بېرته راستانه شي. خو په ۲۰۱۸ کال کې یې د ورور په ګډون ډېر شمېر خپلوان په جلال آباد ښار کې په برید کې ووژل شول.

حکیم اجیت سینګ چې په خپل دوکان کې و، د چاودنې غږ یې واورېد او وېره یې په زړه کې پیدا شوه. کله چې هغه ځای ته رسیږي، ویني چې یو شمېر دوستان او هم‌مذهبه یې سخت ټپیان شوي دي. یو موټر اور اخستی. هغه او یو شمېر دوستان یې غواړي هغې ځای ته نږدې شي او ټپیان روغتون ته ولیږدوي، چې د جمهوري ریاست د ساتونکو ځانګړو ځواکونو له ډزو سره مخامخیږي.

اور زیاتیږي او ټپیان یې په منځ کې بند پاتې دي؛ خو هیچا ته د نږدې کېدو اجازه نه ورکول کیږي. د اجیت سینګ په وینا ډېر شمېر ټپیان چې ورور یې هم پکې و، د اور په زیاتېدو سره کباب شوي دي او سوځیږي. لومړی اور وژونکی امبولانس چې رارسیږي، د تخنیکي ستونزو له امله یې فواره کار نه کوي. تر بل اور وژونکي پورې په موټر کې پاتې ټول ټپیان سوځیږي.

اجیت سینګ په سوړ اسویلي سره وایي: «ډېر سوي ؤ. د پېژندو وړ نه ؤ.» د هغه په باور که امنیتي ځواکونو ټپیانو سره د مرستې اجازه ورکړې وای، کم تر کمه شپږ تنه دوستان او قومیان یې له هغې پېښې ژوندي راوتلی شول. «ورور مې، درې خواریه دوستان مې، زما په مخامخ وسوځېدل، پولیسو نه یواځې موږ ته د مداخلې اجازه را نکړه، خپله یې هم د موټر دروازه خلاصه نه کړه، چې حل اقل هغوی خپل ځانونه له موټره ویستي وای او داسې ژوندي ژوندي زموږ د سترګو پر وړاندې نه سوځېدلای!»



## په کابل کې د هندوانو او سیکانو لپاره د یوائځني ښوونځي دروازه هم وتړل شوه

د کابل په شوربازار کې د بابانانک ښوونځی چې یو وخت یې نږدې ۱۰۰ تنه زده‌کوونکي درلودل، اوس یې دروازه تړل شوې او د ګوتو په شمېر زده‌کوونکي یې چې پینځه او شپږو تنو ته رسیږي، د ښوونځي پر ځای په عبادت‌خونه کې درس لولي. د دې ښوونځي ښوونکي وایي، له هغې وروسته چې د زده‌کوونکو په زړه کې رامنځته شوې، نشي کولای ښوونځي ته لاړ شي. اریندر سینګ په دې ټولو کلونو کې د دیني زده‌کړو له یو ځوان زده‌کوونکي تر ښوونکي او د عبادت‌ګاه تر متولي کېدو پورې، د سیکانو رنځ او سختۍ له نږدې لیدلي دي: «کله چې شیشه ماته شي جوړول یې سخت کار دی. که د هیواد وضعیت همداسې دوام پیدا کړي فکر نه کوم تر راتلونکي کال پورې هیڅوک دلته پاتې شي.»

نریندر سینګ چې د سیکانو د دیني زده‌کړو ښوونکی او د کابل په شوربازار کې د بابانانک ښوونځي مرستیال دی، وایي چې یو وخت دې ښوونځي ۸۵ زده‌کوونکي درلودل او په وروستیو کلونو کې یې شمېر ۶۵ تنو ته راکم شو. حتا تر تېرو دوو کلونو د زده‌کوونکو شمېر له ۳۰ تنو زیات و. خو په وروستیو دوو کلونو کې د کابل شوربازار د هندوانو او سیکانو د ډله ییزې کډوالۍ شاهد و، چې نسل په نسل په دې سیمه کې لوی شوي ؤ او د افغانستان د ټولنې رنګارنګي یې زیاته کړې وه. دا رنګارنګي یوائځې د کابل په شوربازار کې

نه خلاصه کېده؛ بلکې د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې یې حضور دلود.

اریندر وايي چې د امنيتي تهديدونو تر څنګ، په کوڅه او سړک کې د زده‌کوونکو ځورول د دې ښوونځي د شاړېدو بل دليل و. ښوونځی له درمسال سره نږدې دی چې ډېری کورنۍ د درمسال په په وړو خونو کې ژوند کوي. د زده‌کوونکو ماشومانو مصوونيت د استوګنې له ځای سره د ښوونځي د نږدې جوړېدو يو دليل دی. د اريندر سينګ په وينا، دوی د ساتونکي ته دنده سپارلې وه چې ماشومان له کوره تر ښوونځي او له ښوونځي تر کوره بدرګه کړي: «څو ځل پېښ شوي چې زموږ بچيان يې وهلي ټکولي دي. په تيکو يې ولي، يا يې تلاشي کوي او پيسې او شيان ترې اخلي. ځکه خو په کابل کې د يواځني فعال ښوونځي دروازه هم وتړل شوه.» د هغه په وينا، د اوس لپاره د ښوونځي تړل کېدل موقتي دي او کيدای شي د وضعيت له ښه کېدو سره ژر فعال شي او يا ممکن د تل لپاره يې دروازه تړلې پاتې شي.

اریندر سينګ، په دې هيله چې په افغانستان او نړۍ کې سوله ټينګه شي، له خپلو څو زده‌کوونکو سره يوځای په کابل کې په يو معبد کې دعا کوي. اندېښنه يې پر ټنډه له ګونځو څخه ښکاري: «وضعيت هره ورځ له تېرې ورځې خطرناکه کيږي، په افغانستان کې ډېره کرکه موجوده ده... حتا د عبادت په وخت کې زموږ د بدن په غړو کې ويره ښکاري.. د افغانستان خلکو ډېره سختي ليدلې، نور د هيچا لپاره د دې هيواد هيڅ ځای امن نه دی.»

د خپلو قوميانو د لاسه ورکولو دروند غم، د تلليو خالي ځای او د خوشحاله ورځو ارمان چې بيا نه را ګرځي، په افغانستان کې د دې اقليتونو د پاتې غړيو پر ژوند سيوری غوړولی.

هيله يې په هيواد کې د سولې راتلل دي، خو د وطن پرېښودل يې وروستی انتخاب دی: «که ډېر زيات مجبور نکړل شو، نه غواړو خپل هيواد پرېږدو.»

## کله چې یې زما ورور وواژه، قاتل وویل: «څه یو هندو، څه یوه مرغۍ»

عتر سینګ، په وینو کې پورت دی او څوک یې له ځایه نه پورته کوي، چې روغتون ته یې ورسوي. یو سپین ږیری سړی وایي چې هغه کافر دی او باید کافر ته لاس ور نه وړل شي. د خلکو له منځه یو سړی عتر سینګ ته ور نږدې کیږي او هغه له وینو راپورته کوي او په اوږه کوي یې. د خلکو له ګڼې ګونې یو بل سړی را مخې ته کیږي او ورته وایي. «هغه چېرې وړې؟ هغه کافر دی»، هغه کس چې عتر سینګ یې په اوږو کړی، خلکو ته مخ اړوي «زه دلته یو انسان وینم؛ مسلمان او کافر نه وینم.»

د عتر سینګ د تدفین له مراسمو وروسته، د سیمې مشران او خانان راټولیږي او تصمیم نیسي چې د عتر سینګ د قاتل حکیم جان کور ته ورشي، او د عترسینګ د وژلو دلیل معلوم کړي. انجان سینګ په داسې حال کې چې د ټلفون پر لیکه یې ستونی غریو نیولی معلومیږي، وایي، کله چې مشران د قاتل کور ته ورځي، دردوونکی ځواب اوري؛ د حکیم جان پلار د سیمې مشرانو ته وویل: «څه یو هندو، څه یوه مرغۍ؛ څه فرق کوي». د سیمې مشران په دې خبره نهیلي کیږي. د دې پېښې پینځه لس کاله تیریږي؛ خو انجان سینګ وایي داسې یې په یاد ده لکه چې تېره ورځ پېښه شوې وي.

د عترسینګ کورنۍ اوس په هند کې ژوند کوي. ورور یې انجان سینګ هیله لري یوه

ورځ خپل هیواد افغانستان ته ستون شي. «موږ شپه او ورځ په همدې هیله ژوند کوو چې کابل ته ستانه شو. هر ځل چې به کابل ته راتلم، پلار به مې ویل چې ورونه یې پیدا کړم؛ خو تر اوسه نه یم بریالی شوی چې هغوی پیدا کړم». د افغانستان ناوړه وضعیت، د هغه د کورنۍ وضعیت هم ویجاړ کړی، داسې چې د کورنۍ له نږدې غړو سره یې اړیکه پرې شوې: «پلار مې په هندوستان کې ومړ او تره مې په افغانستان کې؛ خو پینځه لس کاله یې یو بل و نه لیدل او د یو بل له حاله بې خبره ؤ.» انجان سینګ چې له افغانستانه مسافر شوی دی او اوس په هند کې له خپلې کورنۍ سره اوسېږي، د موبایل له هغې خوا په غریو نیولي غږ د هغې ورځې تریخوالی یادوي چې خپل ورور یې په بې رحمۍ سره ووژل شو.

وایي، د عترسینګ خط و بریت لا نه و سپین شوي، له ماشومتوبه چې یې په ښوونځي کې ځورول لېدلي ؤ، نه یې غوښتل ښوونځي ته لاړ شي.

یوه ورځ یو راکټ راځي او د پکتیا ولایت د ګردېز ښار په یو ښوونځي کې لګېږي. عترسینګ په دې اندېښنه کې چې ورونو ته یې ضرر نه وي رسېدلی، د ښوونځي په خوا روانېږي. په هغه ښوونځي کې چې راکټ لګېدلی و، ورته د ننوتو اجازه نه ورکول کېږي. هغه سرتېری چې د ښوونځي په یو کونج کې ورته د خلکو د ننوتلو د مخنیوي ماموریت سپارل شوی، عترسینګ ته وایي چې لا د راکټ مرمۍ نه ده چاودلې او بېرته لاړ شه. عترسینګ د عبدالحی ګردیزي ښوونځي په خوا ځي؛ په دې ښوونځي کې یې ورونو درس لوستلو. د انجان په وینا، عترسینګ له هغې وروسته چې په ښوونځي کې څو ملګري او نږدې کسان ګوري، بېرته د ګردېز بازار ته ستنېږي. عترسینګ له اته لس کلونو زیات عمر نه درلود، له بازاره لږ انګور ځان سره اخلي او په یوه نږدې تپه کې د ورونو له ښوونځي سره نږدې د انګورو په خوړلو لګیا وي. په دې وخت کې یو سړی د حکیم جان په نامه چې د اربکیانو - ولسي ځواکونو - په ډله کې و، هغه ته ور نږدې کېږي او تر څنګ یې کیني. د سیمې د خلکو په وینا چې انجان سینګ یې موږ ته کیسه کوي، له څو خبرو وروسته چې یو بل سره یې رد و بدلې کړې او پوه نه شو چې یو بل ته یې څه وویل؛ حکیم جان له ځایه پورته کېږي او د ټوپک ماشه پرله پسې کېکاږي. د سترګو رپ کې د دزو شمېر د دوارو لاسونو د ګوتو شمېر ته رسېږي. انجان سینګ وایي: «پینځه مرمۍ یې په ګورده او پینځه

مرمۍ یې په ورون لګېدلې وې.» عترسینګ په وینو کې لاس و پښې وهي.

هغه له نیم ساعت زیات د مرستې رسېدو لپاره کوښښ کوي، او د ژوندي پاتې کېدو لپاره وروستۍ هڅې کوي. بې شمېره خلک یې شاوخوا یوائې او یوائې د ځنکدن د تماشې لپاره راټول شوي ؤ، لکه هلته چې هیڅ انسانیت نه وي. هر چا چې غوښتل هغه له ځایه پورته کړي د نورو له خوا لعنت پرې ویل کېده. ویل یې هغه کافر دی او باید لاس ور نه وړل شي. په دې منځ کې، د عترسینګ د نجات فرشته نیم ساعت وروسته را رسیږي، هغه ځوان چې یوائې انسانیت ورته مهم دی. هغه عترسینګ پر خپلو اوږو پورته کوي او د خلکو خبرو ته اهمیت نه ورکوي؛ خو له بده مرغه چې نور ناوخته شوی و، عترسینګ له یو جسد پرته بل څه نه و پاتې.





## زموږ بې کسي د هغوی د باج اخستلو لپاره یو فرصت و

پرتاب سینګ دیارلس کلن و چې کورنۍ یې جلال آباد ښار پرېښود او کابل ته لاړل. که څه هم د ده کورنۍ او یو شمېر خپلوانو یې څو کلونه مخکې له خوږیانیو ولسوالۍ څخه جلال آباد ښار ته کډه کړې وه، خو ښار هم نور د دوی لپاره امن نه و. تهدید، جبر او باج اخستل له جلال آباد څخه کابل ته د دوی د کوچیدو علت و؛ خو له دې بې خبره چې کابل د زورواکو او غلو پلازمېنه ده.

پرتاب له خپلې کورنۍ سره د کابل په شوربازار کې د اوسېدو ځای انتخاب کړ، هغه ځای چې نورو ډېرو هندوانو او سیکانو هلته کورونه درلودل. هغه او پلار یې د کورنۍ د لګښتونو د تامین لپاره یو دوکان جوړ کړ. د پرتاب له لویېدو سره، د دوی کاروبار هم رونق وموند او ګټه وټه یې زیاته شوه. د پلار یې چې عمر د زړښت پر لور روان و پرتاب ته یې واده وکړ او په شان او شوکت سره یې د دوستانو او کورنۍ په ګډون مراسم و نیول. پرتاب



سینګ له واده سره د دوو کورنیو خاوند شوی و؛ څومره چې دوو کورنیو درلودلو ته خوښ و همدومره اندېښمن هم و. هغه باید دواړه کورنۍ ساتلې وای. یو ماښام چې پرتاب نوی له دوکانه کور ته رسېدلی و او خپل ماشوم زوی یې په غېږ کې نیولی و، دروازه په زوره وټکېده، دروازه یې چې خلاصه کړه، ښینه یې وه. هغه چې ساوتیکا وه، ویل یې چې پلار یې له درمساله کور ته نه دی ستون شوی. د ښینې په دې جملې سره د پرتاب اندېښنه چې څو کاله ورسره وه، رښتیا شوې وه. خو خپل ځان ته یې ډاډ ورکاوه چې شاید د کوم خپلوان کور ته تللی وي.

پرتاب له خپلې کورنۍ سره پوره دوه ورځې هر هغه ځای ته لاړل چې دوی ګومان کاوه خسر به یې هلته تللی وي، خو پیدا نشو. نور نو د پرتاب شک ورو ورو په یقین بدلیږي. درېیمه ورځ چې کله هغه او کورنۍ یې له لټولو ستړې کیږي، پرتاب ځي چې خپل دوکان پرانیزي. د دوکان په پرانستلو سره له یو لیک سره مخ کیږي چې د دوکان له وړوکي سوري څخه دوکان ته غورځول شوی. لکه د ماشوم د لاس خط، یوه وړه جمله لیکل شوې وه: «شاید د خسر ژوند دې دوه لکه افغانۍ ارزښت ولري. که ژوندی یې غواړې، دوه لکه تیارې کړه.» درې ورځې وخت نیسي چې پرتاب غوښتل شوې پیسې له دوستانو او خپلوانو راټولوي او هغوی ته یې تیاروي. پیسې چې څنګه هغوی (تښتوونکي) وایي، پرتاب یې په هماغه طریقه هغوی ته سپاري، خو لا یې هم خسر نه خوشې کیږي. د پرتاب د خسر د تښتولو پینځه ورځې کیږي، له دوه سوه زره افغانیو ورکولو سره سره، هغه لا هم له تښتوونکو سره دی. پرتاب سینګ په هغو ادرسونو چې د ده او تښتوونکو تر منځ رامنځته شوي ؤ، بیا د خپل خسر لټون کوي. اختطافچیان پیغام رالیږي چې څه تضمین شته چې د خسر له خوشې کولو وروسته تاسو پولیسو ته اطلاع نه ورکوئ. تښتوونکي وایي چې باید د دې خبرې یو ضمانت موجود وي. پرتاب د خپل دوکان جواز د ضمانت په توګه تښتوونکو ته ورکوي او خسر یې له شپږو ورځو وروسته د تښتوونکو له منګولو خلاصیږي.

کله چې یې خسر خپلې کورنۍ ته د تښتوونکو د چلند کیسه کوي، ټول حیرانیږي. په دې شپږو ورځو کې یې نه یوازې هغه ته کافي او به او خواړه نه دي ورکړي، بلکې هره ورځ په شکنجې او وهلو او ښکنځلو سره په مرګ تهدید شوی و. پرتاب له دې پېښې وروسته

د خپل هیواد په پرېښودو فکر کوي، خو تصمیم یې ونیو چې له هغې مخکې باید خپله قرضداري ختمه کړي. دوه سوه زره افغانۍ د هغه لپاره کمې پیسې نه وې؛ په دې منځ کې یوائې ۵۰ زره افغانۍ یې خپلې پیسې وې نور ټول قرض و.

د خسر د تښتولو یې یوه میاشت تېره شوې وه. هغه یوه ورځ غرمه چې د خپل دوکان د دخل تر څنګ د خپلو پیسو په حساب کتاب بوخت و او شمېرلې یې چې څومره توانېدلی د خپلو قرضونو د ادا کولو پیسې برابرې کړي، ناڅاپه یې د دوکان په دروازه کې دوه کسان ودرېدل. پرتاب په داسې حال کې چې یوه اندازه پیسې یې په لاس کې وې، د دې دوو کسانو په لیدلو یې لاسونو حرکت پرېښود او په خوله کې یې لاړې ونښتې. د هغوی بڼه د پېرېدونکو په څېر نه وه، د راننوتلو انداز یې بس و چې د پرتاب زړه وریږدوي. د دوکان جواز چې پرتاب تښتوونکو ته ضمانت ایښی و، هغوی لا زړور کړي ؤ. نور نو اختطافچیان د پرتاب سینګ د دوکان د ادرس تر څنګ، د هغه د پانګې او ګټې وټې په اړه هم پوهېدل. دوی پرتاب له ۳۰ زرو افغانیو سره له خپل دوکان څخه له ځان سره وړي، نور نو کمې پیسې نه غواړي؛ هغوی ۵۰۰ زره افغانۍ د پرتاب د خوشې کولو لپاره د هغه کورنۍ ته وړاندیز کوي. پرتاب سینګ پوهېده چې که کورنۍ یې دوکان هم وپلوري، دومره پیسې نشې تیارولی؛ دا هغه مسله وه چې هغه یې د تېښتې په فکر کې واچاوه. پرتاب چې کله د تښتوونکو له منګولو وتښتېد ژر تر ژره یې هیواد پرېښود.

پرتاب سینګ اوس له ۳۰ کلونو زیات وخت کیږي چې په هند کې ژوند کوي او د خپل ځان او کورنۍ لپاره یې ښه روزګار جوړ کړی دی؛ خو هغه ترخه خاطره چې له افغانستانه یې لري، لا هم هغه ځوروي. «هغه شپه چې د اختتاف چیانو له منګولو وتښتېدم خپل ځان سره مې لوړه وکړه چې نور باید دا هیواد پرېږدم. موږ خپل وړوکی کاروبار نشو چلولی. هغوی لاس اخستونکي نه ؤ؛ زموږ کور، دوکان او هر ځای یې لیدلی و. کوم آزار چې مې له اختطافچیانو ولید، لا مې هم په یاد دی، وهلم یې او ویل یې که پیسې را و نه رسیږي، وژنو دې. تېښته اسانه نه وه، هیڅ ویلی نشم چې په څه سختۍ وتښتېدم، خو د خپلې کورنۍ لپاره مې باید دا کار کړی وی. ځکه پوهېدم چې هغوی موږ عاجز لیدلي یوو او سبا مو کوم بل تن تښتوي».



## پوهیږي چې زه څوک نه لرم، خپل قرض څلور برابره غواړي

دوه شپېته کلن توتي سینګ په کابل ښار کې یو عطاري پلورونکی دی. زه یې د دوکان د دروازې مخکې کېنم او له هغه غواړم چې په کابل ښار کې د خپل شپېته کلن ژوند کیسه راته وکړي. مخکې له دې چې خبرې راسره شروع کوي، ناڅاپه د یو ځوان په لیدلو چې مور ته مخامخ راښکاره کیږي، د ګونځې څېرې رنګ یې الوځي.

زه چې څو میاشتې کیږي په دې شاوخوا کې تګ راتګ لرم، د هغوی له تکلیف څخه چې د دې ځای له خلکو یې لري، د هغه اندېښنه او اضطراب درک کوم.

هغه ځوان چې توتي‌سینګ یې په لیدلو نارامه شو، پرنګ پلنګي لباس یې اغوستی؛ لوی ویښته لري او سپین رنګه څادر یې له سره تاو کړی دی. د پتلون پایڅې یې له زنګنو یوه لوېشت لاندې دي او غټه برچه یې په شین رنګه کمربند کې ټومبلې ده. توتي‌سینګ د دې ځوان په لیدو نارامه کیږي، د هلک پر خوا ورو ورو قدم اخلي. د دواړو د خبرو په جریان کې د شاهد په توګه پوهیږم چې هغه ځوان توتي‌سینګ تهدیدوي. وروسته، دواړه له یو بله جدا کیږي او توتي‌سینګ بېرته مور سره یوځای کیږي. کله چې ترې د قضیې پوښتنه کوم، خپل سر د افسوس په دود ښوروي او وایي چې څه وخت مخکې یې له دې کس څخه پینځه زره افغانۍ قرض کړې وې؛ که څه هم په خپل وخت یې پیسې ور سپارلې دي، خو هغه په خپلو اصلي پیسو قناعت نه کوي. کله چې توتي‌سینګ د هغه ځوان پیسې بېرته ورکوي،

ترې غوښتل کیږي چې باید څلور برابره پیسې ورکړي؛ ځکه یو وخت یې په هغې پیسو کار کړی دی. «وایي چې شل زره افغانۍ راکړه.» توتي‌سینګ نشي کولای دومره پیسې برابرې کړي؛ خو د هغه ځوان له خوا په مرګ تهدیدیږي. توتي‌سینګ چې د هغې پیسو دوه برابره ور نه کړي، بله چاره نه لري: «لس زره افغانۍ مې ورکړې او تر یو وخته نه راتلو، اوس راغلی او وایي چې لس زره نورې هم باید راکړې».

توتي نه پوهیږي چې دې باج اخستنې ته څنګه ځواب ورکړي. له یوې خوا مجبور دی چې د هغه ځوان غوښتنو ته تسلیم شي؛ ځکه که داسې و نه کړي، د شپې یې پر کور یا دوکان برید کوي او هر څه چې لري ځان سره یې وړي. توتي سینګ چې بوختیا یې عطاري ده، هره ورځ له څلور سوه افغانۍ زیاته ګټه نه لري، خو هغه باج چې باید هغه ځوان ته یې ورکړي، د یوې نیمې میاشتې کار ثمره یې ده.

د افغانستان سیکان سربېره پر دې چې د خلکو له خوا ځورول کیږي، له امنیتي تهدیدونو سره هم مخامخ دي. تېر کال - د مارچ ۲۵ مه - د دوی پر عبادت‌خونې د برید له امله پینځه ویشت تنه ووژل شول. دا برید د دې باعث شو چې د توتي سینګ یو شمېر نږدې خلک افغانستان پرېږدي؛ خو توتي‌سینګ د نادارۍ له امله نشي کولای له افغانستانه بهر لاړ شي. هغه وایي: «دلته کور نه لرو، مېرمن او اولادونه مې اړ شول چې هند ته لاړ شي. زه خپله یواځې پاتې شوم.» د توتي سینګ ژوند د دوی له ټولنې سره په افغانستان کې د شته تبعیض سمبول دی.

د ډاکټر نجیب د حکومت د وخت کیسه کوي او له هغې وروسته چې د مجاهدینو حکومت رامنځته کیږي. د مجاهدینو په برید کې د دې هیواد د نورو خلکو په څېر د افغانستان سیکان هم ضرر ویني.

توتي‌سینګ، د طالبانو د حکومت پر مهال مجبوریږي چې هندوستان ته لاړ شي؛ خو له هغې ځایه ویستل کیږي او بېرته هیواد ته ستنیږي. هغه د داوودخان د وخت کیسې هم لري. هغه وایي: «د داوود د حکومت پر مهال زه عسکر وم او په دارالامان کې مې دنده ترسره کوله، چا موږ سره کار نه درلود او خلکو د وروڼو په څېر موږ سره چلند درلود.» دا د افغانستان د سیک اقلیت غړی وایي چې د حامد کرزي په دوره کې یې نسبتاً ښه ژوند

درلود؛ خو ماشومان یې په ښوونځي کې ځورول کېدل. «د ماشومانو ویښته یې کش کول او تهدیدولو یې چې ولې نه مسلمانیږئ؟»

له دې هر څه سره، توتي‌سینګ افغانستان سره مینه لري. «دا زموږ وطن دی. که شرایط ښه شي، بېرته کورنۍ مې راستنیږي. خو په څو تېرو کلونو کې د ټولو لپاره شرایط سخت شوي دي. خلک په سختۍ ژوند پر مخ وړي، کاروبار نشته او ځانمرګی هم هره شېبه ممکن راشي. څو غیرانه چې ګټو زورمند ګاونډیان یې رانه باج اخلي.»



## «عادي ژوند درلودل مونږ لپاره یو ارمان دی»

«دا چې وایي هندوان او سیکان ممکن خپل هیواد پرېږدي، غلطه ده. هغوی عملاً خپل هیواد پرېښې دی. که یو شمېر یې فیزیکي حضور لري، خو د معنوي او فیزیکي حضور تر منځ ډېر توپیر دی». دا د حکیم جسبیر سینګ خبرې دي چې کیسو اورېدو ته یې د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې د عطاري په دوکان کې ناست یم. حکیم جسبیر په ننګرهار ولایت کې زېږېدلی او پنځوس کلن دی. جسبیر سینګ د کورنۍ یواځنی کس دی چې په خپل وطن کې ژوند کوي. د کورنۍ نور غړي یې د هغه سخت وضعیت له امله چې په افغانستان کې راغلی، هندوستان ته مهاجر شوي دي.

کله چې له جسبیر سینګ نه د تېرو دورو او د هیواد د کورنیو جګړو په اړه پوښتم، په عجیبه لحن سره وایي: «هغه ډېره ناعادلانه نه وه؛ که راکټ راتلل په ټولو راتلل». هغه د خپلو خبرو پر دوام د مجاهدینو د وخت او کورنیو جګړو او ترور او زورواکۍ نه پرده پورته کوي. د جسبیر سینګ په وینا، ډېری سیکانو په همدې دوره کې خپل جایدادونه له لاسه ورکړل. «د شپې دې کور ته راتلل او ویل یې په دې پیسو دې کور اخلم، نور مونږ هیڅ نه شول کولای. په زور یې زمونږ ګوتې اخستلې.»

د جسبیر سینګ د خبرو په اورېدو کې مې پام شو چې ځینې پېښې چې ممکن د نورو لپاره ډېرې ترخې او سختې وي، خو د هغه او قومیانو لپاره یې نور حساسیت پاروونکې نه

دي. شاید دا له ډېرو سختیو پرده پورته کوي چې دوی په خپل وطن کې ګاللې دي؛ هغه سختۍ چې پر وړاندې یې د کور او جایداد له لاسه تلل هیڅ نه دي. جسبیر هغه دوره چې پکې یې یو شمېر قومیانو کور او کوډله له لاسه ورکړل او رېندو راکټونو ترې قرباني اخستله، د ښې دورې په نامه یادوي. جسبیر سینګ په خپلو خبرو کې څو ځل افغانستان ته مور وایي. د هغه په وینا هېڅوک نه غواړي له خپلې مور نه جدا شي او د هغه د قومیانو هغو کسانو چې خپل هیواد یې پرېښی دی، د ځان د ساتنې لپاره نه، بلکې د عزت او آبرو د ساتنې لپاره یې دا کار کړی دی. کم تر کمه جسبیر سینګ د خپلې کورنۍ غړي له همدې امله هند ته لېږدولي دي.

جنګ د افغانستان هندو او سیک اقلیتونه تر نورو ډلو ډېر متضرره کړي دي. د جسبیر سینګ په وینا جنګ او ناامني ده چې دوی خپل عزت او آبرو په خطر کې ویني او مجبورېږي چې ډلې ډلې مهاجر شي؛ خو هېڅکله نه شي کولای له دې وطن سره عاطفي تړاو باندې سترګې پټې کړي. د جسبیر په وینا له افغانستان څخه د هندوانو او سیکانو د ډله ییزو کډوالیو سره سره د ټولو د کورنۍ یو غړی د استازي په توګه په افغانستان کې پاتې شوی؛ ځکه هغوی هیله لري چې یوه ورځ یې وطن آرامېږي او هغوی بېرته د هغې خاورې غېږې ته ستنېږي چې پکې زېږېدلي دي. «هماغه ورځ چې امنیت او آرامي شي، زه د کورنۍ ټول غړي بېرته راولم او د هغې ورځې د راتلو لپاره تل دعا کوم.»

هغه تېر وختونه ښه یادوي. د هغه په وینا د افغانستان هندوانو او سیکانو د ډاکټر نجیب د حکومت تر مهاله عادي ژوند درلود؛ خو له هغې وروسته له ډېرو ستونزو سره مخامخ شول او دا ستونزې ورځ په ورځ زیاتېږي. د ده په وینا؛ زړه یې په عادي ژوند پسې تنګ شوی دی.

«د ډېرو انسانانو لپاره ممکن له وېرې او ډار پرته کار ته تلل او د کورنۍ تر څنګ د عمر تېرول له تمې ور هاخوا نه وي. په حقیقت کې ډېری انسانان له کوم خنډ پرته له دې لومړنیو انساني حقونو برخه من دي. خو زموږ او زموږ د نږدې کسانو لپاره د ژوند کړی په افغانستان کې دومره تنګه شوې چې ډېر وختونه کېږي د یو عادي ژوند درلودل زموږ په ارمان بدل شوي دي.»

## زه یې په هماغه ورځ وژلی یم

د کابل ښار اړوند قلعه‌چه؛ هغه ځای چې هلته د افغانستان هندو او سیک هیوادوال د شمشان یا د مړو سوځولو مراسم ترسره کوي، په وروستیو کلونو کې له هر کال څخه ډېره ګڼه ګوڼه لري. سیکان او هندوان کلونه په دې سیمه کې د مړو سوځولو مراسم ترسره کوي، اوس د سیمې د مسلمانو اوسیدونکو مخالفتونه راپورته شوي او د پولیسو له دخیلیدو پرته د دې مراسمو ترسره کول نږدې له امکانه وتي دي.

د قلعه‌چې او د هندوانو او سیکانو د مړو سوځولو د ځای لیدلو لپاره جګتار سینګ لغمانی زما ملتیا کوي. هغه لوړو دیوالونو ته اشاره کوي چې د مسلمانو هیوادوالو د تیږو او خښتو ویشتلو پر وړاندې یې د مانع په توګه جوړ کړي دي، خو دا مذهبي ځای په وروستیو کې په نویو لوړو ودانیو کې محاصره شوی دی. د جګتار سینګ په وینا ډېری کاڼي له همدې لوړو ودانیو ویشتل کیږي: «هر کله چې د جنازې مراسم ترسره کیږي، هغوی پر موږ او جنازې باندې کاڼي او خښتې راولي.» د جګتار په وینا د افغانستان د هندوانو او سیکانو په ژوند کې اوسني محدودیتونه حتا د طالبانو په دوره کې نه ول: «د طالبانو په دوره کې هندوان او سیکان یواځې د یو زیړ رنګه شال په اغوستلو مجبور ول، چې له نورو هیوادوالو سره یې توپیر وشي، خو کولای یې شول خپل ټول مذهبي مراسم په آزادانه توګه ترسره کړي.» که څه هم د افغانستان خلک اکثریت مسلمانان دي، خو د دې هیواد اوسني

اساسي قانون له نظري اړخه د ديني اقليتونو حقونه تضمين کړي دي او د دې قانون پر بنسټ کولای شي په آزاده توګه عبادت وکړي.

دا مذهبي لړکي د پېړيو په اوږدو کې د افغانستان په سوداګرۍ کې مخکښ ؤ، که څه هم چې نن ورځ دوی يوازې د عطاري په دوکانونو پېژندل کيږي. له قلعه‌چې څخه د جګتار سينګ د دوکان پر خوا خوځيږو. هغه هم د افغانستان د لسګونو هندوانو او سيکانو په څېر د عطاري دوکان لري. خو په وينا يې نور نه د دوکاندارۍ مزه پاتې نه د ژوندګۍ. هغه وايي چې نور دوی ته په پخوانۍ سترګه نه کتل کيږي. دوی ته اوس ډېر د پردي او بهرني په سترګه ګوري او د دې په تمه دي چې کله به هيواد پرېږدي. د لغماني په وينا په افغانستان کې که هر څومره امنيتي وضعيت د خرابۍ په خوا تللی، د دې مذهبي لړکيو ځورونې هم زياتې شوې دي. دوی په بېلابېلو بڼو تهديديږي، کله د نه مسلمانېدو په جرم، کله د مړو د سوځولو په جرم او کله هم بې له کوم علته.

جګتار چې د پسرلي په يو مازيګر کې يې د خپل وړوکي دوکان په دروازه کې تکيه وهلې، ډېره هڅه کوي چې خپل غم پټ کړي او په ژبه يې را نه وړي. ويريږي چې کار به له لاسه ورکړي. هره خبره چې کوي سنجول شوې او شمېرلې خبرې کوي. وېره يې د درک وړ ده؛ له شاوخوا انسانانو او حتا له خپل ګاونډيو ويريږي. هغه چې هر څومره خبرې نه کولې څېرې يې هغومره ډېرې خبرې کولې؛ د لمر زيړه رڼا چې د کابل د يوې بلې ورځې د رڼا پای و، د ده د مخ ګونځې يې لوستلې. څه پوهېږې چې د څېرې په هره ګونځه کې يې څومره غمونه ؤ. و مې نشول کولی نور ترې څه وپوښتم، خو څه مې چې په ذهن او زړه کې ګرځېدل يوازې او يوازې همدا و چې پورته شم او هغه د يو ورور او يو هيوادوال په توګه غېږ کې و نيسم، خو و مې نشول کولی. هغه تجربې چې د خپلو مسلمانو هيوادوالو په اړه يې وکړې، د دې جرات راڅخه واخيست؛ له دې بديو سره، زما غېږ ورکول هم جعلي ښکارېدل.

څو ثانيې نه ما څه وپوښتل او نه هغه څه وويل، يوازې يې د عطارۍ د مغازې مخې ته له ګڼې ګوڼې ډک سړک ته کتل. له يو څه چوپتيا وروسته، پرته له دې چې خپلې سترګې له سړکه واړوي، و يې ويل: «پوهېږې، زموږ هره ورځ په وېره او ډار پيليږي، کله چې مسلمان

نه يې، د دوی په نظر انسان نه يې. تر ټولو بده دا چې نه پوهېږې څه وکړې او چېر ته لاړ شې.» د دې کلمو په ویلو د جګتار زړه نور هم را ډک شو، و يې نشول کولی تر دې زیات خپل غم پټ کړي او د خپلو اوښکو مخه ونیسي. اړتیا يې درلوده چې خالي شي؛ له درد، له سپکاوي او له هغه محنت څخه چې په سینه کې يې بندي شوی و. کله چې يې اوښکې بې اختیاره وبهېدې، نور يې د ژبې مخه هم و نه شوه نیولی. خپلې تر ټولو ترخې خاطرې يې يادې کړې، چې لا يې د سترګو په وړاندې وې.

جګتار د هغې ورځې کیسه وکړه چې په وینا يې مرګ يې په ټول وجود احساس کړ. یوه ورځ چې جګتار دوکان سمولو، یو د غټو اندامونو والا سړی چې دسمال يې له سره تاو کړی و دوکان ته ور ننووت. رښا ورځ وه، چې د ننه يې پښه کېښوده، جګتار ولړزېد. د سړي له څېرې ښکارېدله چې بد نیت لري. جګتار ته نږدې کېږي، چاقو د جګتار په خېټه زور کوي او کراره په غوږ کې ورته وايي، کلمه ووایه او مسلمان شه. جګتار چې نه پوهیږي څه وکړي په وار خطايۍ د سړي لاس ټېله کوي او چاقو له خپلې خیټې لرې کوي. په لوړ غږ چې ګاونډیان يې واوري، غږ کوي چې «څه کوې، سړی وژنې، څه مې کړي چې چاقو راوباسې». د جګتار لغماني دا خبرې د سړي چاقو لا تېره کوي او دا ځل يې په مرۍ ورته ږدي. غوسه ناک سړی چې ټول وجود يې کرکه ګرځېدلی و د ګاونډیانو راټولېدو ته هم پام نه کوي: «چاقو يې زما په مرۍ کلک اېښی و او چیغې يې وهلې چې کلمه ووایه، کنه مرۍ دې پرې کوم. ګاونډیانو سره له دې چې د مرستې نیت يې درلود، خو د نږدې کېدو جرات يې نه درلود. نه پوهېږم چې لس دقیقې شوې که زیاتې خو کله چې د مرګ چاقو په مرۍ درته کېښودل شي، هرې لس ثانیې درته مرګ دی.»

جګتار د دوکان د ګاونډیانو په مداخله هغه ورځ د خپل یو هم‌وطن مسلمان له چاقو بچ کیږي، خو په وینا يې شاید جسم به يې بچ شوی وي: «مرګ مې په ټوله معنا حس کړ، داده وم په کومه روحیه چې هغه سړی راغلی و، که ګاونډیان نه وای، زه يې وژلی وم. خو واقعیت دا دی چې زه هغه ورځ په ټوله معنا مړ شوم؛ اوس یوائې جسم یم چې ساه پکې نشته، زه يې په هماغه ورځ وژلی یم»


Leader
PROJECT DELUXE / DENIM

## اووه کاله یوائیتوب

اخیري خپلوانو او قومیانو یې اووه کاله مخکې د پکتیا ولایت مرکز ګردېز ښار پرېښود او هغه اووه کاله کیږي چې د خپل پلار د زیږیدو په خاوره کې یوائې، له خپلوانو او کورنۍ لرې ژوند کوي. د هغو ورځو کیسه کوي چې لسګونه تنه قومیانو یې د ګردېز ښار د بالاحصار تر څنګ ژوند کاوه او د دې ښار په زوړ بازار کې د لباس د تجارت لویه برخه د دوی په لاس کې وه. جګمون سینګ بشردوست پینځه څلوېښت کاله وړاندې په غزني ښار کې دنیا ته سترګې غړولي، هلته د خپلو نورو قومیانو ماشومانو سره یوځای رالوی شو، درس یې وویلو او د ماشومتوب او ځوانۍ ورځې یې له خپلو خپلوانو او قومیانو سره یوځای د سنایي په ښار (غزني) کې تېرې کړې. خو شاید هیڅ کله یې فکر نه کاوه، چې یو ورځ شرایط داسې بدل شي چې د خپلو قومیانو هیڅوک یې په څنګ کې پاتې نشي او ورځې او کلونه د خپلو خپلوانو نه لرې تېر کړي.

جګموهن سینګ سره له دې چې ماشومتوب یې په غزني کې تېر کړی، کابل ښار هم ورته پردی نه دی. د هغه لپاره کابل د ځوانۍ له خاطرو ډک دی. هغه څو صنفه د کابل په حبیبیه لېسه کې ولوستل او له همدې ښوونځي څخه یې د فراغت سند واخیست. جګموهن د کابل طبي پوهنتون ته د داخلې د ازموینې په ترسره کولو دې پوهنتون ته لاره و مونده او د طب په برخه کې یې د درمل جوړونې دوره په همدې پوهنتون کې پای ته

ورسوله. هغه تحصیلي رشته چې هغه سره یې د پلرنۍ بوختیا په برخه کې مرسته وکړه او کار یې له پخوا زیات ښه شو. یوناني طبابت هغه بوختیا وه چې هغه له پلار او خپلوانو زده کړې وه، خو د طب د رشتې لوستلو هغه په یو مسلکي ډاکټر بدل کړ او د څلورو کلونو لپاره د غزني ښار په یو روغتون کې د ناروغانو په درملنه بوخت شو.

د جګموهن سینګ قومیان چې په ګردېز ښار کې د ډاکټر له نشتوالي کړېدل، د جګموهن له پلار څخه یې وغوښتل چې هغه د دوو کلونو لپاره پکتیا ته ور ولیږي. بشردوست د دوو کلونو لپاره ګردېز ته راغلی و، خو اوس له اوو کلونو زیات وخت کیږي چې په دې ښار کې پاتې شوی دی.

هغه د قومیانو او خپلوانو د ځمکو او کورونو له غصب څخه شکایت لري او وايي، حتا د خپل ځان لپاره یې هم، چې په ګردېز کې د هندوانو او سیکانو یواځنی پاتې کس دی، ځای نه دی پاتې. هغه دا مهال په یو کرایي اپارتمان کې ژوند کوي او وايي چې یو کس حتا د دوی د مړو سوځولو ځای هم په زوره ترې اخستی او پټی یې پکې جوړ کړی. جګموهن د افغانستان په جنوب ختیځ پکتیا ولایت کې د هندو او سیک د ټولنې، چې یو وخت په لوی شمېر کې هلته اوسېدل، یواځنی پاتې کس دی. هغه ټولنه چې د جګموهن په وینا د کډوالۍ اصلي دلیل یې د ځمکو او کورنو غصبېدل ؤ. هغه وايي چې د هندوانو او سیکانو مالونه او شته په پکتیا کې په زور ترې اخستل شوي، هغه اوس د اوسېدو لپاره خپل ځای نه لري او په یو کرایي اپاتمان کې اوسیږي. هغه وايي چې حتا د دوی شمشان ګاټ، په کوم ځای کې به چې دوی مړي سوځول هم په زوره ترې غصب شوی او اوس د کرکیلې لپاره کارول کیږي. هغوی څو ځل ولایتي شورا او سیمه ییزې ادارې ته شکایت وکړ خو یواځې وعده ورکړل شوه او عملي کار نه دی ترسره شوی.

له ټولو ستونزو سره سره جګموهن سینګ بشردوست نه دی توانېدلی له ګردېز څخه د پلار د زیږېدو د ځای او له افغانستان څخه د وطن او مور په توګه زړه وشلوي: «تر هغه وخته چې جوړ یم (ناروغ نه یم) او کوم تکلیف (ناروغي) و نه لرم، هیڅکله دا ځای نه پرېږدم، اووه کاله نه، که سل کاله یواځې اوسم.»

## په یوې نوړۍ ډوډۍ مو قناعت درلود، هغه هم پاتې نشوه

جیک‌اندر سینګ چې کله ښی او چپ لاس وپیژندل، د کورنۍ د لګښتونو د برابرولو لپاره یې متې بډوهلې او د ښوونځي د دروازې پر ځای یې د هغو دوکانونو دروازې وټکولې چې فکر یې کاوه یوه نوړۍ ډوډۍ به پیدا کړي؛ له دې بې خبره چې هیڅ دوکاندار دومره وړوکی ماشوم په شاګردۍ نه مني. جیک‌اندر سینګ چې یواځې اووه–اته کاله عمر درلود، د کابل ښار د شوربازار له دوکانونو یې پیل کړه او د دې سیمې ټولو دوکاندارانو ته یې د شاګردۍ لپاره وړاندیز وکړ؛ چا ور پورې وخندل، د چا زړه وسو، چا ورته وویل چې خوله یې لا د شیدو بوی کوي، هر چا یوه خبره وکړه، خو هیچا کار ور نه کړ. له دوکاندارانو چې نهیلی شو، د دست فروشانو او د خوراکي توکو هغو پلورونکو په خوا ورغلو چې د سړکونو پر غاړو په ګاډیو کې توکي پلوري. د ښار پر سړکونو له درې څلور ورځو ګرځېدو وروسته یې د سړکونو دست فروشان د لوی زړه خاوندان وموندل. یو یې جیک‌اندر سینګ په شاګردۍ ومانه.

جیک‌اندر سینګ یې خپل دوستان په «جینسینګ» پیژني او په همدې نوم ورته غږ کوي. هغه له دوه کلونو زیات خپله روزي د ښار پر سړکونو له کراچیو څخه په لاس راوړه. هغه ورځې چې له شلو افغانیو ډېره ګټه به یې کوله، له کار څخه به د کور په لور ډېر په منډه تللو، چې پیسې خپلې مور ته وښیي. مور یې هم د تشویق لپاره لاس ورته پر سر تېراوه.

جیک‌اندر سینګ به د خویندو فرمایشونه واخستل او د شپې د خوړو لپاره به بازار ته روان شو. په دې دوو کلونو کې اندر سینګ د ښار د څو فست‌فوډ پلورونکو لپاره شاګردي وکړه. لوبیا پلورنه، سوپ پلورنه، شورنخود پلورنه او د سړک د غاړې ډېر دست‌فروشانو لپاره یې کار وکړ، چې وکولی شي کم تر کمه د شپې د خپلو ورونو او خویندو خیټې مړې کړي او وږې ویده نشي.

کله چې یې د پلار په اړه پوښتنم، غږ یې یوه شېبه غلی شي. وروسته په ډک ستوني دوام ورکوي: «تېوله مې د پلار ملامتي وه؛ هیڅ سخت کار پاتې نه شو چې و مې نه کړ. هیڅ توهین او سپکاوی پاتې نشو. هیڅ کنځل پاتې نه شوه چې وا مې نه ورېده، خو د خپلې کورنۍ لپاره مې تر ټولو سخت کارونه په کم عمر کې ترسره کړل. نه مې غلا وکړه او نه مې درواغ وویل؛ که یوه افغانۍ مې پیدا کړه د خپلو متو په زور مې پیدا کړه. پوهېدم چې د پلار له لاسه مې څه نه ؤ پوره، خو کاش زه یې د مور په څېر تشویق کړی وای، په سر یې لاس راته تېر کړی وی، شاباسی یې راکړی وی، ای کاش په غېږ کې یې نیولی وی. خو هغه یوائې څښل.»

جیک‌اندر سینګ د خپل ماشومتوب د کیسې پر مهال د خپلو ماشومانو ستاینه هم کوي: «زما د لوڼو او زامنو د ماشومتوب وضعیت هم زما له وضعیته ښه نه و. څلور لوڼې مې درلودې، یوه مې ورور په فرزندي واخسته، بله مې خور ته په فرزندۍ ورکړه او دوه لوڼې مې سره له یو زوی چې اوس یې واده کړی، ما سره دي.»

د هغه لوڼو او زامنو هم د ده په څېر و نشو کولی درس ووایي او ښوونځي ته لاړ شي: «خپله مې د اقتصادي ستونزو له امله و نشول کولی ښوونځی ولولم، خو لور او زامن مې د ناامنۍ له امله. وضعیت دومره خراب دی چې څو ځل یې زه په خپله د کابل په ارزان قیمت کې لوټلی یم، موبایل یې رانه غلا کړی، ښځه او اولادونه خو مې څه کوي، هغوی خو هیڅ له کوره بهر نشي وتلی.»

اندر سینګ له ۵۲ کاله عمره چې لري یې، په دې وروستیو کې یې څو کاله له وطنه لرې په ډیلي کې تېر کړي دي. «له وطنه لرې ژوند ډېر سخت دی، دا هغه وخت درک کوې چې له وطنه لرې شې. زموږ اوبه، زموږ مڼې، زموږ وچې او تازه مېوې، حبوبات او

سبزیجات په هیڅ ځای کې نه پیدا کیږي.»

هغه له هغه غم سره چې په خبرو کې یې محسوسیږي، په هیواد کې د راغلي وضعیت څخه شاکي دی. وایي چې په خپلې غریبۍ بوخت ول، په چا کار پورې یې کار نه درلود، خو هغه ظلم چې په حق کې یې وشو، حق یې نه و. «خدای دې سرې ته بده پېښه نه ښیي، هغه درد چې موږ یې په زړه کې لرو، هیڅوک یې نه لري. موږ په خپلې غریبۍ بوخت وو، خو راغلل او قتل عام یې کړو. هم په ننګرهار او هم په کابل کې. زموږ لپاره وضعیت داسې جوړ شو چې اړ شو بهر ته ولاړ شو. د چا خپل هیواد نه خوښیږي؟ ما څو ځل ویلي که نیمه ډوډۍ هم وي موږ قناعت کوو، خو هماغه نیمه ډوډۍ هم راته پاتې نشوه.»



## «له درده ډک ژوند»

چابول سینګ چې ځوانۍ ته ورسېد، د پښېمانۍ احساس یې پیدا کړ. زړه یې غوښتل وخت شاته لاړ شي او د خپل ماشومتوب او نوې ځوانۍ عمر یو ځل بیا تجربه کړي؛ ځکه څومره چې لویېده، وضعیت ناامنه او لا ناامنه کېده. هغه د هغو ورځو ارمان کوي چې هیوادوال یې -هندوان او مسلمانان- د یو بل تر څنګ له هیڅ امنیتي اندېښنې پرته چمنونو ته تلل او مېلې یې کولې: «ډېرې وخت د استقلال د جشن په ورځو کې د کابل ښار پر سړکونو تر پامیر سینما پورې ټانګونه کتار ېدل، ښار یې رڼا کاوه، خلک چمنونو ته راوتل، په خوندورو خوراکونو او مستې موسیقۍ یې ورځ تېروله او د شپې تر ناوخته یې



له کورنۍ او دوستانو سره تفریح کوله.»

چابول سینګ د هغو خاطرو یادونه کوي چې له مسلمانو دوستانو سره یې په میدانونو او چمنونو کې په شیشه یي «پیپسي» شرطونه تړل، چا چې به بایلله، د خوراک لګښت یې پر غاړه و. د دې ساتیریو تر څنګ دوی ځانګړي مذهبي جشنونه هم درلودل: «موږ هندوان له اوو تر اتو ورځو د ویساک د جشن لپاره له کابله جلال آباد ته تلو. د کور کیلي مو خپل مسمان ګاونډي ته ورکوله او له کوره به بیخي بې غمه وو.»

چابول سینګ، له نن نه درېپنځوس کاله وړاندې د پکتیا په ګردېز کې زېږېدلی. په ماشومتوب کې وضعیت ډېر ښه او د وړاندوینې وړ و؛ پلار یې د زرګرۍ دوکان درلود او ده به کله کله ورسره شاګردي کوله. «هغه وخت په افغانستان کې ډېرو هندوانو او سیکانو په بېلابېلو ښارونو کې ژوند کاوه، کور، دوکان تجارت او هر څه یې درلودل او خپل یې ؤ. زموږ ډېرو نږدې کسانو او کورنۍ مو په ګردېز کې زما د پلار په ګډون زرګري کوله، ګوتمۍ او لاکټونه یې جوړول او روزګار ښه و.»

کله چې چابول سینګ او کورنۍ یې د ګردېز ښار له نامنه کېدو سره کابل ته کډوال شول، آرامۍ و خوشبختۍ هم د دوی له کورنۍ او دوستانو سره خدای پاماني وکړه. هغه څه چې یې نصیب شول فقر او غربت و. چابول سینګ اته کلن و چې د کابل د شوربازار په احمدشاهي سرای کې یې له پلار سره یوځای د سیمساري (رخت پلورنځي) دوکان پرانیست. چابول چې لوی شو، پلار یې په جاده میوند کې بل مستقل دوکان راجوړ کړ. خو لکه د چابول برخلیک چې په احمدشاهي سرای کې د رخت پلورنځي له هماغه دوکان سره غوټه وي. ۲۴ کاله یې خپله یوه نوړۍ روزي له همدې څو متر مکعبه دېوال څخه په سلو زحمتونو او مشقتونو ترلاسه کړه: «هغه وخت چې آرامي وه، زموږ روزګار هم ښه و، کم تر کمه ځورول کېدو نه. لس افغانۍ یا شل افغانۍ هر څومره مو چې ګټلې، حتا که یوه نوړۍ ډوډۍ مو هم درلوده، د خپلې کورنۍ تر څنګ مو په خوښۍ خوړله. خو د داوود خان او نجیب د دورو له په پای ته رسېدو سره، کله چې د مجاهدینو حکومت راغی، زموږ روزګار د هرې ورځې په تېرېدو تریخ او لا تریخ شو.»

چابول د مجاهدینو حکومت په افغانستان کې د مذهبي لړکیو د بدمرغۍ پیل ګڼي.

د هغو ورځو یادونه کوي چې د مجاهدینو کسان به یې دوکان ته ورتلل او له پیسو ورکولو پرته به یې چې هر څه خوښه وه اخستل. که به ترې د پیسو غوښتنه کېدله ځواب به یې وهل ډبول ؤ.

د مجاهدینو د حکومت په راتلو سره، د سینګ د قومیانو او هم‌مذهبو لپاره کړۍ تنګه شوه؛ د یخ وهلو مرغیو په څېر ډلې ډلې و کوچېدل چې ځان ګرمو سیمو ته ورسوي. چابول له خپلې کورنۍ سره هند ته کډوال شو او د ۱۲ کلونو لپاره هلته پاتې شو: «له وطنه لرې ؤ، خو خبرونه مو په دقت اورېدل. شاید پوهېږئ چې په پردي وطن کې د بد خبر اغېز څومره زیات وي. یوه ورځ چې له کورنۍ سره ټول یوځای ناست وو او د ډوډۍ خوړلو سره یوځای مو خبرونه اورېدل، له افغانستانه مې یو ناوړه خبر واورېد. دا خبر دومره دروند و چې ټول نوړۍ په لاس پاتې شول، دسترخوان غوړېدلی پاتې شو او ټول له ځایه پورته شول او په چیغو چیغو یې ژړل؛ ټولو هیله کوله، کاش خبر دروغ وای. خو د راډیو ویاند بیا اعلان وکړ چې ډاکټر نجیب الله وژل شوی دی.»

د چابول او د کورنۍ په څېر یې نور بې شمېره مهاجر هیوادوال په پردي وطن کې د خپل هیواد په ارمان ؤ. د شپې او ورځې دعا یې ښار او هیواد ته د آرامۍ د راتلو لپاره وه، چې وکولی شي بېرته ستانه شي او په خپله جونګړه کې شپه او ورځ تېره کړي.

د دوی دا دعا په ۲۰۰۳ کال کې قبوله شوه او افغانستان ته د سلګونه سیکانو او هندوانو د بېرته ستنېدو زمینه برابره شوه: «تر ټولو ډېر هندوان ۸۰ په سلو کې یې په ۱۹۹۲ کې د مجاهدینو په وخت کې مهاجر شول او د کرزي په وخت کې په ۲۰۰۳ کال کې بېرته په شوربازار او تایمني کې خپلو کورونو ته ستانه شول، او خپل کاروبار ته یې دوام ورکړ.»

چابول د کرزي د حکومت دوره ښه یادوي، وایي، سمه ده چې مطلوب وضعیت نه و، جنګ و، ناامني وه؛ خو ډله ییزې وژنې، لارې نیول، قتل عام او ځانمرګي نه ؤ. هغه افغانستان ته په راتلو خپل ماشومان بېرته ښوونځي ته ولېږل، خو نور وضعیت د پخوا په څېر نه و؛ ماشومانو ته یې د مهاجر او پردي په سترګه کتل کېدل: «زما ماشومانو ته یې ویل چې څه وخت له هند نه راغلي یاست، ولې خپل هیواد ته نه ځئ. هغوی یې ځورول، هندو او کچالو یې ورته ویل او تل یې اسلام دین ته دعوتول. د ټولګیوالو له خوا یې ځورول

یو څه د زغم وړ ؤ، ویل مو هغوی ناپوه دي او نه پوهیږي؛ خو کله چې یې استادانو د قران د زده کولو لپاره پرې فشار راوړ، نور یې نو زغمل سخت و.» د چابول او د نورو هندو او سیک ماشومانو ځورول، د دې سبب شول چې ورو ورو د دوی د ماشومانو پښې له عمومي دولتي ښوونځیو و نیول شي. د دې ماشومانو درس او تعلیم خصوصي ښوونځیو او حتا خپلو مذهبي ښوونځیو پورې محدود شو او ډېری یې بې سواده پاتې شول.

د وخت په تېرېدو نه یواځې د چابول ماشومان له مکتبه پاتې شول، بلکې د ښار له کوڅو یې هم پښې و نیولې، ماشومانو یې په کوڅو او سړکونو کې هم امنیت نه درلود او ځورول کېدل. چابول وایي کله چې ماشومان، ښځه او اولادونه دې روحي آرامي او امنیت و نه لري، دا ژوند له دوزخ نه کم نه دی؛ خو دا هیڅ یوه سختي د دې سبب نه شوه چې چابول خپل هیواد یو ځل بیا پرېږدي. خپل ځان سره یې ژمنه کړې وه، چې ژوند او ځان یې په خطر کې و نه لویږي، هیڅ کله به خپل هیواد پرې نه ږدي.

خو ډېر وخت تېر نه شو چې د چابول سینګ او هم‌مذهبو ژوند او ځان په خطر کې ولوېد: «د ۲۰۱۸ کال برید چې په جلال آباد کې د هندوانو او سیکانو پر کاروان ترسره شو، زمونږ هندوانو او سیکانو په تاریخ کې بې مخینې پېښه وه. ډېر دوستان او عزیزان مو له لاسه ورکړل، غم یې د عمر تر پایه موږ سره پاتې کیږي. خو ځان ته مو تلقین ورکړ چې دا د افغانستان وضعیت دی او د هیواد په هر وګړي دی. خو کله چې یې په ۲۰۲۰ کې د کابل په شور بازار کې زموږ پر درمسال برید وکړ، نور نه کېدله چې ځان ته پلمه ولټوو. هغوی موږ هدفي په نښه کړي وو. همدا وه چې یو ځل بیا له خپل هیواده مهاجر شوو.»

چابول چې له شپږو میاشتو زیات نه کیږي هند ته مهاجر شوی، وایي دا ځل له وطنه د لرې والي درد له تېر ځل څخه ډېر دروند دی. په تېرو دورو کې یې د هیواد د ټولیز وضعیت له امله خپلې جونګړې پرېښې وې؛ خو دا ځل په زړه ژور تپ لري: «په تېرو دورو کې زموږ زړه کم درد درلود؛ خو دا ځل تو پیر کوي؛ کله چې دې هیچا ته ضرر نه وي رسېدلی، کله چې دې هیڅکله حتا د چا پر وړاندې وسله نه وي پورته کړې، خو په بې رحمانه توګه برید دربانديې وشي او په نه کړي جرم د هیواد پرېښودو ته اړ شې، دا درد لري؛ ډېر دروند درد.»

## مرکه کول مې وضعیت لا خرابوي

«خپل درد بیانوم، خپل غم بیانوم، وایم یې چې پوه شئ پر موږ څه تیریږي، خو یوازې یې تاسو ته وایم، مهرباني وکړئ ویډیو مه اخلئ، چېرته یې لیکئ هم مه. تاسو خو خپله مرکه کوئ او ځئ خپل کار پسې؛ زه پاتې کېږم، دا دوکان او یو عالم خلک چې زموږ په هر څه کې کار لري. مرکه کوئ چې څه وشي؟ په فیسبوکونو کې یې اچوئ چې خلک زموږ بدبختي وګوري. په فیسبوکونو کې یې اچوئ چې دا ظالم خلک یې ووینې او راشي زموږ د دوکان هر څه ګډوډ کړي او موږ د خپلو کړو خبرو له امله ووهي، تاسو همدا غواړئ؟»

د درشن سینګ دا خبرې د جملو په قالب کې شاید ډېرې ساده ښکاري. خو کله چې یې دا خبرې کولې، د زړه درزا یې، څېره یې، د غږ لړزه یې، ډک ستوني یې او لړزیدونکي لاسونه یې ټولو جدا جدا خبرې کولې. د ۶۷ کلن درشن په طرف مې چې په زیر وکتل، ځان مې هغه باز ولید چې منښوکه یې د یوې چنچنۍ د ځالې ورانولو لپاره تېره کړې ده. یوه لحظه مې ځان نه کرکه وکړه، حتا و مې نشول کولای پنجابي لاسلیک چې په ولسي جرګه کې د دوی د استازي نرندر سینګ له خوا مې ورته راوړی و، ورته ښکاره کړم. په داسې حال کې چې دواړه لاسونه یې سره یوځای کړي او د درناوي په دود یې پورته کړل، له ما یې وغوښتل چې لطفاً ویډیو مه اخله.

وضاحت مې ورکړ چې که هغه نغواړي، هیڅوک حق نه لري دوکان ته یې ننوځي. و

مې ویل چې دوکان ستا خصوصي حریم دی او څوک نشي کولی له اجازې پرته د هغه یا د هغه د دوکان فلم واخلي. ورته و مې ویل خبریال چې د خبریالۍ په اصولو پوه وي، داسې کار نه کوي چې د خپل مرکه شوي ژوند په خطر کې واچوي. وضاحت مې ورکړ؛ ډېرې لارې شته چې یو خبریال د خپلې سرچینې ساتنه وکړي. د دې خبرو درک که څه هم ورته سخت و، خو د دې سبب شو چې د لاسونو لړزېدل یې کم شي او خپل ځان امن حس کړي. زما دا ټول توضیحات شاید دې لپاره نه ؤ چې هغه مرکې ته حاضر شي، غوښتل مې و پوهېږم چې څه پرې تېر شوي چې دومره له مرکې ویرېږي.

ډاډ مې ورکړ، هغه خبرې چې کوي نه یې ویډیو اخستل کیږي، نه ثبتیږي او نه په فیسبوکونو کې خپریږي. په داسې حال کې چې په دوکان کې یې دوه مېرمنې هم وې، یوې ښځې له روشن سنګ سره په هندي څو خبرې وکړې؛ پوه نه شوم څه یې وویل، یوازې په دې پوه شوم چې په غږ کې یې اعتراض لیدل کېده. هغه او کورنۍ یې د درک وړ وه، له مرکې چې یې کومه ترخه تجربه درلوده، کامره او درې پښې یې دوی ته د ډکې وسلې حیثیت درلود. خپل غمونکی داستان چې یې شریک کړ، وضاحت یې ورکړ چې څنګه یوې مرکې کار ورته کتلی، او چې څومره خبریالان او د یوټیوب چلوونکي دي، کرکه یې ترې پیدا کړې.

د خدای پامانۍ پر وخت مې درشن سینګ ته وویل چې موږ غوښتل خبرې یې په یو کتاب کې چاپ کړو، په حیرانتیا او وار خطایۍ یې وپوښتل: «ښه نو د فیسبوکونو لپاره نه ده». و مې ویل نه سردار صاحب. په خوښۍ یې مخ د خپلې مېرمنې په لور کړ او په هندي یې لنډه جمله وویله چې د کتاب کلمه هم پکې وه. که څه هم د خدای پامانۍ وخت و، خو درشن سینګ اوس راسره سترې مشې وکړه او و یې ویل که غواړې، مرکه کوم. خو دې ته یې ترجیح ورکړه چې د هغې ترخې خاطرې په اړه یې په مرکه کې یادونه و نه شي: «باید و نه ویل شي چې کومو کسانو زه تهدید کړی یم او څه بلا یې راباندې راوستې. هغوی اوس هم ما تهدیدوي او هره لحظه کولای شي ما ووژني.»

## مونږ تبعیض سره بیل کړو

دلیب سینګ بشردوست، اتیا کاله وړاندې د پکتیا ولایت د ګردیز په بالاحصار کې دنیا ته سترګې غړولې. بشردوست یوولس اولادونه لري - اته لونې او درې زامن. هغه وخت چې دی زیږېدلی و، په دې ښار کې له اتو سوو زیات هندو او سیک هیوادوال اوسېدل. ډېری یې په سوداګرۍ؛ د توکو او د هند او پاکستان د وارداتي محصولاتو په خرڅلاو بوخت ول. «د ظاهرشاه دوران و، په بالاحصار کې زمونږ کاروبار ډېر ښه و، مونږ ټول په ګردیز کې سل تر یونیم سل کورنۍ اوسېدو. دوه درمسالونه مو درلودل. یو زمونږ د هندو وروڼو او بل زمونږ د سیک وروڼو و، چې یو ته مندر او بل ته درمسال وایي.» بشردوست راته وویل چې د وخت حاکمانو د دوی دین او فرهنګ ته درناوی درلود. حتا د وخت سیمه ییز مقامات کله کله د دوی عبادت ځایونو ته ورتلل او وینا یې کوله. په ګردیز کې د هندوانو او سیکانو د کار او کار د بازار رکود د دې سبب شو چې ډېری یې له پکتیا څخه د افغانستان نورو ولایتونو ته لاړ شي. غزني، هغه ولایت و چې د دلیب سینګ کورنۍ او خپلوانو یې د اوسېدو لپاره انتخاب کړ.

بشردوست له خپلې اته نفري کورنۍ سره په غزني کې له شلو کلونو زیات وخت تېر کړ: «ډېرې سرګردانۍ او بیچارګۍ مو تېرې کړې. د پلار کسب مې زرګري وه او تر شپې یې یو د چای او ډوډۍ پیسې په سختۍ پیدا کولې. زما کسب اول عکاسي وه. یوه

پخوانۍ صندوقي د درې پښو والا د عکاسۍ کامره مې درلوده. کار مې د قره‌باغ ولسوالۍ د محکمې تر څنګ و او له محکمې سره مې قرارداد درلود. ډېرې محاکمو او دولتي اسنادو چې عکس ته به یې اړتیا وه، موږ ته یې مراجعه کوله.»

هغه وايي د مجاهدینو له حکومت مخکې ډېر کم ځورول کېدل او په دې ولسوالۍ کې یې هوسا ژوند درلود. خو د مجاهدینو د حکومت له پیل سره، په قره‌باغ کې ورته د ژوند شرایط تنګ شول او دوی له نورو خپلوانو سره د غزني مرکز ته کډه شول.

د دې مذهبي اقلیتونو لپاره ځورول، تبعیض او د مناسب کار نشتوالی د دې سبب شو چې دلیب سینګ له خپلې کورنۍ سره د دې کلونو په اوږدو کې له څلورو په زیاتو ولایتونو او بېلابېلو ولسوالیو کې کډوال شي.

هغه د غزني په مرکز کې له څلور کاله ژوند وروسته د کابل شوربازار ته وکوچېد او د عسکري خدمت دوره یې د کابل په قرغه کې «د راکټ ۹۹ لوا» کې تېره کړه: «له لس تر دولسو کلونو په کابل کې پاتې شو. دقیق مې په یاد نه دي، خو د خلقي واکمنانو د کوم یوه دوره وه؛ په زیات احتمال سره د ببرک کارمل دوره وه. له خپلې همدې لنګوټې سره مې عسکري لباس پر تن کاوه او په ویاړ مو وطن ته عسکري کوله. هغه وخت خلکو موږ ته ډېر درناوی درلود او چا زموږ له نه مسلمانېدو او لنګوټې سره کار نه درلود.»

دلیپ سینګ د خپلې عسکري دورې له پای ته رسېدو وروسته بېرته غزني ته ستون شو او هغه مصروفیت چې ډېری هم مذهبو یې په غزني کې درلود (یوناني طبابت)، باندې بوخت شو.

دلیپ سینګ، د غزني په قره‌باغ ولسوالۍ کې تر اووم ټولګي درس ویلی. هغه وايي چې له رمضان بشردوست سره یوځای یې په یو ښوونځي کې درس ویلی، چې اوس په پارلمان کې د کابل د خلکو استازی دی، او له دې وړاندې په ولسي جرګه کې د غزني د خلکو استازی و: «هغه وخت چې زه د ښوونځي په لومړي ټولګي کې وم، ښاغلی بشردوست په څلورم ټولګي کې و؛ خو دا چې د سیکانو لپاره د درس هغسې زمینه نه وه

برابره، مور چېرته پاتې شوو او هغه چېرته ورسېد.»

دلیپ همدا راز د انجنیر محمدخان، د افغانستان د ملي وحدت حکومت د اجرایه ریاست مخکني مرستیال په اړه وایي، کله چې په دویم ټولګي کې وم، انجنیر محمد خان په شپږم ټولګي کې و: «هغه څه چې مونږ خپه کوي، دا دي چې د درس او پر مختګ زمینه زمونږ لپاره ډېره کمه وه او مونږ و نشول کولای د رمضان بشردوست او انجنیر محمدخان په څېر درس ووایوو او یو ځای ته ورسیږو.»

دلیپ سینګ بشردوست د کابل له شوربازار څخه له بېرته ستنېدو وروسته، ډېرش کاله د غزني په مرکز کې د درمل پلورنې مغازه درلوده او ډېری یې د بوټو درمل پلورل.

هغه وایي چې له اوو کلونو زیات یې د درې درمسالونو (معبدونو) د بیا رغونې لپاره هڅه وکړه؛ خو تر اوسه نه دی توانېدلی چې د افغانستان د اطلاعات و فرهنګ وزارت د دې تاریخي-مذهبي ځایونو د بیا رغونې لپاره قانع کړي. بشردوست همدا راز تاکید کوي چې د دې اقلیتونو زمکه د غزني د سیند غاړې په سیمه کې د حکومت له خوا غصب شوې ده او د پارک د جوړولو په پلمه پکې اوس پنځوس تر شپېته دوکانونه جوړ شوي دي، چې پیسې یې د ښاروالۍ د کارکوونکو جیبونو ته ځي. ښاغلی بشردوست وایي هیله یې درلوده چې قانوني وکیل وي، او او د خپلو خلکو د حقونو لپاره یې مبارزه کولای.

هغه تصمیم درلود چې په غزني کې د ۱۳۹۷ کال د ولایتي شورا ټاکنو کې د خپل قوم په استازولۍ کاندید شي او د هندو او سیک مذهبي اقلیتونو د حقونو دفاع وکړي؛ هغه انتخابات چې د سیاسي ستونزو له امله په دې ولایت کې ترسره نه شول. بشردوست وایي چې په تېرو ټاکنو کې چې د غزني د ولایتي شورا لپاره ترسره شوې وې، ځان یې پکې نومولی و: «ما په تېرو ټاکنو کې نږدې زر رایې اخستې وې. هغه پاڼې چې د رایې ورکولو مرکز څخه زمونږ څارونکو راوړې وې، همدومره وې؛ خو درغلي پکې وشوه، او کمیسیون زما رایې ۴۰۰ اعلان کړې.»

دلیپ سینګ بشردوست سره له دې چې د ولایتي شورا انتخاباتو ته یې لاره و نه مونده، خو کلونه یې په بېلابېلو سیاسي او ټولنیزو مسایلو کې د غزني د سیکانو او هندوانو

استازولي وکړه. د غزني خلکو کلونه په دې ولایت کې هغه د هندوانو و سیکانو د استازي په توګه پېژانده.

د وروستیو کلونو نامنۍ په ځانګړي ډول په جلال آباد ښار او د کابل په شوربازار کې پر دې مذهبي اقلیتونو هدفي انتحاري بریدونه د دې سبب شول چې بشردوست او کورنۍ یې د لسګونو او سلګونو هم‌دینو په څېر، د غربت ترخه وڅکي او د خپل زیږیدو د ځای پرېښودو ته اړ شي. «د هغې خاورې پرېښودل چې پکې زېږېدلی یې او پوره اتیا کاله دې د خپل هیواد پېښې په خپلو سترګو لیدلې وي، شاید اسانه کار نه وي. هغه ارمانونه چې شاید تر دوو درې کلونو مخکې ما او ولادونو مې په سر کې لرل، نور په خیال بدل شول او موږ اړ شو چې له دې خپلو ټولو ارمانونو څخه تېر شو او هیواد پرېږدو.»

## یوازې د تېرو ویشتل په زورونې بدل وي

ستنام سینګ د افغانستان په سویل هلمند ولایت کې د سیک او هندو اقلیتونو یواځنی اوسېدونکی دی. هغه د هغو ۱۲۰ کورنیو وروستی کس دی، چې تر څو کلونو وړاندې سره یوځای په لښکرګاه کې اوسېدلې. د ستنام وروستی قومي او د هغه ملګری ترن‌سینګ و، چې یو کال وړاندې یې هیواد پرېښود. دوی دواړو ډېر کلونه د هلمند په لښکرګاه ښار کې د یو بل تر څنګ د عطاري او یوناني درملو دوکانونه درلودل.

له ستنام سینګ سره مې په یوه پسرلنۍ ورځ خبرې وکړې، چې شاید د وري میاشتې وروستۍ ورځې وې، په داسې حال کې چې غوښتل یې ما سره په فارسي خبرې وکړي، د کلمو په منځ کې یې خوږه هلمندۍ لهجه ښکارېده. په هماغه وخت کې چې زما ټلفون ته یې ځواب ورکړی و او خبرې یې راسره کولې، خپل یو مشتري ته یې هم رسیدګي کوله. د ښې رویې له امله یې موږ اوږده سترې‌مشې وکړه. داسې لکه کلونه چې یو بل پېژنو. د مرکې هیله مې ترې وکړه، په درناوي یې له ما وغوښتل چې باید فکر وکړي او له خپلو مشرانو مشوره واخلي. په سبا مې چې زنګ وواهه ستنام مرکې ته مثبت ځواب راکړ. د هغه او قومیانو اندېښنه یې د درک وړ ده. له ناوړو بریدونو وروسته، چې په دې مذهبي اقلیت باندې په کابل او ننګرهار کې ترسره شول، کله چې د دوی د راښکارېدو خبره وي، ډېر احتیاط کوي.

د ستنام په وینا سیکان د ظاهرشاه په وخت کې هلمند ته راغلل او په مارجه ولسوالۍ کې استوګن شول. وروسته د لښکرګاه په ګډون د دې ولایت نورو سیمو ته لاړل. هغه وایي چې کلونه یې آرام ژوند درلود، خو د اویایمې لسیزې جګړو ورته ژوند تریخ کړ او ډېری یې مهاجر شول. هر څومره چې وضعیت بد شو، د سیکانو تلل هم زیات شول. ستنام سینګ هم یو ځل د سفر موزې پښو کړې او هند ته ولاړ. خو هلته ژوند چندان ښه نه و چې په خپل هممذهبه هیواد کې پښه بنده کړي: «زه هندوستان ته لاړم. کار ښه نه و. کار په سختۍ پیدا کېده. د میاشتې مې اووه زره روپۍ کار کاوه، خو کافي نه وې. په همدې علت بېرته راستون شوم.»

د ستنام سینګ په وینا په تېرو درې څلورو کلونو کې د سیکانو د تللو بهیر تېز شو، تر دې چې هغه اوس په هلمند کې یواځې دی؛ هغه ولایت چې له دې وړاندې یې د دوی د قوم ۱۲۰ کورنیو ته ځای ورکړی و.

ستنام دا مهال په لښکرګاه ښار کې د سیکانو په یوه عبادت‌خونه/درمسال کې ژوند کوي. هغه یوه لور لري چې له خپل خاوند سره په کندهار کې اوسیږي؛ هغه ځای چې ډېر سیکان او هندوان پکې اوسیږي. وایي، د ژوند تر ټولو ښې ورځې یې هغه یوځای اوسېدل ؤ، چې له کورنۍ او خپلوانو سره یې په لښکرګاه کې تېرې کړې دي، خو اوس یواځې دی، دوکان یې او تش درمسال چې د خوږو ورځو یادونه تازه کوي. دا درمسال د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې د مذهبي مناسکو او ډله ییزو دعاګانو شاهد و؛ وایي وروستۍ دعا چې په دې درمسال کې په ډله ییز ډول وشوه، په افغانستان کې د امن د راتلو په اړه وه؛ ټولو د زړه له تله په خپل هیواد کې د آرامۍ د راتلو لپاره لاسونه پورته کړل.

له ستنام سینګ مې و پوښتل چې د خوږو خاطرو تر څنګ چې د هلمند له لښکرګاه ښار څخه یې لري، داسې خاطره هم لري چې ځورولی یې وي. یوه شېبه یې په ټلفون کې غږ غلی شو؛ د درک وړ و؛ د هغه درد پېټول چې په زړه کې یې درلود، سخت ؤ. خو په یوې ژورې ساه اخستلو سره یې ځان آرام کړ او و یې ویل: «د لښکرګاه خلک ډېر ښه دي؛ پرته له یو شمېر «جاهلانو» چې په هره ټولنه کې پیدا کیږي. هغوی راته هندو کچالو وایي او زما په خوا ډېرې راولي.» د ستنام په وینا ډېر ځل یې «کافر» خطاب ورته کړی او ډېرې یې

ور ویشتې دي. ستنام معمولاً د دوکان او کور تر منځ واټن په بایسیکل وهي. نور له هغو مسخرو سره عادت شوی چې د لارې په اوږدو کې یې اوري، او ځان ناګاره اچوي: «همدا چې د ډېرو ویشتلو څخه مسخرو ته خبره راغلې، ما لپاره د شکر ځای دی.»



## «هیڅ وخت مې ځان د وطن پرېښودو لپاره دومره مجبور نه و احساس کړی»

د کابل د شوربازار برید شاوخوا په تېرو دوو لسیزو کې د افغانستان پر هندو او سیک هیوادوالو یو تر ټولو لوی او خونړی برید و. سوربي سینګ خالصه، د غزني د سیک اقلیتونو استازی وایي، هغه څه چې په تېرو پینځو کلونو کې پر دوی تېر شوي، په افغانستان کې د بېلابېلو حکومتونو په اوږدو کې یې نه دي لیدلي.

د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ په میاشت کې د سیکانو مخور او بانفوذه کسان د جمهور رئیس اشرف غني په بلنه د هغه لیدو ته ننګرهار ولایت ته تللي وُ، چې له ملاقات وړاندې د یو ځانمرګي برید موخه وګرځېدل. دا پر دې ضرر منونکي اقلیت لومړی لوی برید و چې پکې د پارلماني ټاکنو نوماند او د افغانستان د ملي شورا د پینځلسمې دورې د سناتور اوتار سینګ خالصه، او مدني فعال او د درمل جوړونې لیسانسه راول سینګ په ګډون ۱۳ تنه ووژل شول.

سوربي سینګ وایي چې د ننګرهار له برید وروسته ډېره برخه سیکانو افغانستان پرېښی دی، تر دې چې په غزني کې هیڅ هیندو او سیک نه دی پاتې. هغه له نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړي چې یو امن او آزاد هیواد ته د افغانستان د سیکانو او هندوانو د کډوالۍ زمینه برابره کړي: «هیڅ وخت مې خپل ځان د وطن د پرېښودو لپاره

دومره مجبور نه و حس کړي.» هغه وویل . «موږ نور نشو کولی دلته ژوند وکړو. ځکه نه څوک زموږ امنیت ساتي او نه موږ ته کومه پاملرنه کوي. لا هم د ننګرهار د برید ټپونه او د شوربازار دردونه زموږ پر زړه او روح پاتې دي.»

د سوربې په وینا، خپلوان او دوستان یې حتا په کابل کې په وېره کې ژوند کوي. که څه هم په کابل کې هم د دوی شمېر ډېر کم شوی دی، دی وایي: «د کابل په شوربازار کې سیک کورنۍ له وېرې او تهدیده ټول یوځای په درمسالونو کې ژوند کوي، هغه ځای چې دولت یې د امنیت د تامین لپاره په تدابیرو نیولو کې پاتې راغلی؛ یو–دوه ساتونکي یې استخدام کړي، خو دا غیر مسلکي ساتونکي نشي کولای په سختو ورځو کې دفاع وکړي، او جدي خطر دفعه کړي.»

سوربې سینګ خالصه، د نورو ډېری سیک او هندو هیوادوالو په څېر چې هیواد یې پرېښی او هند ته تللي، ده هم دا لاره وهلې. البته په هند کې هم د دوی لپاره ژوند نه یوازې چې اسانه نه دی، بلکې لا ډېره سردردي لري. سوربې سینګ وایي په هند کې موږ کډوال یوو. د هند دولت تل دوی ته د پناه غوښتونکو په سترګه کتلي او په کار او ژوند کې یې هم د پناه غوښتنې قانون تطبیق کړی دی: «په هند کې موږ مهاجر یوو. باید پاسپورټ او ویزه واخلو او پر له پسې یې باید تمدید کړو.»

کله مې چې له سوربې وپوښتل چې آیا هغه هم د شوربازار په برید کې د کورنۍ یا خپلوانو کوم څوک له لاسه ورکړی، پوه شوم چې دا پوښتنه مې څومره بې ځایه وه. هغه وویل چې په افغانستان کې د سیکانو او اهل هنودو له سلو کمې کورنۍ دي او د خپلوۍ اړیکې یې هم شبکه‌یي او څو پوړیزې دي. په واقعیت کې د پینځه ویشتو تنو په یوځای وژل کېدو، د پنځوسو تر شپېتو کورنیو ژوند پاشل شوی دی. «اوس د هغوی ښځې کونډې دي. ماشومان یتیمان دي. څوک یې مسئولیت پر غاړه اخلي؟ دا لومړی او دویم ځل نه و. نور مو ربښتیا هم زغم نه درلود، مجبور شوو، چې خپل هیواد پرېږدو.»

## په زوره يې رانه ګوتې ولګولې او زما کور غصب شو

کالا سينګ چې له خپلې کورنۍ سره هند ته تللی و، ټاکل شوې وه بېرته کابل ته راستون شي؛ خو د کورونا ويروس د خپرېدو د مخنيوي له امله محدوديتونو د هند او افغانستان تر منځ الوتنې ودرولې. کالا سينګ په ډيلي کې منظر و چې د کابل ښار په شوربازار کې د دوی درمسال باندې بريد وشو او زيات شمېر هندوان او سيکان په دې بريد کې و وژل شول او ټپيان شول. په وژل شويو کې له ماشوم نيولې تر ښځو او بوډاګانو پورې شامل دي. کالا سينګ وايي چې تروريستان دقيقاً هغه وخت پر درمسال بريد کوي چې د افغانستان دېری هندو او سيک هيوادوال له کورونا ويروس څخه د خپل هيواد د خلاصون لپاره لاس په دعا ؤ.

کالا سينګ وايي هغه غوښتل چې د دعا په دې پروګرام کې د ګډون لپاره ځان کابل ته ورسوي؛ خو نه پوهيږي چې د کورونا ويروس د خپرېدو له امله د الوتنو محدوديتونه د هغه بې بختي وه که دی بختور و. د هغه په وينا د بريد پر مهال په درمسال کې ډېر ماشومان هم ؤ. په دې بريد کې د کالا سينګ دوه د ماما زامن شنکر سينګ او جيمن سينګ چې دواړو له شپاړس کلونو کم عمر درلود، هم ووژل شول. له دې ټولو ناوړو پېښو سره، کالاسينګ بيا هم کابل ته ستنيږي. شايد دا هماغه د خاورې، وطن او ښار عاطفي تړون وي چې هيڅکله نه پرېکيږي. هغه له نن ورځې څلوېښت کاله وړاندې د همدې خاورې لپاره دوه ځلې د

عسکرۍ خدمت ته حاضر شوی. لومړی ځل یې د کماندو ۳۷مې لوا کې او دویم ځل یې د کشف په ۲۳۰ قطعه کې دنده ترسره کړې.

کالا سینګ هغه هیوادوال دی چې د افغانستان د سیاسي لوړو ژورو تحولات یې په وروستیو پینځو لسیزو کې لیدلي دي. هغه چې د داوود خان کودتا یې په یاد ده، د داوودخان او ظاهرشاه د حکومت دورې ښې یادوي. وایي له داوودخان نه په را وروسته نظامونو کې د افغانستان پر سیکانو او هندوانو د ژوند کړۍ هر کال له تېر کال څخه زیاته تنګه شوه. کالا سینګ حتا د حامد کرزي د حکومت له دورې هم راضي نه ښکاري؛ خو له اوسنیو شرایطو یې ښه ګڼي. د عطاري دوکان چې هغه اوس پکې بوخت دی، له داخلي جګړو وراندې یې خپل ملکیت و، خو اوس یې د درې زرو افغانیو په مقابل کې په کرایه نیولی. د سرپناه نه درلودل بله ستونزه ده. ځکه هغه شپه او ورځ په درمسال کې تېروي؛ هغه درمسال چې هلته هم اوس خپل ځان خوندي نه حس کوي. دا درمسال په ۲۰۱۸ کال کې د تروریستانو تر برید لاندې راغی او له دې مذهبي اقلیت څخه یې لسګونه مړه او ټپیان کړل.

کالا سینګ اوس د کورنۍ یواځنی فرد دی چې په هیواد کې یې اوسیږي. ښځه او اولادونه یې ټول دېر ترې لرې دي؛ خو کالاسینګ سره له دې چې خپل ځای او د پلار ځای یې له لاسه ورکړی، لا هم په کابل کې ژوند کوي.

هغه یو ځل افغانستان د هند په موخه پرېښی و، خو له څوارلس کلونو وروسته د حامد کرزي د حکومت پر مهال بېرته خپل هیواد ته ستون شو. کالاسینګ په خپلو خبرو کې د درمسال په خوا اشاره وکړه، وایي هغلته نږدې یې د درمسال مخامخ کور و؛ خو له هنده تر راستنېدو وروسته، زورواکو ترې کور اخستی دی.

کله چې کالاسینګ له هیواده د څو کلونو لرې والي وروسته راستنیږي، څو کسان چې هغه یې نه پیژني، پیدا کیږي. هغوی کالا سینګ ته وایي چې «مور دې له مرګه مخکې خپل کور پر مونږ پلورلی او ته باید په دې سند ګوته ولګوې». کالاسینګ چې مقابل لوری زورورویني، خپل ځان ته پر جایداد ترجیح ورکوي. هغه ناچاره کیږي او پر هغه سند چې په هغې سره خپل کور له لاسه ورکوي، ګوته ږدي. د ۶۱ کلن کالا سینګ په وینا، هغه کسان

چې کور یې ترې اخستی په همدې ګاونډ کې هغه زورواکي او ټوپکوال دي چې د هغه په باور حکومت یې هم پر وړاندې څه نشي کولی.



## په تېرو لسو کلونو کې مو حتا یو تن هندو یا سیک د پوهنتون سند نه دی ترلاسه کړی

کرتار سینګ نهه پنځوس کاله وړاندې به کابل کې زېږېدلی. هغه یوازې تر اووم ټولګی درس ویلی. وایي چې د مالي ستونزو له امله نه دی توانېدلی درس ته دوام ورکړي. ښاغلی سینګ وایي چې د نویمو کلونو په داخلي جګړو کې، د دې ټولنې ټول تحصیل کړي کسان د افغانستان پرېښودو ته اړوتي. په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان د هندو او سیک اقلیتونو حتا یو غړی نه دی توانېدلی چې پوهنتون ته لاره و مومي. په داسې حال کې چې شرایط داسې بدل شوي چې د دې مذهبي اقلیت په منځ کې هیڅ لوړې زده کړې درلودونکی کس نشته. په ښوونځیو کې له هندو او سیک ماشومانو سره د مسلمانو ماشومانو سپکوونکي چلندونه، په سړکونو او کوڅو کې یې ځورول او د کورنیو ناوړه اقتصادي شرایط، له درس او تعلیم څخه د دې قشر د محرومیت اصلي لاملونه ؤ.

کرتار سینګ د شپږو اولادونو پلار دی، چې د خپلو ماشومانو د ښوونځي د دورې ترخې کیسې لري. وایي چې له «انقلاب» وړاندې شرایط (د مجاهدینو له حکومت وړاندې دوره) د دوی لپاره د قناعت وړ ؤ. ماشومانو یې له ممانعت پرته کولای شول ښوونځي ته لاړ شي، درس ووایي او په کوڅو کې له خپلو مسلمانو ملګرو ماشومانو سره لوبې وکړي.

د سینګ په وینا د مجاهدینو دورې په پیلېدو سره، او له هغې وروسته دوی بیا ښه ورځ نه ده لیدلې؛ تعصب، توپیر، مسلماني او کافري له هماغې دورې وروسته زیات شول: «په تېر وخت کې زموږ خلک پوهنتون ته تلل خو اوس زموږ پر وړاندې تعصب زیات شوی دی. یو زوی مې په نادریه لېسه کې درس وایه. بل زوی مې چې له دولسمه فارغ شو، غوښتل یې پوهنتون ولولي. یوه ورځ چې پوهنتون ته روان و په لاره کې یو تن پښنه ورته کېښوده او زوی مې کلک پر ځمکه ولګېد او سخت ټپي شو. زه هم ورسره وم. هغه شخص ته مې وویل چې زما زوی تا سره څه کار لرلی و چې داسې دې وکړل. یو ځل لس–یوولس کسه راټول شول او ویل یې چې ای کافره ته څه وایې! که غلی شوی نه وی زه یې هم وهلم. زوی مې له هغې پېښې وروسته پوهنتون پرېښود.»

کرتار وایي چې د تېر په پرتله یې پر وړاندې ناوړه چلند او مزاحمت زیات شوی دی او ماشومان یې نشي کولای په آزاده ښوونځي ته لاړ شي: «اوس هره ورځ ژوند سختیږي. تولنیزې ستونزې زیاتې شوې دي. زموږ ماشومان نشي کولای آزادانه ښوونځي ته لاړ شي. غیرسیک او غیرهندو ماشومان او ځوانان یې له پګړۍ او ویښتو نیسي. کتابونه ورته شیندي.» هغه وایي، جالبه دا ده چې لویانو به کله لیدل چې زموږ ماشومان ځورول کیږي، د منعه کولو پر ځای یې هڅوي چې ماشومان یې یو بل «بې غرضه» او بې کسه ماشوم ځوروي: «یوه ورځ مې د امتحان لپاره زوی ته وویل چې ته ما نه مخکې ځه زه درپسې یم چې وګورم څوک او ولې تا ځوروي. یو راغلو بکسه یې ترې و نیوله او پر ځمکه یې وغورځوله. بل یې کتابونه څیري کړل. ما له شا لیدل. لویان یې له څنګه تېرېدل او یواځې یې خندل.»

تل داسې هم نه وه؛ د افغانستان د سیکانو او اهل هنودو تېر نسل د پوهې او تخصص له مخې د نن ورځې له نسل سره د پرتلې وړ نه دی. دېرش کاله وړاندې سیک او هندو ډاکټران او متخصصان د نوم او نشان خاوندان ؤ، د دولتي جوړښت په لوړو پوړو یې کار کاوه. د کرتارسینګ په وینا، د ظاهر شاه په وخت کې، دیون نارینجن د افغانستان د مالیې وزیر و. همدا راز د چپیانو د حکومت او د ډاکټر نجیب په وخت کې، سیک او اهل هنودو ډاکټرانو په دولتي روغتونونو کې کار کاوه. هغه د بېلګې په توګه د څو تنو نومونه اخلي:

«ډاکټر بنسري لال د داخلې متخصص و. سونارام په څلورسوه بستريز روغتون کې تکړه جراح و. سم سنتوک سيک، د اعصابو متخصص و. ډاکتر باب سينګ جلدي متخصص و. تاراسينګ په ميوند روغتون کې د ماشومانو متخصص و. ډاکټر حربنس سينګ د ابن سينا د روغتون رئيس و. له دې وړاندې د ظاهرشاه په وخت کې، ديون نرينجن داس، اهل هنود، د ماليې وزير و.»

کرتار سينګ وايي د دې لپاره چې افغانستان د ژوند لپاره ښه ځای وګرځوي، له خپل ورور سره يوځای يې دوه دوه ځلې عسکري خدمت کړی. اوس د وضعيت ښه کېدو لپاره هيله نه لري. په داسې حال کې چې نااميدي يې په سترګو او خبرو کې ښکاري، وايي چې مجبور دی افغانستان پرېږدي. کله مې چې ترې وپوښتل که کله افغانستان پرېږدي، کوم هيواد ته ځي، په ځواب کې يې وويل، فرق نه کوي چېرته، خو چې هر چېرته وي چې دين او مذهب پکې مساله نه اوسي: «يوازې کافي ده چې انسان وي او د انسانيت په قدر پوه شي. هر انسان چې پيدا کيږي، يوازې انسان دی، دا ټولنه ده چې هغه نه مسلمان، هندو، سيک او مسيحي جوړوي. لومړی مذهب انسانيت دی.»

سرچينې: مرکه او د اطلاعات روز ورځپاڼې ويبپاڼه





## فتوا يې ورکړې وه چې پر کافرانو تېرى روا دى

شپه شوې وه او ښار د طالبانو د تورې دورې تر حاکمیت لاندې تر هر وخت ډېر تیاره ښکارېده. هغه چوپتیا چې د شپې پر ښار حاکمېده، یواځې د باد غږ، د پاڼو غږ او د سپو غپېدل ؤ، چې د چوپتیا دروندوالى یې کمولو او تیاره یې د ختو د کورونو په ورو کړکیو کې یواځې د لاټین تتو څراغونو او شمعو ماتوله. حتا د شپې د ګرځیدونکو خلکو د پښو غږونه چې د ښار ګزمه وه، د سیمې د اوسیدونکو لپاره اشنا ؤ؛ دومره آشنا چې کولاى یې شول د

ښار موجود وضعیت د دې کسانو د پښو له غږه معلوم کړي.

د کرنجي ګېټا پلار هم د شپې ګزمه و، خو فرق يې دا و چې هغه د خپل کور او کورنۍ ساتنه کوله. د شپې به ویښ و چې کورنۍ يې د امنیتي اندېښنې له امله بې خوبه نشي. کرنجي ګېټا سره له دې چې تر شپږو کالو يې عمر ډېر نه و، خو دومره هوښیار و چې د خپلو ځوانو خويندو لپاره اندېښمن و. د نیکه شتون او د هغه د شپې ګزمې د ګېټا اندېښنه لږه کموله.

یوه شپه چې نیکه ګزمه کوله او ویښ و، د کور له باغچې يې غږ واورېد، غوږ يې ورته ونیو، نه يې شول کولی تشخیص کړي، په زړه کې يې ويل شاید حیوان وي، شاید انسان نه وي؛ خو هر څومره چې غږ نږدې کېده، د نیکه زړه درزا ډېرېده. هغه د دفاع لپاره اماده کیږي. نور يې درک کړې وه چې غږ د حیوان دی، خو د دوه پښو والا حیوان. یو یو يې وشمېرل، یو...، دوه...، درې...، نه نه، څلور تنه دي.

څنګه چې د کور دروازې ته نږدې کیږي، څلور تنه داسې دروازه ټېله کوي چې د دروازې تر شا اړم په يو زور ماتیږي. د کرنجي نیکه د دروازې د ماتېدو او خونو ته د هغوی د رسېدو په فاصله کې، خپلې ځوانې لمسۍ د کور تر شا (وړوکي پټنځای) ته وړې.

نیکه چې خپلې لمسیانې پټوي، نورو ته وايي چې آرام ويده شئ او ټول داسې ښکاروي چې ويده دي؛ خو نه پوهېدل چې د کرنجي د ځوانو خويندو رپوټ هغوی ته رسېدلی و.

څلور تنه له غټو غټو پګړيو سره، وسله پر غاړه، لوی لوی پرتوګونه او لوی څادرونه چې له ځانه يې تاو کړي ؤ، يوه هيولا وه چې په هغې نيمه شپه کې د کرنجي پر کورنۍ نازله شوې وه. خونې ته په ننوتلو سره يې په لاس کې څراغونه ولګول او د خونې څلور کونجونه يې وکتل. کله چې يې د کرنجي ځوانې خويندې و نه موندې، يو يې په لوړ غږ په پښتو ژبه وويل: «چېرته دي، چېرته پټې شوې». د کرنجي نيکه چې ځان په خوب وهلی و، راپورته شو او و يې ويل «ملا صاحب خيريت خو دی، په دې نيمه شپه څه خبره ده، چا پسې ګرځئ.»، ځوان جنګيالي له ځنډ پرته، په ټول قوت سره د نيکه مخ پر څپېړه وهي او چيغه وهي: «زر شه ووايه چېرته دې پټې کړې دي».

نور ټوله کورنۍ راوینښه شوې وه، او ټول په خپل ځای ولاړ ؤ، نیکه لاټین لګوي او هڅه کوي هغوی ته پلمه وکړي، خو هغوی چې په کوم نیت راغلي ؤ، ترې تېرېدونکي نه ؤ. هغوی خپلې سترګې له پخوا دېرې په رنجو کړې وې، کرنجي تر دې وړاندې هم هغوی لیدلي ؤ، خو هیڅ وخت یې سترګې دومره نه وې توري کړې.

د کور په لټون یې پیل وکړ، له دې خونې هغې خونې ته، پخلنځي ته، طویلې ته، دالان ته، کاه‌دان ته او هره خوا یې لټوله. خو بالاخره هغې خونې ته نږدې شول چې د ټولې کورنۍ بدنونه ولړزېدل. نیکه خپل تصمیم نیولی و؛ خپل ځان مرګ ته ورکوي، خو نه پرېږدي چې د لمسیانو عزت یې تر پښو لاندې شي. د اغوز له لرګي جوړه امسا را اخلي او په چیغه د هغوی په طرف ورځي: «وحشي بنیادمانو، عقل مو د خره دی، څه غواړئ وکړئ. هیڅ نشئ کولی، مګر دا چې ما ووژنئ.»

د نیکه او څلورو جنګیالیو تر منځ د څو وارونو په تبادله کېدو، د نیکه وس نور نه رسیږي، ویرېږي چې لاسونه یې و نه ترې او بیا د دفاع فرصت و نه لري. خپل زړه راټولوي. په پوره عزم خپله امسا په لاس کې ټینګوي، داسې ځای په نښه کوي چې یو یې ځای پر ځای وژل کیږي. وار یې د سر تر شا خوړلی و. جنګیالی له خپلې وسلې سره پر ځمکه لوېدلی، ټینګه وینه یې له سره روانه ده، څو دقیقې یې لاس او پښې ووهلې او نور آرام شو.

کرنجي د ټساپ له لارې د خپل ماشومتوب کیسه کوي، نور یې غږ غلی شو، نه یې شول کولی دوام ورکړي، نه یې شول کولای ووایي چې د طالب جنګیالي په وژل کېدو سره د دوی په کورنۍ څه بلا نازله شوه. غریو نیولی و. په بریتانیایي تلفظ یې وویل «Give me one second» (یوه ثانیه وخت راکړه).

هغه چې له اووه کلونو زیات وخت کیږي په لندن کې ژوند کوي، د مرکې په پیل کې یې له ما وغوښتل چې خبرې به په انګلیسي کوي، فارسي او پښتو ژبې یې کمې په یاد پاتې دي. کرنجي مې په ټویټر کې وموند. هغه په بریتانیا کې یو سیک ماډل دی او د سیکانو د فرهنګ او رسمونو استازولي کوي. هغه څه چې زما او د کرنجي د بلدتیا لامل شو، د هغه بیوګرافي وه چې په ټویټر کې یې لیکلې وه. د هغه بیوګرافي په یو لنډ دوه کلمې عبارت کې خلاصه شوې وه: «Afghan Sikh» (سیک اهل افغانستان). دا بیوګرافي له هیواد سره د

ترلتیا لپاره کافي وه. خپلې ژبې او لهجې ته «هندکوه» وايي او هر څوک چې ترې پوښتنه کوي چې مورنۍ ژبه دې څه ده، ځواب «هندکوه» ورکوي. توضیح ورکوي چې د دوی ژبه د هندي او افغانستان د ژبو ترکیب دی. پر همدې بنسټ هندکوه د فارسي ژبې له «هند» او «کوه» څخه ترکیب شوی.

کرنجي له یوې شپېږ وروسته چې د وټساپ غږ یې غلی کړی و، بېرته یې غږ وکړ او په اوږدې ساه اخستلو سره یې دوام ورکړ: «کله چې طالب جنګیالي پوه شول چې یو یې مړ شوی دی، هغه شپه یې پر موږ قیامت کړه. زما نیکه یې بهر بوتلو، په نښه یې کړ او د څراغ رڼا یې د هغه مخ ته برابره کړه. نیا مې ټول له کړکۍ لرې کړل او و یې ویل چې غږونه بند کړئ. خو زه لا نه وم او و مې نشول کولای چې غوږونه بند کړم. زما د نیکه ضعیف ځان د هغې نښې په څېر شوی و چې نظامیان ورباندې تمرین کوي. درېواړو زنګونونه ووهل، نښه یې و نیوله او څه چې یې په شاجور کې ؤ، زما د نیکه په نازکه سینه کې یې تش کړل. دا چې د جلال آباد ښار د یوې برخې چوپتیا ماته شوې وه او ټول خبر شوي ؤ، درېواړو ځانونه ورک کړل.»

## په خپل هیواد کې پردي یوو

ګل چرن سینګ او ګل جیت سینګ مې د جلال آباد ښار شاوخوا په خپل دوکان کې ولیدل. ګل چرن پینځه ویشت کلن دی او ګل جیت سینګ هم تقریباً د هغه همزولی دی. دا د افغانستان دوه سیک اوسیدونکي دواړه له تعلیم او تحصیل نه پاتې شوي. که څه هم دوی خپل مذهبي تعلیمات په خپله عبادت‌خونه کې زده‌کړي؛ خو ښوونځي او پوهنتون ته له تلو محروم شوي. د دوی عمر ته په کتو، د طالبانو او له هغې وړاندې نظامونه یې نه دي په یاد. د حامد کرزي د حکومت دورې ته ښه دوره وایي. په وینا یې په دې دوره کې یې کار او ژوند ښه تېرېده.

په جلال آباد ښار کې د دې دوو سیکو ځوانانو ماشومتوب هم له تریخوالي او له ژبنیو ځورونو خالي نه و. د ګل چرن سینګ په وینا دوی په ماشومتوب کې له فزیکي ځورونو نیولې تر طعنو هر څه تجربه کړي دي. په وینا یې که دا طعنې او فزیکي ځورونې نه وی، شاید ښوونځی او پوهنتون یې لوستی وی. یوه طعنه چې شاید د افغانستان ټولو هندوانو او سیکانو د ګل چرن سینګ په څېر د خپلو مسلمانو وطنوالو له خوا د سپکاوي او کنځلې په توګه اورېدلې وي، «هندو-کچالو» ده.

د افغانستان هندوان او سیکان یوائځنۍ مذهبي ډله ده چې په افغانستان کې له ډېرې ټولنیزې کرکې سره مخامخ وه. په داسې حال کې چې دوی په دې ټاټوبي کې اوږده مخینه

لري او د دې خاورې اصلي اوسيدونکي دي؛ خو په بېلابېلو دورو کې د خپلو هیوادوالو له خوا پردي ګڼل شوي دي. د دې پردي ګڼلو مصداق کولی شو په نامناسب ټولنيز چلند کې د جایدادونو تر غصب پورې ووينو.

دې مذهبي اقليت دېری په غزني، کابل، هلمند، پکتيا، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ژوند کاوه. خو اوس د دې افغان هیوادوالو د ډله ییزو کوچیدو شاهد دي او په ځینو ولایتونو کې د ګوتو په شمېر يوائې د ښارونو په مرکزونو کې پاتې دي. د ګل چرن سینګ او ګل جيت سينګ په وينا، په ننګرهار ولایت کې هم د دوی نفوس دېر کم شوی دی او یوائې څو کورنۍ پاتې دي.

د افغانستان له هندوانو او سيکانو سره ټولنيزه کرکه دومره ده چې دوی له اړینو عامه خدماتو لکه ټیکسي او ښاري ټرانسپورټ څخه سمه ګټه نشي اخستلی. ګل چرن وایي: «زموږ حتا لويان نشي کولی په ليني موټرو کې لاړ شي، کوچنیان خو لرې خبره ده. دېر ځورول کوي. کله مو وهي، له ويښتو مو کش کوي او که هیڅ يې هم و نشول کولی، کنځلې راته کوي او وايي خپل هيواد هندوستان ته لاړ شئ». د دوی په وينا، د افغانستان اکثريت ځوان نسل په دې باور دي چې اوسني هندوان او سيکان چې په افغانستان کې ژوند کوي، له هنده دلته مهاجر شوي دي. په داسې حال کې چې د چرن سینګ په وینا پخواني نسلونه يو څه روښانفکره ؤ او پوهېدل چې دوی د افغانستان اصلي اوسيدونکي دي. ګل چرن په داسې حال کې چې د دوکان د مېز تر شا ناست دی، د دوکان له دروازې بهر ګوري، اوږده ساه اخلي او وايي: «ټولې ستونزې يوې خوا؛ دا چې نشې کولی ښوونځی ولولې، دا چې نشې کولی آزاد تګ را تګ وکړې، دا چې له کوم جرم پرته دې نږدې کسان وژني، دا ټول يوې خوا. خو دا چې په خپل هيواد کې پردی اوسې او درته ووايي چې څه وخت خپل هيواد ته ځې، د انسان زړه او ځيګر لمبه کيږي.»

## موږ اړیستل شو چې لس کاله ګناه وکړو

کولدیپ کور، پنځوس کاله مخکې په کابل کې دنیا ته سترګې غړولي. هغې ته د افغانستان د تاریخ لوړې ژورې ټکي په ټکي ور یادې دي؛ له داخلي جنګونو او د مجاهدینو له دورې د طالبانو تر تورې دورې پورې: «په جنګ کې لوی شوو، او اوس خپل ماشومان په جنګ کې لویوو؛ د ټولو حکومتونو دوران تېر شو او حاکمان تر خاورو لاندې شول، خو هغه څه چې پای ته و نه رسېد او هیڅ وخت تر خاورو لاندې نشو، جنګ دی.» خپل خړ رنګه ټیکری یې د مسلمانو هیوادوالو غوندې پر سر کړی و. د افغانستان په سنتي او مسلمانه ټولنه کې پنځوس کاله ژوند ترې داسې څوک جوړه کړې، چې نور حتا د خپل لباس په انتخاب کې واک و نه لري. د افغانستان په څېر اسلامي ټولنې لپاره، که دین او آیین هر څه وي؛ خو ټیکری جبري دی.

د کابل شوربازار تل د کلدیپ کور لپاره یو خوندي کور نه و. . د افغانستان د نورو هندو اوس سیک کورنیو په څېر چې نورو هیوادونو ته مهاجر شوي دي، درې ځل له خپلې کورنۍ سره یو ځای هند ته ولاړه، خو چې حالات به لږ ښه شول بېرته به کابل ته ستنه شوه. د دې په وینا، دا ځل شاید نور بېرته د راستنېدلو اړتیا نه وي. وایي تقریباً ټول خپلوان او نږدې کسان یې اوس په افغانستان کې نشته او د تل لپاره یې دا هیواد پرېښی دی. د مېرمن کور په وینا، د هم‌مذهبو ژوند یې د طالبانو په دوره کې له اوس دورې ښه و. هغه وایي چې

د طالبانو د حاکمیت پر مهال د درې زرو په شمېر هندو او سیک کورنیو په افغانستان کې ژوند کاوه: «طالبانو یوائځنۍ اجباري کار چې پر موږ وکړ دا و چې موږ یې مجبور کړو، زیړ لباسونه واغوندو چې له افغان مسلمانو ورونو سره مو توپیر وشي.»

د موقت حکومت په پیل سره د ۲۰۰۱ میلادي کال په وروستیو کې، که څه هم چې دولت له هندو اوسیک مهاجرو وغوښتل چې افغانستان ته ستانه شي، خو د دې ډلې مهاجرتونه له افغانستانه بېرته پیل شول او زیات شول. اوس د اهل هندودو او سیکانو ډېرې کمې کورنۍ چې شمېر یې ۱۰۰ تنو ته هم نه رسیږي، یوائځې په کابل، غزني او ننګرهار ولایتونو کې ژوند کوي. خوست، پروان، کندهار، لغمان او هلمند ولایتونه چې یو وخت پکې لسګونه هندو او سیک کورنۍ اوسېدې، اوس د دوی له حضوره خالي شوي دي. د افغانستان ډېر هندوان او سیکان هند او اروپایي هیوادونو ته مهاجر شوي دي.

په نورو سیمو کې د زمکې غصب، فقر او ځورونه د دې سبب شوې چې د کولدیپ کور د کورنۍ په څېر لسګونه کورنۍ خپل ژوند کلونه کلونه د کابل په درمسالونو کې تېر کړي. د افغانستان د دې مذهبي اقلیت یو تر ټولو لوی درمسال د کابل په کارت پروان کې دی؛ هغه درمسال چې پینځه اتیا کاله پخوانی دی. اوس په بېلابېلو ولایتونو کې شل درمسالونه د دوی په واک کې دي، او د څلوېښتو په شمېر درمسالونه یې یا د ځینو له خوا غصب شوي دي او یا هم له منځه وړل شوي؛ هغه درمسالونه چې سلګونه کلونه پخواني ؤ.

د افغانستان په کابل کې په ځینو درمسالونو یا د هندوانو او سیکانو په عبادت‌خونو کې، د یو بل په خوا کې لسګونه خونې جوړې شوې دي. دا خونې د هغو مسافرو لپاره جوړې شوې دي چې د کم وخت لپاره پکې و اوسیږي. خو اوس څو بې سرپناه کورنۍ په دې ځای کې تقریباً دایمي اقامت لري؛ هغه څه چې د دوی مذهب یې روا نه ګڼي. کولدیپ کور لس کاله له دوو ځوانو زامنو او خاوند سره یوځای د درمسال په یوه خونه کې ژوند کړی. د سرپناه پیدا کول او د دوو ځوانو زامنو لپاره د ودونو کول یې هغه هیلې دي چې کلونه یې په سر کې ګرځي. وایي چې اوس کورنۍ کمې شوې دي او ډېری یې بهر ته تللې دي، تر تېرو شپږو میاشتو هم دلته لسګونو کورنیو په درمسال کې ژوند کاوه: «دا چې په

درمسال کې مو ژوند کاوه، دا زموږ په مذهب کې ګناه ده. خو بله چاره مو نه درلوده او لس کاله موږ دا ګناه کړې ده.»







## کاش مورې هم کولای شوای لویې هیلې ولرو

ګوردیپ سینګ په ۱۹۹۶/۱۳۷۵ کال کې د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد کې زیږېدلی. د. نوییم کلونه د افغان سیکانو او هندوانو لپاره تر ټولو بد کلونه ؤ. د ګوردیپ په وینا د دوی لپاره هغه وخت د خوشبختۍ دی چې ځان، مال او ناموس یې له یو شمېر «جاهلو انسانانو» څخه په امان وي.

د افغانستان له سیکانو او هندوانو سره د مرکو په بهیر کې مې یو ټکی د ټولو د خبرو تر منځ مشترک وموند؛ دا چې دوی هیڅ وخت د افغانستان نه دي ګڼل شوي. حتا تر ټولو نږدې مسلمانو ملګرو یې ورته ویلي دي چې څه وخت هند ته ځې. د ګوردیپ سینګ د ماشومتوب وخت ظاهراً ښه تېر شوی او هغه وخت ښه یادوي. که څه هم هغه ډېر ځل د خپلو مسلمانو هیوادوالو له خوا کنایې او توهین اورېدلی دی؛ خو نور یې نېش او کنایو سره ځان بلد کړی او نه غواړي د ژوند د بدې خاطرې په توګه یې یاد کړي. شاید نور یې د نېشونو او کنایو پر وړاندې حساسیت له لاسه ورکړی.

د ګوردیپ سینګ د کورنۍ غړي له ټولو ستونزو سره سره هغه ښوونځي ته لیږي. ۱۳۸۱ کال په ښوونځي کې داخلیږي او له دولس کلونو وروسته د جلال آباد د عبدالوکیل لیسې څخه فارغیږي. د هغې کورنۍ لپاره د ژوند کړۍ ورځ په ورځ تنګیږي چې خپل زوی د روښانه راتلونکي په هیله ښوونځي ته لیږي؛ اوس نوللس کاله وروسته ټوله کورنۍ یوځای نه اوسیږي. یوازې ګوردیپ سینګ له مور او خور سره په جلال آباد ښار کې پاتې دي. د کورنۍ نور غړي یې ټول د وطن پرېښودو ته اړ شوي.

د ګوردیپ سینګ په وینا په جلال آباد ښار کې پر دې مذهبي اقلیت د ۲۰۱۸ کال له برید مخکې؛ د سیکانو او هندوانو نفوس په ننګرهار کې له ۳۰۰ کورنیو زیات و. خو اوس په جلال آباد ښار کې له ۱۰ تر ۱۲ کورنۍ پاتې دي. د جلال آباد د هندو او سیک مذهبي اقلیتونو په مهاجرت سره ډېری کورنۍ له یو بله بېلې شوې دي او له یو بل څخه لرې ژوند تجربه کوي. د دوی دا هیله چې بیا به وتوانیږي په افغانستان کې واوسیږي د ورځې په تېرېدو سر مړاوې کیږي.

ګوردیپ د لسګونو جلال آبادي سیکانو او هندوانو مثال دی چې د کورنۍ له غړو څخه بېل په جلال آباد کې پاتې دي. هغه چې په خبرو کې افغانستان او ننګرهار د مور په توګه یادوي، وایي چې ډېر ځل هند ته تللی. د هغه په وینا نشي کولای هلته لاړ نه شي؛ ځکه ډېری دوستان او اشنایان یې هلته تللي؛ خو سره له دې چې کله هلته ؤ، زړه یې د افغانستان پسې خپه و: «زه همدلته پیدا شوی او لوی شوی یم. وطن او خاوره مې د وجود برخه ده. هیڅ ځای د خپل وطن هومره راته ګران نه دی. که هر چېرته لاړ شم، بیا به مې

هم زړه په خپل وطن پسې خپه وي.» د ګوردیپ سینګ په وینا د افغانستان سیکان د هیڅ ډلې سیاسي مخالف نه دي؛ خو په څو وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د دې مذهبي اقلیت پر ضد تر ټولو خطرناک بریدونه ترسره شوي دي. د هغه په باور دا مساله ښيي، ځینې کسان د افغانستان د سیکانو او هندوانو خلاف دي چې ممکن له هر فرصت څخه په استفادې برید پرې وکړي؛ هغه موضوع چې د ګوردیپ سینګ او د افغانستان د نورو سیکانو او هندوانو ارامتیا یې ترې اخستې ده.

ګوردیپ سینګ په خبرو کې د خپلې پخوانۍ هیلې کیسه راته کوي چې له ماشومتوبه تر اوسه ورسره ده. له نظامي ځواکونو سره یوځای کېدل او د نظام په چوکاټ کې خدمت د ګوردیپ یوه هیله ده. هغه په داسې حال کې غوارې د هیواد د نظامیانو په ډله کې وي او دې خاورې ته خدمت وکړي چې په خپله وینا یې ټول هممذهبه یې شپه او ورځ په وېره کې تېروي: «خوښېده مې او خوښیږي مې چې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې اوسم، خو پوهېږې چې دا هیله زما لپاره د یو سیک تبعه په توګه د خوب په څېر ده او هیڅ امکان نه لري.».



## فتوا يې ورکړه؛ مسجد سره نږدې د هر هندو کور باید وسوځول شي

د جمعې ورځ ده او منور سینګ د نورو ورځو برعکس کم پېرودونکي لري. شاوخوا یې دېرى دوکانونه تړلي دي او د ماسپښین په نږدې کېدو سره، ټول ورته د جمعې د لمانځه ست کوي. د منور سینګ ځواب ساده دی؛ خدای دې قبول کړي، موږ ته هم دعا وکړئ.

د جمعې د لمانځه د خطبې په پیلیدو سره، منور سینګ د هرې جمعې ورځې په څېر د خپل دوکان تر څېرې لاندې پر لرګینې چوکۍ تکیه وهي. په داسې حال کې چې ممیز او نخود له جیبه وباسي او یو یو خولې ته اچوي، خپل حلق هم د هغه لوښي په اوبو لمدوي چې په خوا کې یې ایښی دی. د جلال آباد د اوړي سخته ګرمي د دې سبب شوې چې سینګ خپل ځان ته وړوکی مشک جوړ کړي، چې د نورو لوښو په نسبت اوبه دېرې یخې وساتي.

منور سینګ د جمعې لمانځه د خطبې اورېدو لپاره په انتظار و، خو د هرې جمعې ورځې پرخلاف، له مسجد څخه د خطبې غږ نه اورېدل کېږي. پاڅېږي چې د غرمې لپاره خواړه تیار کړي. هغه په داسې حال کې چې په هرکاره کې رومیان وروي، فکر یې د جمعې د لمانځه په خطبه کې بند دی، چې ولې یې غږ له لاسپیکر څخه خپور نه شو. د هغه اندېښنه پر ځای وه؛ ځکه هره جمعه چې تېرېده، د ممبر خطبې لا سختېدې. هغه د

غیر مسلمو هیوادوالو پر وړاندې د منبر له دې سخت دریځو روایتونو څخه وېرېدلو.

هګکۍ چې د خوړلو لپاره تیارې شوې، منور سینګ د غرمې دسترخوان وغوړاوه او له هرکارې څخه د بخار تر کمېدو پورې، روان شو چې له دوکان سره نږدې نانوايي نه ډوډۍ واخلي. د ډوډۍ په اخستلو سره يې د نانوايي له شاګرد څخه د جمعې لمونځ د خطبې د غږ نه خپرېدو په اړه پوښتنه وکړه. منور سینګ په داسې حال کې چې د غرمې ډوډۍ ته ناست دی، خو اندېښمن دی. د نانوايي د شاګرد خبرو باندې فکر کوي: «پلار مې لمونځ ته له تلو وړاندې ویل چې نن ورځ د جمعې په لمانځه کې مهمه پرېکړه کیږي، او هغه باید خامخا ورشي. زما په نظر شاید د مسجد لاسپیکرونه به يې هم له همدې امله نه وي لګولي.»

د جمعې له خطبو څخه د منور سینګ اندېښنه هغه وخت زیاته شوه چې جرندل، د مسجد ملاامام شوی و. منور چې د مسجد مخامخ نږدې دوکان درلود، د جرندل خطبې يې هره جمعه څارلې؛ په دې خاطر نه چې لېوالتیا يې درلوده، بلکې په دې خاطر چې د هغه هره خطبه هغه ذهر ؤ چې د لمونځ کوونکو په بدن کې تزریقیدل. د شیعه او سني او مسمان او غیر مسلمان مسایل د دې ملاامام تاوده بحثونه ؤ. جرندل له هغو مهاجرو څخه و چې خپل دیني درسونه يې د پاکستان په یوه مدرسه کې لوستي ؤ. د تېرې جمعې د لمانځه د خطبې لنډیز يې دا و: «که د مسجد ګاونډی هندو وي، د هغو ټولو خلکو لمونځونه چې په هغې مسجد کې ګډون کوي، نه قبلیږي».

منور سینګ د غرمې ډوډۍ ته ناست او دوه درې نوړۍ يې لا نه وې پورته کړې چې د «الله اکبر، الله اکبر» لوړ غږونه له مسجده پورته شول، ټول په نعرو سره بهر راووتل او د هندوانو د درمسال پر لور يې هجوم ور ووړ، چې د مسجد په څو قدمۍ کې و. سینګ وايي چې له دې مخکې يې هغوی ټول پېژندل، ډېری يې د دوکان ګاونډیان ؤ، تجاري مراودات يې درلودل، خو هغه ورځ یو هم له روحي نظره آشنا نه و. د سینګ په وینا؛ هیڅوک خپله نه و، لکه د هغه نقاب تر شا چې پټ شوي وي، کوم چې «جرندل» ورته جوړ کړی و. ټولو خپل سرونه تړلي ؤ او د هغې دلې په څېر ښکارېدل چې د وحشت دارو يې ورته تزریق کړي وي: «چیغې يې وهلې چې اور ورته اچوو.»

منور سینګ له هغې پېښې وروسته، یو څلوېښت کاله کیږي چې له خپل هیواده لرې

دی او جرات یې و نشو کړی خپل وطن ته ستون شي. هغه پېښه چې په ۱۹۶۹ کې په جلال آباد کې پر ده او د ده پر قومیانو پېښه شوه، د ده او یو شمېر نورو هندوانو او سیکانو لپاره یې ژوند تریخ کړ او بالاخره د دې ښار پرېښودو ته اړ شول. «له هغې پېښې وروسته، زموږ مشران د ننګرهار والي ته ورغلل چې په دې مورد عدالت وکړي. د هغه وخت والي دین محمد خان و. له هغې مخکې هم د ننګرهار امنیه قوماندان و. هغه زمونږ شکایت ته رسیدګي و نه کړه او و یې ویل چې داسې پېښې پېښیږي. زمونږ استازي ته یې وویل چې تا ته پکار ده د درمسال ساتنه وکړې او زه چې مسلمان یم باید د مسجد ساتنه وکړم.» منور سینګ وایي چې د والي دې خبرو د «ځورووونکو» لاس نور هم خلاص کړ. بله ورځ هغوی له مسجد سره نږدې د دلیپ سینګ او نورو سیکانو کورونه رنګ کړل، او هندوانو او او سیکانو یې د مخنیوي لپاره هیڅ نه شول کولی.

منور چې اوس یواویا کلن دی او له هنده مونږ سره د وټساپ له لارې وصل دی؛ په لړزیدلي غږ خپلې خبرې داسې پای ته رسوي: «د چا خپل وطن سره مینه نشته. باور وکړئ کله چې موږ جلال آباد پرېښود، یو فیصد مو هم نه غوښتل چې خپل هیواد پریږدو. خو هر څه زمونږ خلاف شوي ؤ، او هیڅ ملاتړ مو نه درلود. د مسجد ملا امام نه یواځې زمونږ د کورونو د سوځولو فتوا ورکړې وه، بلکې ویلې یې ؤ چې هیڅ مسلمان باید له هندو او سیک سره راشه درشه و نه لري او پېر او پلور ورسره و نه کړي.»





## «د طالبانو تر شکنجې لاندې مې مرګ حس کړ»

نیدان سینګ ساچدیوا د ۲۰۲۰ کال د جون په ۲۲ مه د څلورو نامعلومو وسله والو له خوا د پکتیا په څمکنۍ ولسوالۍ کې د سیکانو له یوې عبادت‌خونې یو نامعلوم ځای ته انتقال شو. هغه د پکتیا په ختیځ کې د دې مذهبي عبادت‌خونې د ترمیم او ساتنې مسوول و، چې دې ولایت ته د راستنېدو یې یوازې درې میاشتې کېدلې. د نیدان سینګ په وینا هغه د هند د «جاسوسۍ» په جرم تښتول شوی و: «هغوی ویل چې زه د هند د استخباراتو له سازمان سره همکاري لرم او څو شپې ورځې یې په ډېر غیرانساني ډول شکنجه او ووهلم، خو کله چې پوه شول چې زه جاسوس نه یم، خوشې یې کړم.» هغه خپله آزادي د امنیتي ځواکونو د هڅو او د څمکنیو ولسوالۍ د مخورو او څه اندازه د هند لومړي وزیر ته د ده د خلاصولو لپاره د ده د مېرمنې د لیک له برکته ګڼي.

مېرمنې یې د جون پر ۲۵ مه ښاغلي مودي ته د لیک په لیکلو له هغه څخه د مرستې غوښتنه کړې وه. هغې په لیک کې لیکلي ؤ: «پکتیا د طالبانو یو مرکز دی او په تېر مهال

کې د حقاني شبکې د جنګیالیو امن پټنځای و... مور پوهېږو چې ممکن یوې جنګیالۍ ډلې هغه تښتولی وي.» په لیک کې تاکید شوی و چې سیکان او په افغانستان کې مېشت اقلیتونه له سخت قساوت سره مخامخ دي او د ساتنې لپاره یې هیڅ تضمین نشته.

جاسمیت سینګ، د ساچدوا زوی له هندي رسنیو سره په مرکه کې وویل: «مور غواړو هغه ژر تر ژره دهلي ته ولېږدول شي. یوه ویډیو چې مور ترلاسه کړه پکې ښکاري چې پلار مې بندي او تر شکنجې لاندې دی.»

د پکتیا د څمکنیو ولسوال د نیدان سینګ د خوشې کېدو له اعلان وروسته وویل چې دوی لومړی د ځمکې پر غاصبانو شکمن شوي ؤ چې نیدان سینګ یې تښتولی، خو په دې قضیه کې د پینځو تنو له نیولو وروسته ډاډه شول چې نیدان د طالبانو له خوا تښتول شوی و. په ۱۹۹۰ کال کې نیدان سچدیوا هند ته مهاجر شو او اوس له هند څخه د تابعیت د ترلاسه کولو په شرایطو برابر دی. د هند دولت ویلي چې که هغه د هند د تابعیت غوښتنه وکړي، دولت یې دا غوښتنه ارزوي.

د هند د بهرنیو چارو وزارت د نیدان سچادوا له خوشې کېدو وروسته، د یوې خبرپاڼې په خپرولو د «تروریستانو له خوا د هغوی د بهرنیو ملاترو په امر» په افغانستان کې د سیک او هندو اقلیتونو د غړو پر ځورولو خواشیني وښوده. د هند د بهرنیو چارو وزارت اعلان کړه چې دې هیواد په وروستیو کې تصمیم نیولی چې په افغانستان کې هغه د هندو او سیک ټولنې غړي چې له امنیتي تهدیدونو سره مخامخ دي، هند ته یې په تګ کې اسانتیا راولي.

اوس د نیدان سینګ ساچدوا د تښتولو پوره یو کال تیر شوی. هغه چې اوس د ډېرې مودې په ویزه له خپلې کورنۍ سره په هند کې ژوند کوي، هغه شکنجې چې یو کال وړاندې یې د طالبانو له خوا لیدلې دي، لا یې هم ځوروي. نیدان که څه هم نه غواړي هغه ترخې خاطرې رایادې کړي، خو له لږ دمې وروسته یې وویل: «ډېر ظالم انسانان ؤ، اصلاً باید ورته انسان و نه ویل شي. څو شپې ورځې یې زه ووهلم، یواځې وهل نه ؤ، زه یې د مرمۍ مخې ته کېنولم او ویل به یې چې اعتراف وکړه او له هر ډز سره چې کاوه یې، ما په ټول وجود مرګ حس کاوه.»

## هرچا ته خپل وطن کشمیر دی

هرندر سینګ د اویایمو کلونو په نیمايي کې د سردار محمد داودخان د حکومت پر مهال، کله چې یې د هیواد وضعیت خراب شو، هند ته مهاجر شو. له پینځه ویشت کلونو یې ډېر هلته تېر کړل؛ د ژوند څرخ یې تاو کړ او ځان ته یې یو کاروبار جوړ کړ. له یوې هندۍ نجلۍ سره یې واده وکړ او په وینا یې د ډېرو اولادونو خاوند شو.

هرندر چې کله هند ته ولاړ، د ځوانۍ په عمر و، خو په دویم هیواد کې پینځه ویشت کاله ژوند له هغه یو هندی جوړ کړ؛ نور یې د خپل هیواد ژبې ـفارسي او پښتو– له یاده ویستې دي چې په خپل هیواد کې یې پرې رواني خبرې کولې. په وینا یې د خوراک لپاره یې یوه نورۍ ډوډۍ او د ژوند لپاره یې یوه جونګړه درلوده. کله چې یې لور نوې خبرې کولې او خبرې یې د شاتو غوندې خوږې وې، غوښتل یې فارسي الفبا هم ور زده کړي؛ خو لږ فارسي سواد یې چې درلود، هغه یې هم هېر شوی و. هغه حتا افغاني فرهنګ هېر کړی و چې خپلې لور ته یې وښیي. یواځنی څیز چې له خپل هیواده له هرندر سره پاتې و او هره ورځ زیاتېده، هغه مینه وه چې هغه له خپل وطن سره یې درلوده. هر څومره چې ډېر کلونه تېرېدل هغه په خپل هیواد پسې لا خپه کېده: «مېرمن مې هندۍ ده، خو ما هیڅکله تابعیت وانخیست. پینځه ویشت کاله تېر شول، هیڅ کال نه و چې په بېرته ستنېدو مې فکر نه وي کړی. ډېرو ویل چې تابعیت واخلم، خو وا مې نخیست؛ ځکه تل مې هیله درلوده

چې یوه ورځ به وکولی شم هیواد ته ستون شم.»

په افغانستان کې د طالبانو د حاکمیت له سقوط وروسته او د نوي دولت په راتلو سره، د افغانانو په زړونو کې امیدونه ژوندي شول او یو سوله ییز ژوند ته هیله من شول. هرندر چې د خپل هیواد د وضعیت ښه کېدو ته یې شېبې شمېرلې او کلونه د داسې ورځې په انتظار و، له لسګونو کورنیو سره روان شول او خپل هیواد ته ستون شو: «د کرزي دوره کې ډېره پراخي وه. کاروبار ښه و او هر چا سره پیسې وې. د چا ټنډه دې تروه نه لیده او هر چا په پراخه سینه چلند کاوه.»

هرندر اوس له ۲۰ کلونو زیات وخت کیږي چې د خپل هیواد په غېږه کې دی. د زیږیدو په ځای-د کابل شوربازار-کې د عطارۍ دوکان لري. د امنیتي شرایطو په سختېدو سره یې کورنۍ هند ته انتقال کړې ده، خو خپله اوس هم په اوږدمهالې وېزې خپلې کورنۍ ته تګ راتګ کوي. د تابعیت په شرایطو برابر و، خو خپله یې نه غوښت: «کولی شم هندي تابعیت واخلم، خو غوارم افغان پاتې شم، هر وخت په ویزې ځم او په وېزې راځم.» هغه د خپلې کورنۍ د ژوند مصارف د عطارۍ له کوچني دوکان څخه تامینوي او هغه څه چې په لاس راوړي د میاشتې په پای کې یې خپل کور ته هند ته لیږي. د هرندر لور اوس لویه شوې ده او خپل ځان ته یې نوی ژوند جوړ کړی: «لور مې څو میاشتې مخکې د خپل بخت کور ته لاړه؛ زوی مې هلته ښوونځی لولي.»

هرندر د خپلو لسګونو هیوادوالو په څېر د سولې راتلو ته سترګې په لاره دی چې کاروبار یې ښه شي او کورنۍ یې له مهاجرته خلاصه شي. د سولې په راتلو سره یې لومړۍ غوښتنه د پلرنیو ځمکو بېرته اخستل دي. وایي چې د کابل په همدې شوربازار کې یې ځمکه درلوده، کور یې درلود، خو ترې اخستل شوي دي. دوی اوس په کرایي دوکان کې کار کوي او په مذهبي عبادت‌ځای کې ژوند کوي. هغه چې نیم عمر یې له وطنه لرې تېر کړی، نور حاضر نه دی چې کوم هیواد ته کډوال شي. «هیڅ بل ځای دې وطن نه کیږي. وضعیت به پخیر ښه شي. هیڅ هیواد دې خپل هیواد نه کیږي؛ نه هند، نه کاناډا او نه جرمني. دا پښتو متل ډېر پر ځای دی چې وایي؛ هر چا ته خپل وطن کشمیر دی».

## د عمر تر پایه به د ډاکټر کېدو ارمان کوم

ویکي او ورور یې راج د افغانستان د سلګونو هندو او سیک هیوادوالو په څېر د اقتصادي شرایطو او مالي ستونزو له امله نه دي توانېدلي خپل درس ته دوام ورکړي او پوهنتون کې شامل شي. ویکي شپږویشت کاله عمر لري او د کابل په تایمني کې زېږېدلی. هغه په اته تنه درلودنکې کورنۍ کې ژوند کوي چې یواځې دا او راج پکې له دولسم ټولګي فارغ دي. وړوکی ورور یې سورپال سینګ هم د ټولګیوالو او شاوخوا خلکو د ځورونو له امله نه دی توانېدلی له اووم ټولګي زیات درس ولولي. خور یې جسمیت کور هم تر څلورم ټولګي وروسته ښوونځی پرېښی. ډېری کورنۍ خپل هلکان اولادونه په اووه کلنۍ، اته کلنۍ کې کار ته لیږي. په یو شمېر کورنیو کې مالي ستونزې د سیک او اهل هنودو زدکوونکو د ښوونځي د پرېښودو تر ټولو مهم دلیل دی.

د دې بدو اقتصادي شرایطو تر څنګ، کلامي او فزیکي مزاحمت او ځورونې هم سیک او اهل هنود زدکوونکي د ښوونځي پرېښودو ته اړباسي. ویکي سره له دې چې نه غواړي د خپل ماشومتوب او د ښوونځي د دورې ځوروونکې خاطرې ووایي، خو د یو څه په ویلو سره یې په ښکاره د څېرې رنګ او حالت بدلیږي: «کله چې وړوکی وم ماشومانو ځورولم. مجبور شوم له درېیم تر اتم ټولګي پورې په خصوصي ښوونځیو کې درس ووایم. ما ته یې کچالو ویل، هندو یې ویل. په رومیانو یې ویشتلم. موږ سیکان یوو، هندوان نه

یوو.» د سیک او اهل هنودو د ټولنې ډېری نارینه په دوکانونو کې بوخت دي او ډېر کم؛ شاید دوه درې تنه یې د دولت کارمندان او مامورین دي. ویکي چې ځوږبی دی او پر فارسي، انګلیسي، فرانسوي، اردو، پنجابي، هندي او بنګالي ژبو تسلط لري، تر اوسه نه په اداري کار پسې ګرځېدلی او نه یې په فکر کې دی: «پوهېږم کار له رشوت او میلمستیا پرته نه پیدا کیږي.» هغه له یو کال زیات کیږي چې واده یې کړی.

ویکي او ورور یې راج غوښتل یوه ورځ کور ته خبر راوړي چې دوی له ۱۲ کلونو سختۍ وروسته بالاخره بریالي شوي دي. نه یوازې خپله چې پلار او مور یې هم غوښتل دا پېښه یې د بچیو په ژوند کې پېښه شي. له څه وخته چې دوی د کابل د استقلال ښوونځي زده‌کوونکي شول، پلار یې غوښتل چې ویکي د ډاکټرۍ په چپنه کې وګوري او راج د انجنیرۍ په خولۍ کې. خو اوس یې له ښوونځي د فارغېدو لس کاله تیرېږي، او تر اوسه د ژوند څرخ داسې تاو شوی چې نه دوی خپلو هیلو ته رسیدلي او نه یې پلار او مور دا د خوشحالۍ خبر اورېدلی. د افغانستان د سیک او اهل هنودو په ټولنه کې د هغو زده‌کوونکو ګراف صفر دی، چې وکولی شي پوهنتون ته لاړ ومومي او یا لوړې زده‌کړې ولري. ډېری یې حتا دولسم ټولګی هم نه دی خلاص کړی. ډېرو یې تر شپږم یا اووم ټولګي درس ویلی.

ویکي او ورور یې راج دواړه له ګڼو ربړو او قوي اندامونو سره د سهار له اذانه د شپې تر تورتم پورې، د سیمساري او درمل پلورنې د دوکانونو د مېزونو تر شا کار کوي. که څه هم ویکي او راج نور د پرون هغه ویریدلي واړه ماشومان نه دي، چې کوڅې او سړک ته به ووتل نورو ماشومانو به یې په ځورولو پیل وکړ، خو بیا هم د نه چندان هیله منې راتلونکې له وېرې یې د خوښۍ او به تر ستونې نه تیرېږي. نور یې منلې ده چې د ډاکټر او انجنیر کېدو ارمان به همداسې د ژوند تر پایه ورسره وي. ویکي په ژور اسویلي او حسرت سره چې په زړه کې یې لري، وایي: «ډېره سخته ده، چې وینم د ښوونځي ټولګیوال مې ټول له پوهنتونه فارغ شوي دي او ډېری یې دندې لري؛ یو ډاکټر شوی، بل انجنیر او هر یو یې د درجې او مقام خاوندان دي، خو زه د پلار د دوکان د مېز تر شا د مشتري په انتظار یم، دا مې ځوروي.»





د عتر سینګ د تدفین له مراسمو وروسته، د سیمې مشران او خانان راټولیږي او تصمیم نیسي چې د عتر سینګ د قاتل حکیم جان کور ته ورشي، او د عترسینګ د وژلو دلیل معلوم کړي. انجان سینګ په داسې حال کې چې د ټلفون پر لیکه یې ستونی غریو نیولی معلومیږي، وایي، کله چې مشران د قاتل کور ته ورځي، دردوونکی ځواب اوري؛ د حکیم جان پلار د سیمې مشرانو ته وویل: «څه یو هندو، څه یوه مرغۍ؛ څه فرق کوي». د سیمې مشران په دې خبره نهیلي کیږي.

Porsesh Research & Studies Organization